

# څېړنه او تنقید

لعل بادشاه خیالی

# ځېړنه او تنقید

لعل بادشاه خیالي

## حقونه محفوظ دي

د کتاب نوم : خېړنه او تنقید

لیکونکے : لعل بادشاه خیالي

رابطه نمبر : 0312-8182613

داشاعت کال: جنوري 2017

شمېر: 1000

قیمت: 400 روپۍ

کمپوزنګ : سنګرپبلي کېشنز، حمبل مارکیټ رېلوے لائن نوې اډه مردان، سلیم ناشاد 0346-9327068

طباعت : اعراف پرنټنګ، محله جنګي پېښور

## خورونکي

دادبي دوستانو مرکه مردان

د پښتو نوې ادبي ټولنه مردان

د پښتو لیکونکي مردان

# ټرون

د زلمي محقق، افسانه نګار او ښه شاعر

## نورالرحمان سحر

په نوم

www.pukhto.net

# ډالۍ

د ادبي دوستانو مرکه مردان
ټولو ملګريو ته
ډالۍ

www.pukhto.net

# فهرست


| شمېره | سرخط | مخ |
|---|---|---|
| 1 | ښېړنه او تنقيد | 7 |
| 2 | عبدالاکبرخان اکبر او خدائي خدمتګار ډرامه "يوه مطالعه" | 10 |
| 3 | د عبدالخالق خليق ډرامه "شهيده سکينه" د خپلو کردارونو په رڼا کښې | 16 |
| 4 | د سيد رسول رسا ناول "خودکشي" "يوه مطالعه" | 24 |
| 5 | ناول او د حسينه ګل "ملکه" نفسياتي مطالعه | 31 |
| 6 | پښتو متل د روښانيانو په شاعرۍ کښې | 38 |
| 7 | د خوشحال بابا په شاعرۍ کښې متلونه او محاورې | 48 |
| 8 | اولسي ادب کښې په ټپه او تلميح د متلونو اثر | 55 |
| 9 | "متل او ټپه" | 63 |
| 10 | ټپه او ټپه ايزه | 68 |
| 11 | د ښاغلي نورالرحمٰن سحر د "ډولۍ" يوه مطالعه | 74 |
| 12 | د سحر شور | 87 |
| 13 | له پېښوره تر سپين غره | 95 |
| 14 | د ډاکټر عبدالرؤف عارف "ګمان" | 105 |
| 15 | ادراک د ژوند او جانان | 111 |
| 16 | کلام | 118 |
| 17 | "له مانه مهٔ بيلېږه" | 125 |


www.pukhto.net

| | | |
|---|---|---|
| 18 | پښتانۀ محبتونه | 132 |
| 19 | د امېدونو ډيوه | 138 |
| 20 | زولنې او پېنزېبونه | 144 |
| 21 | مور | 152 |
| 22 | سکوندارې | 156 |
| 23 | ستړے کاروان | 163 |
| 24 | د ژوبل احساس څريکې | 169 |
| 25 | ژوندي عکسونه | 175 |
| 26 | زۀ او ساحل ــ دوه ګامه وروستو، دوه ګامه وړاندې | 180 |
| 27 | ستوري | 184 |
| 28 | تړے نظر | 187 |
| 29 | تنکي ارمانونه | 190 |
| 30 | ژوندے شاعر | 198 |
| 31 | هاغه انور يمه خو اوس د پېژندو وتے يم | 204 |
| 32 | زۀ او رضوان | 209 |
| 33 | نورالرحمٰن دراني | 212 |
| 34 | محمود ــ يو زلمے شاعر | 216 |
| 35 | خيال ـ يو کم عمره شاعر | 219 |
| 36 | ما له خندا راغله | 223 |
| 37 | ما له خندا راغله | 227 |
| 38 | کتابونه | 231 |
| 39 | پېژندګليو | 237 |

# ځېړنه او تنقید

داکتاب "ځېړنه او تنقید" زما د يو څو مقالو، تبصرو او مضمونونو مجموعه ده، چې د کال ۱۹۹۰ نه تر دې وخته ليکلي شوي دي- ځنې وخت په وخت په ورځپاڼو او رسالو کښې چاپ شوي دي او ځنې ليکونه راسره تراوسه خوندي وو- زما د دې کتاب د چاپ کولو مقصد دا وۀ چې دا ليکونه په کتابي شکل کښې محفوظ او د لوستونکيو لاسونو ته ورسي- نن دا دې زما مقصد پوره شۀ او زما ارمان سرته ورسېدۀ- کتاب ستاسو په وړاندې دے- يقين لرم چې لوستونکي به زما دې کار ته په درنه سترګه وګوري-

د دې کتاب په اولنۍ برخه کښې کۀ يو اړخ ته د ښاغلي عبدالاکبرخان اکبر په ډرامه "خدائي خدمتګار"، د ښاغلي عبدالخالق خليق په ډرامه "شهيده سکينه" رڼا اچولې شوې ده نو بل اړخ ته د دې ډرامو ليکونکيو په ادبي خدماتو هم مختصر بحث شوے دے- زۀ وايم کۀ ګران ډاکټر محمدزبېرحسرت خپل کتاب "تماشې" په ډېره مينه راکړې نۀ وۀ نو د ذکر شويو ډرامو باره کښې به زمامعلومات ډېرنيمګړي وو- د سيد رسول رسا ناول "خودکشي" او دحسينه ګل د ناول "ملکه" مطالعه هم د دې کتاب حصه جوړه شوې ده- په دې کښې د ذکر شويو ناولونو جائزه اخستې شوې ده او د ناول تعريفونه هم راوړے شوي دي- دغه شان د ښاغلي نورالرحمان سحر دافسانو مجموعې "ډولۍ" باندې هم بحث شوے دے- ښاغلي سحر چې د افسانې او خصوصاً د خپلې "ډولۍ" په

حقله کوم معلومات راکړي دي نو زۀ ئې منڼه کوم.
پښتو ادب کښې روښاني تحريک ته ډېر اهميت حاصل دے. د دې دور په شاعرانو کښې ملا ارزاني، مرزا خان انصاري، علي محمد مخلص، دولت لواڼے او کريمداد د ذکر وړ دي. د دې ښاغليو چې څومره د صنعت ارسال المثل نمونې په لاس راغلې وې په هغې بحث شوے دے. دغه رنګه د پښتو د زرين دور د قومي شاعر خوشحال خان خټک په هغه شاعرۍ نۀ صرف بحث شوے دے په کومه کښې چې د متل او محاورې مفهوم راوړے شوے دے بلکې د متل اومحاورې تعريفونه راوړے شوي دي او د دواړو ترمېنځه فرق هم په ګوته شوے دے. پښتو ټپه، متل او تلميح د ستائېنې جوګه دي. پښتو اولسي ادب کښې د دې اثر د چا نه پټ نۀ دے نو ځکه کۀ يو اړخ ته دغه اثرات په ګوته شوي دي نو بل اړخ ته د دې اصنافو پېژنګليو، ضرورت او اهميت هم په ډاګه شوې دے.
پښتو ادب کښې چې څومره هم کتابونه چاپ کېږي نو دا زمونږ په پښتو ژبه نا بلکې د دې ژبې په مونږه ډېر لوے احسان دے چې زمونږ نه د ژبې د خورولو او محفوظ کولو کار اخلي. په دې لړ کښې د نظم او نثر د ځنو کتابونو تنقيدي جائزه اخستې شوې ده. د دې جائزو سره سره د ليکونکيو د کار او زيار ستائېنه په دې غرض شوې ده چې هغوي د خپل تخليق، تحقيق او تنقيد کار نور مخ په وړاندې بوځي. د کتاب په اخري برخه کښې د يو څو ملګريو شاعرانو په ژوند او فن بحث شوے دے. هر څومره کۀ د دې برخې ځېنې ليکونه فني نيمګړتيا لري خو بيا هم په دې خيال شامل کړې شوي دي چې د ورکېدو نه بچ شي، د انصاف تقاضې

سر ته ورسي او د تاریخ حصه جوړه شي- زما د طنز و مزاح "ماله خندا راغله" کم نه کم شپږ مضمونونه وو چې د کال۹۳-۱۹۹۲ دوران کښې لیکلي شوي وو، څلور بې درکه شوي دي، صرف دوه مضمونونه ستاسو په وړاندې دي چې د طنز و مزاح سره سره تنقیدي خواږهٔ هم لري-

د دې کتاب "خبرنه او تنقید" د پاره د ډاکټر شېرزمان سیماب د تاثراتو مننه کوم- ښاغلیو ګل یوسفزي او امېزګل چې د کتاب په سرپاڼه کومه خواري کړې ده هغه هم دمننې جوګه ده- د ښاغلي ساحل یوسفزي مننه کوم چې د پروف ذمه واري ئې سرته ورسوله- د ښاغلیو سلیم ناشاد، ایاز ترکزي او عصمت سوراني د ملګرتیا ستائنه کوم چې د کمپوزنګ او د کتاب د چاپ کولو ذمه واري ئې په خپل سر واخسته- د نېکو خواهشاتو په لړ کښې د ښاغلیونهار اعوان او مصباح الله مصباح سره سره د ادبي دوستانو مرکه مردان د ټولو ملګریو مننه کول په ځان لازمه ګنم چې همېشه د پاره ئې زما ادبي خدماتو ته د قدر په نظر کتلي دي او زهٔ ئې په شا ټپولے یم- په اخره کښې خپل یو شعر لوستونکیو ته ډالی- کوم

لوے غر ته ختل هېڅ نهٔ دي کتل دي ورته ګران
دا ډېرې قافلې خو په راستی- ورسېدې

لعل بادشاه خیالي
خیالي اباد، مردان
۱۳م دسمبر ۲۰۱٦

www.pukhto.net

# عبدالاکبر خان اکبر او خدائي خدمتګار ډرامه "یوه مطالعه"

عبدالاکبر خان اکبر د اګست د میاشتې په ورومبي تاریخ په کال ۱۸۸۹ء سپینه وري، عمر زو چارسده کښې پېدا شوے وۀ او د اکتوبر د میاشتې په یوؤلسم تاریخ (۱۱ / ۱۰ / ۱۹۷۷ء) کښې وفات شوے دے. د پلار نوم ئې عبدالقادر وۀ. د خپل دور ښۀ شاعر او نثر نګار وۀ. د دوي شعري مجموعه د "خوارۀ تراخۀ" په نوم یادېږي. چې یو قامي، انقلابي او اصلاحي رنګ لري. د مولانا روم د مثنوي د رباعیاتو منظومه پښتو ترجمه ئې د قدر وړ ده. د انجمن اصلاح افاغنه او خدائي خدمتګار تحریک د صدارت ذمه واري، ئې هم سرته رسولي دي. د عبدالغفار خان "باچا خان" یو کلک ملګرے وۀ خو دلته مونږه د عبدالاکبر خان صېب د ټول ژوند په هلو ځلو رڼا اچول نۀ غواړو ځکه چې خبره به ډېره اوږده شي. زمونږ مقصد د دوي د مشهورې ډرامې "خدائي خدمتګار" مطالعه کول دي او د دې خبرې لنډ شان وضاحت هم کول چې ډرامه څۀ ته وائي. په ډرامه کښې د پلاټ، موضوع، پس منظر او پېغام څۀ اهمیت دے. د ډرامې دپاره کوم قسم ژبه پکار ده. دا ټولې هغه خبرې دي چې په کومو د یوې معیاري ډرامې اډانه ولاړه وي.

ښاغلے افضل رضا صېب په خپل کتاب "ډرامه" کښې لیکي چې :- "ډرامه د یوناني ژبې ټکي "ډراؤ" نه وتې دے. ډراؤ په یوناني ژبه کښې عمل ته وائي. ډرامه او عمل یو بل سره تړلي

ډيزونـه دي" دوي د يونـاني ژبـې د يـو ليکـوال سيسـر Cicere يـو تعريـف راوړے دے چـې "د ژونـد نقـل، دود دسـتور ، ائينـه او د رښتينوالي يعني د حقيقت عکاسي ته ډرامه وائي[1]"

د يوې معياري ډرامې خصوصيت دادے چې هغه به ديو وطن د تهذيب او ثقافت مطابق وي او دغه ډرامه به د معاشرې د وسېدونکيو د ذهني ارتقاء ذريعه وي . د هغې کردارونه، مکالمې، پلاټ، پسِ منظر به زړۀ راښکونکے وي . ژبه او بيان به ئې ساده او د معاشـرې عکـاس وي، د ښـاغلي اکبـر صـېب ډرامـه "خـدائي خدمتګار" هم د دې خصوصياتو يوه مجموعه ده . لکه څنګه چې د هغوي نورو ډرامو تربور، جونګړه، تعليم جديد او تهذيب شهرت موندلے وۀ، هم دغه رنګه "خدائي خدمتګار" ډرامې ته هم شهرت حاصل شوے وۀ. د دوي دا ټولې ډرامې وخت په وخت د خدائي خدمتګار تحريک په جلسو کښې په سټېج لوبولے شوي دي او خلقو ترې خوند اخستے دے.

خدائي خدمتګار ډرامه په کال ۱۹۳۰ء کښې ليکلے شوې ده او هم په دغه کال په شلم اپريل په اتمانزو چارسده کښې په سټېج لوبولې شوې ده . دا ډرامه په کال ۱۹۳۸ء کښې په اول ځل چاپ شوې هم ده . چې د فخر افغان خان عبدالغفار خان په نوم منسوب شوې ده .

په ډرامه کښې کردارونو ته ډېر لوے اهميت حاصل وي . چې کردارونه ژوندي وي نو ددې په وجه د ډرامې موضوع، پېغام يا سبق ډېره په اسانه پوهه کښې راځي . دغه شان ډرامه کښې ژبې ته هم لوړ مقام حاصل وي . په خدائي خدمتګار ډرامه کښې چې

www.pukhto.net

کومه ژبه استعمال شوې ده او کوم ځاے کښې چې د وخت مناسبت سره ابیات راوړي شوي دي نو هغه هم دستانئې جوګه دي۔ددې ډرامې په اولنې منظر کښې د زمیدار (ودانې) واړهٔ بچې په شلېدلوجامو کښې راوځي۔یو د خپل عاجز حالت قیصه بیانوي او بل ورکوټے مور له د خوشحالۍ زېرے ورکوي۔ددې مکالمې نه پس چې کوم شعرونه وړاندې شوي دي هغه څهٔ په دې ډول دي۔

- نهٔ د استوګنې مو کټ کېږدۍ شته
  نه مو ټوپۍ شته، نهٔ مو څپلۍ شته
  نه مو جامو کښې روغه تنۍ شته
  دور شه زمونږه د ذِلت ژوندہ
  عالم خوشحال وي اختر چې راشي
  زمونږ په کور کښې جوړه ژړا شي
  هغه پوهېږي په چا چې راشي
  تهٔ څهٔ پوهېږې اے دولتمنده

- پنبه به اوشي سپینه خندانه
  کور ته به راوړم زهٔ دانه دانه
  جوار به لوے شي ډاډۍ دپاره
  ښکلي روتو به ئې اے زما جانه
  دنیا به بیا شي په مونږ ودانه
  پنبه به اوشي سپینه خندانه[2]

هر کله چې ودانے زمیدار د عطر چند سېټهـ نه په سود روپۍ اخلي، خپله کوټه ورسره ګانه کوي، سېټهـ ورته وائي چې ځلوښت روپۍ به درکړم او د کال سُود سره به ۱۰۰ روپۍ لیکم، نو ودانے ښهٔ پوهېږي چې ځلوښت روپۍ ډېرې کمې دي او سود پرې زیات دے خو مجبوري وي - سېټهـ ورته روپۍ ورکوي او ودانے ورسره خپله د استوګنې کوټه ګانه کوي او دستخط ورته کوي - د دې باره کښې دا یو څو ابیات د ستائنې جوګه دي -

- مسلمه خواره، خوار زمینداره
فکر لږ وکړه د خدائے د پاره
په سود پر سود کښې لاړې تباه شوې
هر مصیبت دے هم ستا د پاره
الله دې مل شه، ساعت مشکل دے
په درد و غم کښې ډېر بې قراره[3]

په دې ډرامه کښې د پښتو متلونو او محاورو نه هم کار اخستے شوے دے - د څهٔ په وجه چې د ډرامې خوند نور هم یو په دوه شوے دے - د پښتو متلونه دي - نن دے که سبا دے، دا مال د زرغون شاه دے، مطلبي په ختېه اور لګوي او د پښتو محاورې دي چې "په سر کښې ارې ښخېدل، اوبهٔ بلېدل، په ختېه اور لګول او داسې نور متلونه او محاورې دي چې د دې ډرامې ښکلا پرې سېوا شوې ده - یو څو حوالې وړاندې کول ضروري ګڼم -

- ◆ عجیبه عقل دے - په ټوله علاقه کښې هېڅوک هوښیار نهٔ وو - ټول نهٔ پوهېدهٔ - خو مطلبي په ختېه اور لګوي -

www.pukhto.net

- ښـهٔ خورو ښـهٔ څښـُو، زمـا او سـتا پـه سر څـهٔ اري ښـځې دي، تانه چا ماليه غوښتې ده، چا د کوره شړلے يې.
- کهٔ مونږ تعليم يافته نن هم د خپل قام خدمت تـه تيـار نـهٔ شو نو دا ياد ساته "نن دے کـه سبا دے دا مـال د زرغـون شاه دے" په کومـه ونـه چې وېنـهٔ ولګي نـو د هغې څـانګې ژوندی نهٔ شي پاتې کېدے[4].

دښاغلي عبدالاکبرخان اکبر په دې ډرامه کښې د دعوتِ تبليغ برخه هم د ستائنې جوګه ده. لکه د يو ځوان خدائي خدمتګار دا وېنا:-

- مونږ هم د دې قام يُو. دا قام زمونږ دے. زمـا د اول نـه هم دا خيال وهٔ او نن مې خو کلکه اراده وکړه چې خپـل ځـان د خـدا ے پـاک د بـې کـس مخلـوق پـه خـدمتګارو کښـې شـاملوؤم او د حقيقـي مسـلمان پـه شـان د خـدا ے پـه هغـه حکـم عمـل کـوم چې فرمـائيلي ئـې دي چې کُنتُمۡ خَيرَ اُمَّةٍ اُخۡرِجَتۡ لِلنَّاسِ تَاۡمُرُونَ بِاالۡمَعۡرُوۡفِ وَتَنۡهَوۡنَ عَنِ الۡمُنکَرِ" تاسو غوره أمت يئ. مـا د خلق الله د ارام دپـاره پيـدا کـړئ. تاسو بـه خلقو تـه د نېکـو نصيحت کوئ او د بـدی نـه بـه ئـې منع کوئ"
- څهٔ چې رسول کـريم صلعم فرمـائيلي دي. د هغـې تبليـغ کوم او دا نهٔ وايم چې ډاکې کوئ، خزانې لـوټ کـړئ، جنـګ وکـړئ، پـه فرنګيـانو ورمنـده کـړئ، مـونږ خـو خپـل کـور جوړوو[5].

د یوې ښې ډرامې دپاره ضروري ده چې هغه دې د یو قام دپاره د سبق ذریعه وګرځي. چې قام راوېښ شي. خپل ښهٔ او بد وپېژني. په دې ډرامه کښې چې کوم سبق راوړے شوے دے نو دا داسې سبق دے چې را روان نسلونه به ترې هم استفاده کوي. عمل به پرې کوي او نورو ته به هم د عمل کولو درس ورکوي . ددې ډرامې "خدائي خدمتګار" د مطالعې په دوران کښې چې زهٔ کومې نتیجې ته ورسېدم. نو هغه دا ده چې ددې په ذریعه د پښتون قام په روزنه کښې ډېر لوے لاس امداد شوے دے. نن چې د پښتنو د یو والي کوششونه او د پښتو ژبې د ترقۍ دپاره هلې ځلې کېږي نو دا هم د دا قسمه ډرامو اثرات دي چې ټول د پښتوژبې خاوندان ئې محسوسوي. غرض دا چې د موضوع، کردارونو، مکالمو، پلاټ، ماحول او پېش منظر سره هم انصاف شوے دے. په حقیقت کښې دا ډرامه "خدائي خدمتګار" د نوي کُول دپاره یو نهٔ هېرونکے پېغام او سبق دے.

## حوالې


1) محمد افضل رضا، ډرامه، پېښور، یونیورسټي بک اېجنسي، اول ځل، ۱۹۲۵ء، مخ ۷
2) ډاکټر محمد زبېر حسرت، "تماشې" لټون او سمونه، پېښور، عامر پرنټ، پبلشرز، اکتوبر ۲۰۱۴ء، مخ ۳۲
3) همدغه مخ ۴۲
4) همدغه، مخ ۴۵ تا ۴۷
5) همدغه، مخ ۴۷، ۵۰

# د عبدالخالق خليق ډرامه "شهيده سکينه" د خپلو کردارونو په رڼا کښې

ښاغلے عبدالخالق خليق د نوښار مانکي شريف وسېدونکے وۀ. په کال ۱۸۹۵ء کښې د ښاغلي حافظ عبدالحق کره پېدا شوے او په کال ۱۹۷۸ء کښې وفات شوے دے. د خدائي خدمتګار تحريک ملګرے وۀ. د پښتون مجلې په دوېم او درېم دور کښې ئې د مدير خدمات سرته رسولي دي. د هغوي د ډرامې د "شهيده سکينه" سره سره يوه بله ډرامه "خوږ ژوندون" په اول ځل ۱۹۴۱ او په دوېم ځل ۱۹٦۴ء کښې هم په کتابي شکل کښې چاپ شوې ده، د ښاغلي خليق صېب د نثر کتاب "د ازادۍ جنګ" او په منظوم شکل کښې "زۀ او زما زمانه" د ستائنې جوګه دي. د ښاغلي خليق صېب اولنۍ ډرامه "خدائي خدمتګار" په سټېج لوبولې شوې ده خو په کتابي شکل کښې لاتراوسه نۀ ده راغلې.

د ښاغلي خليق صېب "شهيده سکينه" په اول ځل ۱۹۳۵ء په دوېم ځل ۱۹۴۵ء او په درېم ځل ۱۹۵۴ء کښې چاپ شوې ده او زما د ليک مقصد هم د دې ډرامې د کردارونو مختصر شان مطالعه کول دي خو د دې نه وړاندې ځان په دې خبره هم پوهول ضروري دي چې ډرامه څۀ ته وائي؟ په يوه ډرامه کښې د پلاټ،

موضوع، پسِ منظر او پېغام څۀ اهميت دے او د ډرامې د پاره کوم قسم ژبه پکار ده۔

ښاغلے افضل رضا صېب په خپل کتاب "ډرامه" کښې ليکي چې "ډرامه د يونانی ژبې ټکي "ډراؤ" نه وتے دے، ډراؤ په يونانی ژبه کښې عمل ته وائي۔ ډرامه او عمل يو بل سره تړلي څيزونه دي۔ دوي د يونانی ژبې د يو ليکوال سيسر (Cicere) يو تعريف راوړے دے چې "د ژوند عمل، دود، دستور، آئينه او د رښتونوالي يعني د حقيقت عکاسی ته ډرامه وائي"(۱) نو څکه مونږ دا وئيلي شو چې يوه معياري ډرامه به د يو وطن د تهذيب مطابق وي دغه ډرامه به د معاشرې د وسېدونکيو د ذهني ارتقا ذريعه وي۔ د هغې کردارونه، مکالمې، پلاټ او پس منظر به زړۀ راښکونکے وي، ژبه او بيان به ئې ساده او د معاشرې عکاس وي او زۀ دا خبره په دعویٰ سره کولې شم چې د ښاغلي خليق صېب ډرامه "شهيده سکينه" هم د دې خصوصياتو يوه مجموعه ده۔ په دې ډرامه "شهيده سکينه" کښې د نورو ګڼو کردارونو سره سره يو څو ژوندي کردارونه د حاجي محمد شريف، ظريف، قديم خان وکيل، سکينه، د سکينې مور، نرګس، فريدون، سر جمشېد او مسټر جېمس په نوم دي۔ حاجي محمدشريف يو مشهور سوداګر او زميدار وي، ظريف د دوي نيازبين او بدکرداره زوے وي، قديم خان وکيل د حاجي شريف زوم او د سکينې خاوند وي، نرګس د ظريف ښځه چې د بمبئی فارسی جينی وي، فريدون د ظريف ملګرے چې د فارسی فلم کپنی ډائرېکټر وي، هم د دۀ په ذريعه ظريف خان د نرګس سره وادۀ کړے وي۔ سر جمشېد ډېر زور لګولے

وي چې د نرګس وادهٔ دې د هغهٔ زوي مسټر جېمس سره وشي خو یوه ورځ ئې سرجمشېد په دیکو دیکو له کوټې نه شړلے وي او خپلې مور ته ئې وئیلي وو چې زما خاوند به مسټر ظریف وي او کهٔ داسې ونهٔ شوه نو زهٔ به خودکشي وکړم- د دې ډرامې په اولنو بابونو کښې د جومات امام، د سکول استاذانو، یو مسافر او څو مېلمنو هم کردار لوبولے دے۔

دا ډرامه په پنځو بابونو وېشلې شوې ده- وړومبي درې بابونه ئې په څلورو څلورو او څلورم او پنځم باب ئې په درېو درېو منظرونو وېشلے دے- دا کتابي ډرامه دومره زړهٔ راښکونکې ده چې لوستونکي په دې مجبور شي چې په یوه ناسته کښې ئې ولولي- د دې ډرامې "شهیده سکینه" وړومبے کردار د حاجي محمد شریف په نوم شورو کېږي لکه څنګه چې د حاجي صېب نوم محمد شریف دے نو دغه رنګه ئې کردار هم شریفانه دے- د حاجي د ژوند وړومبے دور د ډېر تنګدستۍ سره تېرېږي خو ډېر زر د خپل صفا نیت او محنت په وجه د ډېر جائداد او دولت مالک شي- د هغهٔ ارمان وي چې د هغهٔ زوے دې ښهٔ تعلیم حاصل کړي او یو ښهٔ انسان ترې جوړ شي- د پرائمري تعلیم نه پس ئې په سرکاري هائي سکول کښې داخلوي او چې کله په اتم جومات کښې دوه ځله فېل کېږي نو پلار سره ئې فکر شي، د استاذ نه ئې د فېل کېدو وجه معلوموي- استاد حاجي صېب ته مخ راړوي او ورته وائي چې تاسو ئې د فېل کېدو غم کوئ او زهٔ وایم چې د ظریف په یو بل نقصان ژړل پکار دي چې هغه د اخلاقو خرابي او تباهي ده-تاسو ورله جېبونه د روپو ډکوئ خو تپوس ترې نهٔ کوئ چې روپۍ په څهٔ

www.pukhto.net

لګوئ، د سکول استاد ورته د زوي د حاضرۍ رېکارډ وښائي او د ظريف د بدکردار نه ئې هم خبر کړي.

ښاغلي خليق صېب چې په دې ډرامه کښې د نوي کُول د تعليم او تربيت په خاطر د سکول د استاد کوم کردار د ماسټر صېب په نوم راوړے دے چې د ماشومانو د نفسياتو ماهر وۀ نو کۀ حاجي صېب په وخت د ماسټر صېب په خبرو عمل کړے وۀ نو نن به ظريف خان دومره نافرمانه نۀ وۀ او نۀ به حاجي صېب په اخري عمر کښې دا ارمان کولو کۀ الله تعالى ما له د محمد ظريف په ځائے لُور راکړې وه نو ډېره به ښه وه. د ماسټر صېب خبرې د کاڼي کرښې وې. د هغۀ دا وېنا زړۀ ته کوزېږي چې کۀ څوک دا ارزو لري چې زما زوے يا ورور دې په صحيح معنو کښې مکمل انسان جوړ شي نو چې يوه حصه د هغۀ په تعليم توجه کوي نو درې حصې دې د هغۀ د اخلاقو په تربيت او صلاحيت غور وکړي او مناسب تعليم دې ورکړے شي. ماسټر صېب به اکثر حاجي صېب سره د هغۀ د زوي په حقله د مثالونو په ذريعه خبرې کولې. يوه ورځ ماسټر صېب حاجي شريف صېب ته يو مثال وړاندې کوي چې هندوانو خپلو بچو ته په وړوکوالي کښې دا خبره ښودلې ده چې د غوا غوښه خوړل ګناه ده نو ځکه هغوي د غوا د غوښې نه نفرت کوي. دغه رنګه مسلمانانو ته هم د خنو غوښې خوړلو نه نفرت ښودلے شوے دے نو کۀ مونږه د وړوکوالي نه د ماشوم په دماغو کښې د ښۀ اوبد تميز نقش کړو نو چرته به هم ماشوم د ناکاره کار کولو کوشش ونۀ کړي. د ماسټر صېب دا خبره هم د قدر وړ ده چې کوم سړے خپلو وړو ته نصيحت کوي يا کوم استاد د خپلو شاګردانو د اخلاقي

اصلاح کوشش کوي هغه به په خپله هم د دغو بدو کارونو نه ځان ساتي او هغه ښۀ کارونه چې بل ته ئې ښائي په خپله به هم کوي۔

په دې ډرامه کښې د ظريف کردار د يو نافرمانه زوي، د يو ظالم ورور او د يو وخت پرست انسان په شکل کښې ښودلے شوے دے۔ د کوره تښتېدل، په کلکته کښې کور په کرايه اخستل، شراب څښل، جواري کول، په سنټر جېل کلکته کښې بندي کېدل، د پلار په کوششونو د قېد نه ازادېدل، مور سره دهوکه کول، د خور کالي خرڅول، د نرګس سره وادۀ کول، د پلار د وفات نه پس مور او خور د کوره شړل د ظريف د کردار خلاصه ده۔

قديم خان وکيل د سکينې خاوند وي، هر کله چې هغۀ ته د پېسو ضرورت پېښ شي نو د ډېرې مجبورۍ نه د خرڅ د پاره د سکينې نه کالي وغواړي خو کالي چرته وي، هغه خو د هغې ورور ظريف د پېښور په اندرشهر بازار کښې خرڅ کړے وي۔ د قديم خان وکيل په خبرو خبرو کښې د سکينې سره خفګان پېدا شي او څو ورځې پس دوېم وادۀ وکړي۔

په "شهيده سکينه" کښې د سکينې کردار د يوې فرمانبردارې لُوراود يوې زړۀ سواندې ښځې په شکل کښې وړاندې شوے دے۔ لکه د مور پلار په شان ئې د خپل ورور ظريف نه د خوشحالۍ ورځ ليدلې نۀ وي۔ لکه څنګه چې ئې پلار حاجي شريف د ظريف د لاسه د دې دنيا نه ارماني تلے وي دغه رنګه ئې مور هم د زوي د لاسه د ډېرو تکليفونو او اهونو سره وفات شوے وي۔ د سکينې ټول ژوند د خپل ورور د لاسه په غمونو کښې تېر شوے وي، د خپل خاوند قديم خان په دوېم وادۀ هم ډېره زهيره شوې وي

او د مور د وفات په ورځ خو دومره سوخت واخلي چې قلم او مشوانۍ راواخلي، یو اوږد خط لیکي، د اوبو په شان دارو په یو ګلاس کښې اچوي، زهر خوري او خود کشي کوي- په یوه ورځ ئې مور سره جنازه کېږي او د اخون درویزه بابا په مقبره کښې د خپل لیکلي وصیت مطابق ئې په یو ارت قبر کښې د خپلې مور سره یو ځائے ښخوي- ښاغلے خلیق صېب د دې ډرامې په اخري برخه کښې د سکینې حال څۀ په دې ډول راوړے دے-

"وائي چې څۀ وخت د دې بیبیانو کټ د جنازې په مېدان کښې کښېښودې شۀ نو دومره خلق د یوې بلې مخې نه راغلل چې شمار ئې نۀ شۀ کېدے- ټول ډېر ښائسته ښائسته شکلونه او صفا جامې اغوستې مېلمانۀ معلومېدل، ولې چې څۀ وخت جنازه وشوه نو دغه خلق بیا هېڅ ونۀ لیدل"(۲)

زما په خیال کۀ هرڅومره د سکینې ژوند په تکلیفونو کښې تېر شوې وۀ خو بیا هم د دې ډرامې نوم"شهیده سکینه" بالکل مناسب نۀ وۀ- هغې خودکشي کړې وه او خودکشي حرامه ده او دغه شان په ژوند کښې ئې هم د خپل خاوند قدیم خان نه پټ په پټه او بغېر مشورې ټول کالي خپل ورور ظریف له د خرڅ د پاره ورکړي وو- د ظریف د لاسه چې څومره تکلیفونه د سکینې مور پلار ته رسېدلي وو دومره بل چا ته رسېدلي نۀ وو، د دوي دواړو کردارونه هم ډېر سپین سپېځلي وو نو ځکه کۀ د دې ډرامې نوم د هغې د مور په نوم شوې وۀ نو غوره به وه- او کۀ خامخا د دې ډرامې نوم د

www.pukhto.net

سکينې سره تړل ضروري وو نو بيا د "شهيده سکينه" په ځاے "بي بي سکينه" نوم به ډېر ښۀ وۀ ځکه چې په دې ډرامه کښې د سکينې د پاره د "بي بي" تکے هم راوړے شوے دے- د دې د پاره دا يوه حواله وړاندې کول ضروري ګڼم-

"د محمد ظريف نه علاوه د حاجي صېب يوه ډېره
نېک خويه، نېک عمله او سياله لُور "بي بي
سکينه" هم شته چې په قديم خان بي اے، اهل اهل
بي باندې وادۀ وه، اوس دا خبره پېښه ده چې د
حاجي صېب د جائداد د روپو وارث به څوک وي"(۳)

ښاغلي خليق صېب د وخت مناسبت سره د ډرامې په مختلفو بابونو او منظرونو کښې شاعري هم رواړې ده- د حوالې د پاره دا يو څو شعرونه وړاندې کوم چې د تعليم، تربيت او مينې محبت غوره نمونې دي:

دېوال چې له بنياده په کږه ډډه روان شي
بيانېغ به چرې نۀ شي عن کۀ پورته تراسمان شي
ظريف لاړۀ ګمراه شۀ د شېطان په لار روان شۀ
زما دې په اخر عمر کښې مل غني سبحان شي

دستور د معشوقو ماته معلوم دے د پخوا نه
په غشو د ښو سرے زخمي کړي په ځيګر
چې بيا ترېنه ملهم د وصل غواړي په خندا شي
وئي زۀ خو ستا له زخم نه هر ګز نۀ يم خبر

www.pukhto.net

دولت اومال جائداددې ستانصیب شي اے ظریفه
زمونږ خو پس له دې نه فقیري ده او ذلت
مونږ دواړه به کوڅه په کوڅه ګرځو خېر به غواړو
صدا به کړو رحمت د پښتنو شه په غېرت (۴)

ډرامه د دې مقصد د پاره لیکلې شي چې د هغې په ذریعه د خلقو ذهني ارتقا وشي، هغوي د خپل تهذیب او ثقافت سره اشنا شي، په هغې کښې دې د یوې معاشرې د وسېدونکیو د پاره پېغام موجود وي۔ د دې د پاره ضروري ده چې د دغه ډرامې ژبه دې ساده او د معاشرې عکاس وي او هغه دې د خپل پلاټ، پس منظر، مکالمو او د ژوندي کردارونو په وجه زړهٔ راښکونکې وي۔ په دې لړ کښې دا خبره په ډاګه کېږي چې محترم عبدالخالق خلیق صېب د دغه لوازماتو پوره خیال ساتلے دے۔ هغه د دې ډرامې لیکلو په وخت د خپلې معاشرې د خویونو او رویو پوره مطالعه کړې ده او په ډېر چل هنر ئې د دغه خویونو غندنه او ستائینه هم کړې ده۔ کهٔ زهٔ ووایم چې د دې ډرامې د کامیابۍ په شا د ښاغلي خلیق د ژوند تجربه او د خدائي خدمتګار تحریک د ملګرتیا اثر موجود دے نو بده به نهٔ وي۔

# حوالې


1) محمدافضل رضا، ډرامه، پېښور، یونیورسټي بک اېجنسي، اول ځل، ۱۹۶۵، مخ ۷
2) ډاکټر محمد زبېر حسرت، "تماشې"، لټون او سمونه، پېښور، عامر پرنټ، اکتوبر۲۰۱۴ء، مخ ۱۸۶
3) هم دغه، مخ ۱۷۳


www.pukhto.net

4) هم دغه، مخ ۱۴۲، ۱۵۴، ۱۷۷، ۱۷۸

# د میاں سید رسول رسا ناول "خودکشي" "یوه مطالعه"

د میاں سید رسول رسا په ناول "خودکشي" د څهٔ لیکلو نه وړاندې ضروري ګنم چې د ناول په معنٰی او مفهوم ځان پوهه کړو چې ناول څهٔ شے دے ؟ په انکارټا ورلډ انګلش ډکشنری کښې د ناول معنٰی څهٔ په دې ډول راوړې شوې ده۔

"A Fictional prose work with a relative long and often complex plot, usually divided into chapters, in which the story traditionally develops through the thought and action of its characters[1]"

ژباړه :- "یو افسانوي نثر چې پلاټ ئې اوږد او عموماً ګنجلک وي ۔ عموماً په بابونو کښې ویشلے شوے وي چې قیصې په کښې په روایتي انداز د کردارونو او خیال په ذریعه روانه وي"۔

داردوژبې نوموړے ډاکټرسنبل نګارپه خپل کتاب "اردو نثرکاتنقیدی مطالعه" کښې دناول تعریف په په دې ډول کوي:-

''ناول وہ نثری قیصہ ہے جس میں ہماری زندگی کی تصویر ہو بہو پیش کی گئی ہو۔ ولادت سے موت تک انسان کو جو معمولات پیش آتے ہیں ۔ جس طرح وہ حالات سے نبرد آزما ہوتا ہے ۔ جسطرح وہ

حالات کو یا حالات اُسے تبدیل کر دیتے ہیں وہ سب ناول کا موضوع ہے[2]"

د ډاکټر خالدخان خټک مطابق :-

"ناول یو داسې اوږدې فرضي قیصې ته وئیلے شي چې په نثر کښې بیان شوي وي او په دې کښې داسې خیالي دنیا ښودلې شوي وي چې د حقیقت گمان پرې کیږي[3]"

د پوهانو ددې تعریفونو په رڼا کښې مونږه په دې نتیجه ورسېدو چې ناول یوه اوږده نثري قیصه وي. په دا قسمه قیصې کښې ځنې نورې قیصې هم خورې ورې پرتې وي. ناول نگار ئې په اخري حصه کښې داسې په چل هنر یو ځا ے ته راغونډې کړي چې هم د یوې قیصې گمان پرې وشي . د ناول په ذریعه د یوې معاشرې یا د انساني ژوند ټول اړخونه ښۀ په ارت مټ بیانېد ے شي. د یو ښۀ ناول دپاره ضروري ده چې په هغې کښې د حقیقت نگارۍ ، سسپنس ، کردارنگارۍ ، مکالمه نگارۍ ، منظر نگارۍ او د پلاټ خیال هم ساتلے شوي وي.

ښاغلي رساصېب دناول " خودکشي" (ستمبر ۱۹۷۲ء) سره سره نورځلور ناولونه "مفرور، مامونۍ ، شمې او مېخانه" هم لیکلي دي خو چې کومه فني ښکلا په خودکشۍ نومې ناول کښې لېد ے شي نو دغه ښکلا په دغه نورو ناولونو کښې د نشت برابر ده . په دې ناول کښې مرکزي کردار سرفراز لوبولے د ے چې پخپله یو ښۀ شاعر او حُسن پرست انسان وي. په ناول کښې د سرفراز په اول

ځل د ميرو نومې خانه بدوشې جينۍ او بيا د صفيې سره د مينې داستان ډېر د ستائنې جوګه دے .په شپاړسو بابونو خوره ددې ناول سرسري قيصه څۀ په دا رنګ ده چې په کال ۱۹۲۳ءد نومبر مياشت کښې سرفراز د افغانستان د سېل نه پس واپس پېښور ته راځي نو د کابل سره نزدې لته بند نومې ځاے کښې ورته موټر وران شي .ډرائيور په لته بند کښې سرفراز په دې خيال د موټر خوا کښې پرېږدي چې په خپله لاړ شي او د مُرمت دپاره سامان راوړي . په لته بند کښې سرفراز په يوه کوچۍ جينۍ ميرو زړۀ بائيلي .هغې سره د مينې وعدې وکړي .دواړه د يو بل نه لوظونه واخلي .چې خپلې وعدې به سرته رسوو .او بيا د يو او بله جدا شي .خو هر کله چې سرفراز پېښور ته ورسي نو څۀ ورځې پس پرې محرقه تبه حمله وکړي .د ډېرې بيمارۍ په وجه ترې زړې قيصې او ياداشت هېر شي .د څۀ په وجه چې د هغۀ د حُسن ښاپيرۍ کوچۍ "ميرو" هم د خياله ووځي .او څۀ ورځې پس سرفراز د خپل کالج د ملګري خور صفيې باندې مئين شي .چې يوه ښۀ مصوره وي .په لاهور کښې وسېږي .دواړه يو بل سره د همېشه ژوند تېرولو لوظونه سرته ورسوي .وادۀ وکړي ، الله تعالٰی ورله دوه زامن او يوه لور هم ورکړي او يوه ورځ چې د صفيې په خواهش د کابل سېل ته روان شي نو په لته بند کښې ورته موټر وران شي .صفيه پنسل راواخلي او د لته بند په تصوير سازۍ کښې مشغوله شي .سرفراز په يو ډوب فکر کښې يو اړخ ته روان شي .هغه ته د لته بند يوه يوه واقعه راوراندې کېږي .ياداشت ورسره ملګرتيا شروع کړي .په يو ځانله قبر ئې نظر پرېوځي .او د يو ملنګ بابا نه د هغې قبر معلومات

www.pukhto.net

کوي ـ بابا ورته وائي چې دا د یوې کوچې پښغلې اوږده قیصه ده چې صرف ماته معلومه ده ـ هغه ورته قیصه کوي او د سرفراز د سترګو نه بې اختیاره اوښکې بهېږي ـ سرفراز ته معلومه شي چې دا د میرو قبر دے ـ کومې چې هم ددۀ په وجه باراني خړ سېلاب ته د دانګلو نه وراندې دا ټپه وئیلې وه ـ

پرېـږده چـې خـړ سـېلاب مـې یوسـي
پـه لامبـوزن اشـنا بـه ډېـره نازېدمـه

صفیه سرفراز ته اواز کوي ـ چې راشه موټر تیار شۀ او دا تصویر هم وګوره ـ په دې کښې ما ددې خاے لته بند د غرونو ماحول ، د عجیبه لړزانې سانحې روح بند کړې شۀ کۀ نا ؟ سرفراز ورته غلے شان ووائي ـ تصویر نور ډېر ښۀ دے خو په دې کښې یوه ښکلې کوچۍ جینۍ هم جوړه کړه ـ صفیه خوشحالېږي چې ایله اوس به تصویر سمون وخوري ـ تراوسه ما ته څۀ تش تش معلومېدۀ ـ

په دې ناول کښې رساصېب په ډېرو لطیفو فنونو رڼا اچولې ده ـ دناول تکنیکي اړخ ته ئې پاملرنه کړې ده ـ ښاغلي رساصېب په ناول کښې دخونداو رنګ پېدا کولو دپاره دمتلونواوټپونه هم کاراخستے دے ـ د پښتو متلونه دي چې "ټپ دیولاس نه نۀ خېژي" ، چیندخ په لوټه وختو کشمیر ئې ولیدۀ ، خربوزه د خربوزې نه رنګ اخلي ، صحبت اثر لري ، هرچاسره پنځ خو یارانو سره نۀ پنځ ، چرته هندوان چرته توتان ، اوښاغلي رساصېب هم ددې متلونو په ذریعه دخپل ناول "خودکشي" خوندڅۀ په دې ډول ښائسته کړے دے ـ

www.pukhto.net

"د میرو زما سره څۀ شته ګني نو ولې به په ما دومره زهرېدله چا رښتیا وئیلي دي "تپ د دوارو لاسو نه خېژي"

"هلکه د څۀ مېلمستیا غواړې. د تاترې نه دې اخوا ګام څۀ کېښودۀ چې اوس مېلمستیا غواړې ، تۀ لکه د "چیندخ په لوټه وختې نو کشمیر دې ولیدۀ

"کابل تـه څۀ لاړې چې اوس مونږه پـه تـاوان کښې اچوې"

"یار د شاعرانو سره ګرځو، اخر صحبت اثر لري، څۀ خو به ترې اخلو کنه. خربوزه د خربوزې نه رنګ اخلي"

"سړیه تاته چا وې چې په ستېج تقریرونه کوه. اودې شرمولو ، ماوې ګنې په زړۀ دې څۀ چل وشۀ. چرته تۀ او چرته تقریرونه ، چرته هندوان او چرته توتان"

"پرېږده کنه یار. هر چا سره پنج خو یـارانو سره نۀ پنج. تا رښتیا زۀ هېر کړے یم او کنه هسې ټوقې کوې[4]"

لکه د متل په شان ټپه هم یو داسې ځانګړے صنف دے چې په خبره کښې خوند زیاتوي. ټپه د ژبې کالے او ښائست دے نو ځکه ښاغلي رسا صېب په خپل ناول "خودکشي "کښې ځنې ټپې هم راوړي دي. په دې ناول کښې یو څو راوړې شوې ټپې څۀ په دې ډول دي.

نمونځ چې قضا شي بيا ادا شي
نۀ ادا کېږي قضا شوي ديدنونه

يو مې په تن مسافري ده
بل په تنگۍ مينه له ياره جدا شومه

زړۀ مې يو زړۀ وۀ چې تا يوړۀ
ختکې نۀ دے چې به نور سپړي گلونه
پرېږده چې خړ سېلاب مې يوسي
په لامبوزن اشنا به ډېره نازېدمه5

مياں سيد رسول رسا صېب په خپل ناول " خودکشي " کښې يو داسې مقصد او سبق راوړے دے۔ چې ډېر تعليم يافته او عام وګړي به ترې هم فائده وچتوي۔ په دې ناول کښې د ميرو سره د مينې د لوظونو نه پس د سرفراز تعليم سره زړۀ نۀ لګېدل او د ميرو خودکشي کول يو لوے نقصان دے۔ مينه ړنده وي او ددې سرته رسول د هر چا په نصيب کښې نۀ وي۔ ډېر مئينان به داسې وي چې د هغوي مينه خپل مقام ته ورسي او پاتې ژوند په مينه تېروي ، په دې ناول کښې که د سرفراز دوېمه مينه کاميابه هم شوه خو د ميرو غم ئې همېشه دپاره په زړۀ کښې پاتې شۀ ځکه چې هم ددۀ په وجه ميرو خودکشي وکړه۔ بل طرف ته ميرو له هم پکار نۀ وو چې يو نااشنا سرفراز سره ئې د مينې لوظونه کول او خپل زړۀ ئې ورکوۀ۔ مختصر دا چې په دې ناول کښې چې کوم پېغام راؤړے شوے دے نو دا پېغام د موجوده دور څۀ چې د را روان نسلونو دپاره هم يو نۀ هېرېدونکے سبق دے۔

## حوالې

1) ډاکټرشېرزمان طائزے، ناول ، هنر او سفر ، نوښار ، کامل پښتو ادبي جرګه ، پېو سيمه ، ۲۰۰۴ء ، مخ ۱۱
2) ډاکټر سُنبل نګار، اردو نثر کا تنقيدی مطالعه ، لاهور ، دارالنوارد ، ۲۰۰۳ء، مخ ۷۹
3) ډاکټر خالد خان خټک، ناول څۀ ته وائي ، مقاله، مشموله ، مياشتنى مجله ، پښتو، پېښور ، پښتواکېډيمي ، ستمبر ، اکتوبر ۲۰۰۳ء ، مخ ۵۴
4) مياں سېد رسول رسا، خودکشي ، ناول ، پېښور، يونيورسټي بک ايجنسي، ستمبر ۱۹۷۲ء ، مخ ۴۴ ، ۱۰۲ ، ۱۰۵ ، ۱۱۳ ، ۱۲۱
5) همدغه ، مخ ۳۳ ، ۷۵ ، ۷۶ ، ۲۵۳

# ناول او د حسینه ګل "ملکه"
# نفسیاتي مطالعه

ناول دقیصې یو ترقي یافته شکل دے۔ په دې کښې د یوې قیصې په هراړخ زړۀ پورې بحث شوے وي۔ په ناول کښې کۀ ډېرهم په ګڼ شمېر کردارونه وي خویو کردار په کښې داسې وي چې د ناول ټوله قیصه هم د دغه کردار نه ګېر چاپېره چُورلي۔ دغه یو کردار ته د نورو کردارونو په نسبت زیات اهمیت ورکړے شوے وي۔

ناول د لاطینۍ ژبې ټکے دے۔ د دې معنٰی ده "نوې څیز" د انسائکلو پېډیا امریکانا کښې د ناول معنٰی څۀ په دې ډول راوړے شوے ده۔

> "The word novel is derived ultimately form the latin adjective novellas, alinative of novous, meaning "New" hence, when applied to fiction, it means new tale or story"(1)

www.pukhto.net

ژباړه: د ناول ټکے د لاطینی ژبې اسم صفت نه وتے دے- کوم چې د اسم ضمیر دے او معنٰی ئې ده "نوې" هم په دغه وجه چې کله دا د ناول د پاره استعمال شۀ نو د دې معنٰی شوه نوې قیصی."

ډاکټر سنبل نګار د ناول تعریف څۀ په دې ډول کوي:

ژباړه:

ناول هغه نثري قیصه ده چې په کښې زمونږ د ژوند هوبهوتصویر وړاندې کړے شوے وي- د پېداوښت نه ترمرګه پورې چې انسان ته کوم معاملات پېښېږي یا چې هغه د څنګه حالاتو نه تېرېږي- یا چې څنګه حالات هغه یا هغه حالات بدلوي- دا ټول د ناول موضوع ده" (۲)

د ډاکټر خالدخان خټک مطابق:

ناول یو داسې اوږدې فرضي قیصې ته وئیلے شي چې په نثر کښې بیان شوي وي او په دې کښې داسې خیالي دنیا ښودلے شوے وي چې د حقیقت ګمان پرې کېږي" (۳)

د دې پوهانو د خبرو نه دا حقیقت څرګندېږي چې د ناول معنٰی د یو نوي څیز ده- دا یوه اوږده نثري قیصه وي په کومه کښې چې زمونږ د معاشرې عکاسي په یوه ښائسته ژبه کښې بیان شوے وي- دغه رنګه زمونږ په ژوند چې مونږ ته کومې کړمې راپېښېږي یا د کومو کړمو سره مونږ مخ یُو- نو د دغه کړمو ذکر په داسې شکل کښې بیانول چې هېڅ یو اړخ بغېر بیانولو پاتې نۀ شي- او په

دغه اوږده نثري قيصه "ناول" کښې د معاشرې وسېدونکيو ته خپل ښهٔ او بد په ګوته شي.

د يو ښهٔ ناول د پاره ضروري ده چې هغه به د يوې معاشرې عکاس وي. په دغه ناول کښې به د يو قام د ژوند ژواک تصوير وړاندې شوے وي. چونکې ناول د ګڼو عناصرو مجموعه وي نو په دغه وجه د دغه ټولو عناصرو خيال ساتل ضروري دي. د ناول په دغه عناصرو کښې قيصه، پلاټ، کردارنګاري، مکالمه، ماحول، جزيات نګاري، ژبه او بيان شامل دي. د يو معياري ناول ليکلو په وخت پکار ده چې د دې عناصرو پوره پوره اهتمام وکړې شي.

د پښتو ادب په حواله ناول ليکونکيو کښې د نارينهٔ "سړو" برخه زياته ده، ولې د پښتو ژبې مېرمنو هم په دې لړ کښې کار کړے دے. په دغه مېرمنو کښې د کبرىٰ مظهري ناول "سپوږمۍ "۱۹۷۷ء"، د ډاکټر سلمىٰ شاهين ناول "کهٔ رڼا شوه" ۱۹۹۸ء، د مېرمن رفعت پروين "ناولټ" "تته ډيوه" ۲۰۰۰ء، د صفيه حليم ناول "زېښبناک" ۲۰۰۳ء ، دوېم ناول "دنيا" ۲۰۰۵ء او د سيده حسينه ګل ناول "ملکه" ۲۰۱۱ء د ستائنې جوګه دي او زما په دې مختصره شان مطالعه کښې زما مقصد صرف د حسينه ګل د ناول "ملکه" نفسياتي مطالعه کول دي. دغه رنګه په دې مطالعه کښې دا کوشش شوے دے چې د دې ناول په هغه اړخونو او موضوع خبره وشي د کومې تعلق چې د هم جنس پرستۍ يا جنسي اړخونو سره دے.

دسيده حسينه ګل ناول "ملکه" په اول ځل کال ۲۰۱۱ء کښې د ادبي دوستانو مرکه مردان له اړخه خور شوے دے. په دوه

www.pukhto.net

سوه دوه مخونو خور دا ناول دوه څلوېښت بابونه لري، په دې کتاب کښې د ساحل یوسفزي او عبدالوحید ګران تاثرات راوړي شوي دي، پکار وه چې ناول لیکونکي د یوې مېرمنې ناول لیکونکې نه هم څۀ تاثرات حاصل کړي وو- د کتاب ترون د "ملکه" په نوم شوے دے چې د دې ناول مرکزي کردار دے- دا ناول د هم جنس پرستۍ او هم جنس خیالۍ په موضوع لیکلے شوے دے- په دې ناول کښې د ناول د عناصرو پوره پوره خیال ساتلے شوے دے-

د ناول په څوارلسم باب کښې چې فاطمې ته خپل پلار دلاور خان د "ملکه" خطاب ورکوي چې د نن نه پس دا د دې کور "ملکه" ده نو فاطمې ته هم ځان د یوې بلې دنیا ښاپېرۍ ښکاره شي- هغې ته د ملکې خطاب په نوم یو نوے مقام ترلاسه شي او د ناول د دې برخې نه پس قاري یا لوستونکے مجبوره شي چې پاتې ټول ناول هم ښۀ په غور او فکر ولولي-

د یو ښۀ ناول دا لوے خصوصیت وي چې د هغې ژبه یا بیان به عام فهمه او د معاشرې د کړۀ وړۀ مطابق وي- مېرمن حسینه ګل چې په خپل ناول کښې د انساني ژوند ژواک کوم تصویر وړاندې کړے دے هغه ډېر د ستائنې جوګه دے- د دې ناول مطالعه نۀ خو صرف د وخت تېرولو او د تفریح یوه ذریعه ده بلکې په دې ناول کښې هغه ټول پټ او ښکاره خویونه هم راوړي شوي دي کوم چې د دې معاشرې د استوګنو په ختہ کښې اغېړلي شوي دي- کوم چې د نورو لیکونکیو نه پټ وو یا ئې دغه اړخ ته هډو توجه ورکړې نۀ وه-

مېرمن حسينه ګل دومره سپيني سپيني، رښتيا رښتيا خبرې قلم ته سپارلي دي چې د هغې نه انکار نۀ شي کېدے. اکثر ليکونکي دغه اړخ ته توجه نۀ ورکوي، دغه ليکونکي د خپلو مخصوصو خويونو يا د څۀ مصلحت ترمخه دغه واقعات قلم ته نۀ سپاري. حسينه ګل په خپل ناول کښې ډېره په بې باکۍ سره د خپلو خيالاتو څرګندونه او د دې معاشرې د بدو خويونو غندنه کړې ده. لکه د شتۀ ښځې خاوند دلاور خان باره کښې داسې ليکي چې

"اوس خو هغۀ د کور نه بهر بله لوبه شورو کړې ده، ښکلي هلکان به ئې شپه ورځ د ځان سره ساتل. د خپل يو يو هلک به ئې جلال ته ډېر صفتونه کول. ډېر ښکلے دے، د پلار تړوله د خوارۍ ګټه به ئې په ښکليو ښکليو هلکانو الوزوله"(۴)

دغه رنګه ليکي چې:

"هغه کۀ څۀ پوهېدۀ نو په دې پېسو به ئې د کچ بانه هلکانو مستۍ، شوخۍ، خنداګانې او اداګانې اخستې چې هغۀ ته ئې يو تسکين او سرور بخښلو"(۵)

د دلاورخان د زوي شهنشاه باره کښې ليکي چې:

"د پلار د مرګ نه پس ډېر بې لاړ شوے وۀ. د پلار تړوله پېسه به ئې په رنګ رنګ عياشو الوزوله------ چې کوم خويونه، عادتونه ئې په زلمي توب کښې د پلار وو هغه دۀ هم خپل کړي وو. په کچه کچه هلکانو پسې ګرځېدل ئې سمه خوراکه وه"-(٦)

دا يوه بله حواله وړاندې کول هم ضروري ګنم:

"ښائستو د اکرم، عمر او نويد د شريکې مشغولا وه- په يوه هفته کښې يوه ورځ او شپه به خوارې ښائستو په خپله ځوانۍ او پېغلتوب هغهٔ د دې ځوانانو د هوس تنده سړوله"(۷)

په ناول کښې د يو ښهٔ پلاټ د ټولو نه لويه خوبي دا ده چې په هغې کښې تسلسل وي او په دې ناول ملکه کښې دغه خوبۍ ښکاره ليدې شي- په دې ناول کښې ټول واقعات په يو منظم ترتيب سره راوړې شوي دي- چرته هم دغه واقعات د بې ترتيبۍ ښکار شوي نهٔ دي- دغه شان په دې ناول کښې موجود د هر کردار نه پوره پوره کار اخستے شوے دے- په ټول ناول کښې صرف د "ګلبرو" په نوم يو کردار دے چې حسينه ګل ورته لکه د نورو وړو کردارونو پوره توجه ورکړې نهٔ ده- حالانکې هغه د کلي يوه تجربه کاره او سيانه ښځه وه-

د حسينه ګل دا ناول "ملکه" نهٔ يواځې د ښځو په مخصوصو مسائلو ليکلے شوے دے بلکې د سړو د هغه شېطاني خويونو نه ئې هم پرده اوچته کړې ده کوم چې د دې معاشرې په خلقو کښې موجود دي- داداسې خويونه دي چې مونږ ورته په غټو غټو سترګو ګورو خو نهٔ دغه مسائل قلم ته سپارو او نهٔ د دې د پاره کوټلي ګامونه پورته کوو- حسينه ګل دغه ټول مسائل مخصوص کړي دي، قلم ته ئې سپارلي دي او ډېر په بېباکۍ سره ئې هغه ټولې ذمه وارۍ سرته رسولي دي کومې چې له سره دهغې ذمه وارۍ نهٔ وې- هغې د خپلې معاشرې د خلقو په خويونو ډېر په چل هنر سره ټکونه کړي دي- په دې ناول کښې راوړے شوے پېغام او سبق د قدر وړ دے- زهٔ وايم چې په دې ناول "ملکه" کښې زمونږ د معاشرې د خلقو

www.pukhto.net

د کومو خويونو عکاسي شوې ده هغه د مېرمن حسينه ګل د ژورې مشاهدې او مطالعې ښکاره ثبوت دے. په اخره کښې خپل ليک هم په خپل شعر سرته رسوم:

خيالي کوم ځاے ولاړ يې، شوے د څهٔ په تماشه
منزل ته ستا نه وړاندې جينکې ورسېدې

## حوالې


1) The Encyclopedia Americana Vol,20, 1958, P 503
2) ډاکټر سنبل نګار، اردو نثر کا تنقيدي مطالعه، لاهور، دارالنوارد، ۲۰۰۳ء، مخ ۷۹
3) ډاکټر خالد خان ختک، ناول څهٔ ته وائي، مقاله، مشموله مياشتنی مجله، پښتو، پېښور، پښتو اکېډيمي، سمتبر/ اکتوبر۲۰۰۳ء، مخ ۵۴
4) سيده حسينه ګل، "ملکه"، ناول، مردان، ادبي دوستانو مرکه، اول ځل ۲۰۱۱ء، مخ ۲۱، ۲۲
5) هم دغه، مخ ۵۲
6) هم دغه، مخ ۱۱۹
7) هم دغه، مخ ۱۲۷


www.pukhto.net

# پښتو متل د روښانیانو په شاعرۍ کښې

روښانیان د روښاني تحریک هغه لوړ شخصیتونه دي چې د سراج الدین بایزید انصاري د فکر ملګري وو. بایزید انصاري د پیر روښان په نوم شهرت لرلو چې د روښاني تحریک سرخېل وۀ. دوي د تصوف په برخه کښې لوے کار سرته رسولے دے. دوي به دا کوششونه هم کول چې په پښتنو کښې یو جمهوري فکر پېدا شي او د بې ځایه رواجونو نه ځان لرې وساتي. دوي په یو وخت په پښتو، عربۍ، پنجابۍ، هندۍ او په فارسۍ پوهېدۀ. د روښانیانو دا تحریک چې په اول ځل مذهبي تحریک وۀ خو د حالاتو د غوښتنو په وجه ئې د یو سیاسي تحریک شکل اختیار کړۀ.

د پیر روښان د نثر په کتابونو کښې "خېرالبیان" ته مرکزي او بنیادي حېثیت حاصل دے. دا کتاب په څلورو ژبو کښې لیکلے شوے دے. ددې کتاب بنیادي موضوع د شریعت او د طریقت معاملات وو. دا کتاب په تصوف داسې اډانه وۀ چې د خپل دور نور

www.pukhto.net

ليکونکي ئې هم متاثره کړي وو . ددې دور په شاعرانو کښې ملا ارزاني خويشکي، مرزاخان انصاري، واصل، علي محمد مخلص، دولت لواڼي او کريمداد د ذکر قابل دي .دوي په خپله شاعرۍ کښې د متل مفهوم راوړے دے. متل يو داسې پوره جمله وي چې په حقيقت اډانه لري. "په لغت کښې د عربۍ اوفارسۍ متل د اردو ضرب المثل يا کهاوت، د انګرېزۍ پرو ورب د پښتو متل د نثر د يوقسم مختلف نومونه دي"[1].

په شعر کښې د متل مفهوم راوړو ته صنعت ارسال المثل وئيلے شي او د خوش قسمتۍ نه دروښاني تحريک د روښانيانو ټوله شاعري ددې صنعت نه ډکه ده . ددې دور په شاعرانو کښې ملا ارزاني خويشکي د قدر وړ شاعر تېر شوے دے.

مُلا ارزاني : - ملا ارزاني (۹۲۹ ـــ ۱۰۱۰هجري) د روښاني دور اولنے شاعر وۀ چې په خپله شاعرۍ کښې ئې د متل مفهوم راوړے دے.د پښتو متلونه دي چې " د کبر کاسه نسکوره وي ، هر بوټے په خپل موسم مېوه نيسي ، په مېوه داره اونه کاڼي ورېږي ، د طمعې کور خالي وي ، هر چاته خپل نصيب رسي ، په سوال خولۀ کږه ښکاري او ارزاني صېب د پښتو هم ددې متلونو مفهوم څۀ په دې ډول راوړے دے.

هره چاره پر خپل وخت شي
مېوه نۀ شي بې موسمه

چې مېوه پرې اوېزانده
تل ويشتۀ شينه په غونډه

www.pukhto.net

چې مېوه لري کامله
هغه درخت لوی هلک وله

ددې طمعې اونه تشه
دغه طمع له اتشه

خپل قسمت به هر څوک مومي
که غنم دي که اوربشه

دا د سوال لقمه خوږه ده
د سائل خوله تل کږه ده

هر چې سوال کړي له مخلوقه
د زړګي تخته ئې کږه ده

هر چې کبر کاندي کور دے
دے په کبر سوے سکور دے

کهٔ ئې لوښې پخوا ډک وهٔ
اوس ئې ډک لوښې نسکور دے[2]

د مُلا ارزاني دا يو څو نور شعرونه هم د صنعت ارسال المثل غوره نمونې دي.

له دنيا کړه مينه کمه
دا دنيا ده تل نيمګړې

چــې ســـتا بخــره پــه ازل ده
نــۀ بــه کمــه شــي نــۀ بېشــه[3]

مرزا خان انصاري :- مرزا خان انصاري (۱۰۴۰هـ) د روښاني دور يو نوموړے شاعر دے. دوي د خپلې شاعرۍ په ذريعه د روښاني تحريک د خوروني او روزنې دپاره ډېر خدمتونه کړي وو- داسې داسې موضوعات ئې پښتو ادب ته ورکړۀ چې د پښتو لمن پرې نۀ يواځې ډکه بلکې ښائسته هم شوه. دغه موضوعات او صنعتونه چرته د تلميحاتو او محاورو په شکل کښې په نظر راځي. او چرته د صنعت ارسال المثل په څېر د انصاري په شاعرۍ کښې ځلنده ښکاري. د دوي شاعري خوږه هم ده او پسته هم. دوي په خپله شاعرۍ کښې د متل مفهوم ډېر په هُنرسره راوړے دے. دپښتومتلونه دي چې "عمرپه حساب دے، د زرو قدر په زرګر وي، صحبت تاثيرلري، بې محنته راحت نشته، اصيل ته اشارت کم اصل ته لوړ، په بهار پسې خزان وي او ښاغلے انصاري صېب څۀ په دې ډول وائي :-

وفـــائي د جهــــان نشـــــته
عمـــر لـــړ دے پـــه حســـاب

لکــه قــدر د جــوهرو جــوهري زده
يـــا د زرو اصـــل پېژنـــي زرګــر

د اســـتاد کـــلام رښـــتيا دے
صـــحبت نـــه وي بـــې تـــاثير

بې محنته به راحت له لاسه نهٔ کړې
د ځربښت وازده دې ویلې کړه له غوزه

د دانا پوهه مدام په اشارت ده
د نادان ادب په قهر په چړې

په صورت غلطي مهٔ کړه
په بهار پسې خزان وي[4]

علي محمد مخلص :- علي محمد مخلص د روښاني دور یو نومړے شاعر وهٔ .د دوي په شاعرۍ کښې په ګڼ شمېر د متلونومفهوم راوړے شوے دے .چې دپښتونخواپه خواوشا علاقوکښې وئیلے کېږي.دپښتومتلونه دي چې "د دنیا خوشحالي یو څو ورځې وي، دین اودنیا په همت ګټلے شي، د مرګ علاج په حکیم نهٔ کېږي ، مرګ حق دے، مرګ هر چاله شته، تېرساعت په بېرته نهٔ راځي ، رواني اوبهٔ په بېرته نهٔ راځي ، توکړې لاړې واپس خُلې ته نهٔ راځي او علي محمد مخلص ددې متلونو مفهوم څهٔ په دې ډول راوړے دے.

د دنیا خوشي څو ورځې
بیا ئې تل د مرګ په باب دي

دین دنیا وي په همت پورې تړلې
دهمت تښتن هر چرې حرمت بیا موند

دا رواني اوبهٔ بېرته نهٔ جاروځي
هسې تللې عمر نه ګرځي دوباره

ګذشته ساعت به نۀ راځي په قطې
که ډېر غم اندوه ارمان کړې پسې ژاړې

د اجل ساعت به وړاندې وروستو نۀ شي
څو سرې له حلقه کښته کاندې لاړې

د مرګ علاج پرې نۀ شي
که لقمان حکيم ، بقراط دے

له مرګه نۀ خلاصېږي
که کم ګوے دے يا سلاط دے[5]

د مخلص شاعرې چې مونږه ګورو نو ځاے په ځاے په کښې دومره ګڼ د صنعت ارسال المثل نمونې راوړے شوې دي چې لوستونکے ورته حېران شي . مخلص په حقيقت کښې مخلص دے. دخلوص اومحبت شاعر دے. ژبه ئې خوږه اوپسته ده . د پښتو متلونه دي چې "همت غرونه نړوي، دکم عقلونه لرې اوسه ياغلې اوسه، دبې جلبه اس خپله رضاوي، په يوزړۀ کښې يوه مينه ځائېږي، په بارداره اونه کاني ورېږي، په يوحال خداے دے، په کمال پسې زوال وي اودمخلص دشاعرۍ نمونې څۀ په دې ډول دي.

د مردانو همت غر له ځايه واخلي
الواتۀ ئې په همت پاس په هوا شته

اے مخلصه له نادانه لرې تښته
حماقت عظيم علت درمان ئې نشته

www.pukhto.net

بـــې جلبـــه اس پـــه خپلـــه رضـــا زغلـــي
پـه هـېڅ حـال کښـې قـرار نـه مقـام ئـې نشـتـه

پـه يـوه زړګـي کښـې يـو محبـت ځـاے شـي
پرهـر زړۀ بانـدې تنهـا کانـدي مـاوا عشـق

کامـــل پيـــر بـــار داره اونـــه منکـــر ګـــوره
تـــل ئـــې وولـــي د غيبـت تهمـت پـــه غونـډه

دا مولـــــــٰی پـــــــه يـــــــوه حـــــــال دے
بـــــــې نقصـــــــانه ئـــــــې کمـــــــال دے

د مخلـــــــوق احـــــــوال وګـــــــوره
پـــــــه کمـــــــال پســـــــې زوال دے[6]

دولت لواڼے :- دولت لواڼے د ۱۰۵۸ هجري خوا او شا ژوندے وۀ . د روښاني تحريک يو روښان فکره شاعر وۀ . د دوي ديوان د کابل پښتو ادبي ټولنې په ۱۳۵۳ هجري کښې په اول ځل چاپ کړے دے . دوي ددې متلونو " په برېتو څوک نۀ سړے کېږي ، چې څوک تلي دي ، هغه راغلي نۀ دي ، د هر چا خپل خپل نصيب وي ، بې اجله مرګ نشته ، دنيا په مثل د ګرداب ده، مفهوم څۀ په دې ډول راوړے دے-

کـــه ســـړے پـــه ډېـــرو برېتـــو مـــرد کېـــدلے
د موشـــک دوزه هـــم شـــته (دے) ډېـــر برېتونـــه

هـــېڅ خبـــر د هيچـــا رانغـــے پـــه بېرتـــه

پـــه دغـــې لارې ډېـــر لاړۀ کاروانونـــه

خپـــل قســـمت بـــه کـــم زيـــات نـــۀ کـــا
کـــه ناســـت اوســـي کـــه روان دے

چـــې د عمـــر شـــپه تمامـــه شـــي اجـــل دے
هـــېڅ ســـړي لـــره مـــرګ نشـــته بـــې اجلـــه

د دنيـــــا مثـــــال ګـــــرداب دے
واتـــــۀ نشـــــته لـــــه ګردابـــــه[7]

کريم داد :- کريمداد د روښاني دور يو زيرک شاعر وۀ .چې د ۱۰۲۹هجرۍ تر ۱۱۰۰هجرۍ خواؤ او شا ژوندے وۀ .د بايزيد انصاري پير روښان د تعليماتو سره ئې بې کچه مينه وه .د پښتو اکېډيمۍ پېښور يونيورسټۍ په کال ۱۹۷۴ء کښې د دوي د يوان چاپ کړے دے .کريمداد يو روښان فکره او حساس شاعر وۀ . دوي په ډېر چل او هنر په خپله شاعرۍ کښې د پښتو متل راوړے دے .د پښتو متلونه دي "چې د عشق ځېږې ئې ووهي هوښيار شي ، اصيل په اشارت پوهېږي ، بې محنته راحت نشته ، اوبه په ېېرته نۀ جاروځي ، دنيا نيمګړې ده نيمګړې به وي او کريمداد ددې او دغسې د نورو متلونو مفهوم څۀ په دې ډول راوړے دے.

چـــې د عشـــق ســـبق ئـــې ولوســـت
هغـــه تېـــر لـــه لاولـــم دے

دانايـــان پـــه اشـــارت د حـــال خبـــر شـــو
د نـــادان ادب بـــه نـــه شـــي بـــې شـــلاخه

راحـــت چـــا مونـــدلے نـــۀ دے
بـــې محنتـــه بـــې عنـــا

اوبـــه کلـــه بېرتـــه راغلـــې
چـــې يـــو ځـــل ولاړې لـــه ګنګـــه

پـه نيمګـړې دنياڅۀ لـره امېـد کـړې
په هېڅـا بـه درسته نه شي دغـه نيمـه

چـــې خـــاموش شـــۀ کريمـــداده
هغـــه خـــلاص لـــه بـــښ و کمـــه[8]

د ښاغلي کريمداد په شاعرۍ کښې ډېر په ګڼ شمېر د صنعت ارسال المثل نمونې په لاس راغلي دي۔ يو څو نور شعرونه وړاندې کول ضروري ګڼم۔ په کومو کښې چې د پښتو متلونو مفهوم راوړے شوے دے۔

اوږده طمـــع لـــوے زحمـــت وي
طمـــع دار بـــه پـــه لعنـــت وي

چـې پـه رسـم کښـې بنـدي شـي
تـــر ابـــده هغـــه خـــوار دے

دا جهـــان يـــوه خرابـــه ودانـــه ده
پـاتې شـوې لـه قبـا ده لـه بهرامـه

دا دنیـــا محنـــت خانـــه ده کریمـــداده
یـوه ورځ بـه ځنـې هـم شـې روان دربغـه[9]

# حوالې

1) پروفېسر داور خان داؤد، پښتو ادب کښې متل، اول ځل، پېښور، جنوري ۱۹۹۰ء، مخ ۱۹
2) ملا ارزاني، د ارزاني خوېشکي کُلیات، "مقدمه" ډاکټر پروېز مهجور خوېشکي، پېښور، پښتو اکېډیمي، پېښور یونیورسټي، جون ۲۰۰۵ء، مخونه ۲۷۱، ۳۱۰، ۵۸۷، ۷۴۴
3) همدغه، مخونه ۲۷۴، ۳۴۲
4) مرزا خان انصاري، دیوان مرزا خان انصاري، مرتبه: همېش خلیل، پېښور، دارالتصنیف، اول ځل، ۱۹۵۹ء، مخونه ۲۱، ۴۷، ۴۸، ۷۲، ۱۸۲، ۲۲۰
5) علي محمد مخلص، د علي محمد مخلص دیوان، سمؤنه او څېړنه، ډاکټر پروېز مهجور خوېشکي، پېښور، پښتو اکېډیمي، اول ځل مخونه ۱۱۴، ۳۰۳، ۳۲۸، ۳۸۳، ۲۵۸
6) همدغه، مخونه ۱۹۳، ۱۹۹، ۲۰۸، ۳۱۱، ۷۳۵
7) دولت لوانړے، "د دولت لواني دیوان"، کابل، پښتو ټولنه، اول ځل، ۱۳۵۳هجري، مخونه ۴، ۵، ۷، ۱۳، ۱۹۲
8) کریمداد، دیوان کریمداد، دیباچه، خیال بخاري، پېښور، پښتو اکېډیمي، پېښور یونیورسټي، اول ځل ۱۹۲۴ء، مخونه ۴۳، ۴۹، ۵۵، ۷۸

www.pukhto.net

9) همدغه ، مخونه ۵۰ ، ۵۷ ، ۷۸ ، ۸۵

# د خوشحال بابا
# په شاعرۍ کښې متلونه او محاورې

خوشحال خان خټک د پښتو ژبې یو تکړه شاعر وۀ .په کال ۱۰۲۲هجري په مطابق ۱۶۱۷ء کښې د شهباز خان کره په اکوړې کښې پېدا شوے وۀ او په ۲۸ ربیع الاول ۱۱۰۰هـ په مطابق ۱۶۹۱ء کښې وفات شوے وۀ .دلته زۀ په دې مختصر مضمون کښې د خوشحال بابا د ژوند حالات' واقعات یا سانحات بیانول نۀ غواړم .بلکې زما مقصد صرف هغه د پښتو متلونه او محاورې په ګوته کول دي کوم چې بابا په خپله شاعرۍ کښې راوړي دي .خو ددې هر څۀ نه وړاندې دا ښودل ضروري ګنم چې متل او محاوره څۀ ته وائي ځکه چې زمونږ ډېر ملګري ددې تر مېنځه فرق نۀ شي کولے.هغوي متل ته محاوره او محاورې ته متل وائي.

متل د مثال په توګه بیان شوې جمله وي .دا زمونږ د پخوانو مشرانو پوهانو له خولې ووتې هغه ربښتونې وېنا وي چې هغوي د یوې بلې خبرې د پخلي دپاره مثال په توګه بیان کړې وي او بیا په خلقو کښې مشهوره شوې وي .متل یوه مکمله جمله وي او محاوره پوره جمله نۀ وي بلکې دا د یوې بلې داسې جملې

محتاجه وي چې محاوره په کښې په صحيح ځاے کښې راوړے شي. د متل او محاورې تر مېنځه د فرق کولووضاحت به د مضمون را روانه برخه کښې هم وکړے شي. راځئ چې اوس هغه متلونـه او شعرونـه وړاندې کړو کوم چې د صنعت ارسال المثل غوره نمونې دي او باباپخپله شاعرۍ کښې راوړي دي.

دېښتو متلونه دي چې "ختکے د ختکي نه رنګ اخلي، هر چاته خپل وطن کشمير دے، نمر په ګوته نۀ پټېږي، هر چاته خپل اولاد ښۀ ښکاري، چرته ډب هلته ادب، سړے په ادب سړے دے، نائي د بل ږيرې ته ساز او خپلې ته ناساز دے، د ګونګي په ژبه مور پوهېږي، غابښ چې رنځور شي نو د امبور شي او خوشحال بابا هم دا متلونه پخپله شاعرۍ کښې څۀ په دې ډول راوړي دي.

- ختکے د ختکي نه رنګ اخلي
  عالمان شېخان ئې لادي ناپه کار
- د خوشحال د زړۀ خوښي نۀ شي بې سرايه
  خپل وطن ئې په هر چا باندې کشمير کړۀ
- نمر په ګوته پټاوۀ نۀ شي خوشحاله
  هېڅ مُنکر مۀ شه د خپلې عاشقۍ
- هر سړے د خپل وطن ثنا صفت کا
  د هر چا تر فهم ښکلے خپل فرزند وي
- دَ نائي ږيره ناسازه
  د بل ږيرې وته ساز دے

- دا سړے خو په ادب باندې سړے دے
  چې ادب ورسره نۀ وي نو څاروے دے
- مُلا خبرې په سپين په تور زده
  د ګُنګو ژبه د ګُنګو مور زده

- فرزند که بد شي ، غابن دې رنځور شي
  غابن چې رنځور شي نو د امبور شي[1]

زمونږ پښتنه معاشره کښې دا متلونه ډېر وئيلي کېږي چې "په بارداره ونه کاڼي ورېږي، روغ صورت نعمت دے، د تورې پرهر به روغ شي خو د ژبې پرهر به روغ نۀ شي، ښځه کړه پښتنے ده، چې دښمن دوست کړې، دوست دې غليم شي او خوشحال بابا څه په دې ډول وئيلي دي۔

- په باداره ونه تل ورېږي کاڼي
  ورته ګوره چې بار داره ونه څۀ کا
- چې بهتر تر هر نعمت دے
  کۀ نعمت دے ، روغ صورت دے
- دا خونونه په ټوپک په توره نۀ شي
  دا خونونه چې د خلقو په زُبان شي
- ضرب المثل دے د دانايانو
  دُښمن چې دوست کړې،دوست دې غليم شي
- کۀ ئې له حاله خوشحاله پوښتې
  ښځې همه دي کړې پښتنے

- تندرستان دې شُکر کاندي
  تندرستي يو لوې نعمت دے[2]

د خوشحال بابا په شاعرۍ کښې نورې هم د صنعت ارسال المثل نمونې په لاس راغلي دي. يو څو په دې ډول دي.

- راستي لار ده بادشاهي
  په کښې نشته ګُمراهي
- بيا به نۀ مومي خوشحاله
  په راستۍ کښې تباهي
- چې ښۀ مې خبر کړۀ ښۀ پرې خبر شوم
  جنت هم ژبه ده ، دوزخ هم ژبه ده
- چې هاتيان ساتې پېداکا لويه خونه
  چې هاتيان پرې ننوځي هسې ور[3]

د خوشحال بابا په شاعرۍ کښې کۀ يو اړخ ته د صنعت ارسال المثل "متلونو" نمونې په نظر راځي نو دغه رنګه بابا پخپله شاعرۍ کښې د پښتو محاورې هم راوړې دي .د مضمون په اولنۍ حصه کښې د بابا په شاعرۍ کښې د متل او محاورو باره کښې خبره شوې وه. دلته زۀ دا کوشش کوم چې ددې دواړو صنعتونو تر مېنځه فرق هم واضحه شي .ښاغلے داور خان داؤد د متل او محاورې متعلق ليکي چې :-

"هر کله چې د الفاظو د يوې مجموعې مفهوم واضحه وي نورو الفاظو ته ئې ضرورت نۀ وي .نو

www.pukhto.net

هغه به متل وي، که چرې مفهوم ئې واضحه نهٔ وي
نو هغه به محاوره وي. متل به نهٔ وي[4]"

د ښاغلي داورخان داؤد صېب مطلب دا نهٔ دے چې ګنې د محاورې مفهوم واضحه نهٔ وي نو هغه به خپله معنٰی نه ورکوي- بلکې هره محاوره د استعمال نه وړاندې هم خپله مجازي معنٰی لري او هر کله چې دغه نیمګړې مجازي جمله "محاوره" په یوه جُمله کښې استعمال شي نو خپل مفهوم پوره په پوره واضحه کړي . متل د یو حقیقت دپاره استعمالولے شي- ددې بنیاد په حقیقت اډانه لري، ددې برعکس محاوره په مجازي معنو کښې استعمالېږي .د مثال په توګه دا محاوره ده چې "د اسمان نه ستوري راکوزول، نو په حقیقت کښې څوک له اسمانه ستوري راکوزولے نه شي بلکې دا محاوره په داسې موقعو وئیلې شي چې څوک د چا دپاره لوے نه لوے کار کول غواړي .دا هر څهٔ په مجازي معنو کښې استعمالېږي . دلته یو بل مثال وړاندې کوو د څهٔ په وجه به چې د متل او محاورې تر مېنځه فرق هم واضحه شي او د دواړو صنعتونو تعلق به هم په ګوته شي .لکه د پښتو محاوره ده چې "لور په لوټه تېرهٔ کول" چې یوه مجازي معنٰی لري او نیمګړې جمله هم ده- او د پښتو متل دے چې "لور په لوټه نهٔ تېرهٔ کېږي" چې یوه پوره جمله ده . او د حقیقت څرګندونه کوي . دغه شان د پښتو محاوره ده "نمر په ګوته پټول" او متل دے چې "نمر په ګوته نهٔ پټېږي" نو ظاهره شوه چې د محاورې تعلق د مجازي معنو سره او د متل اډانه په حقیقت ولاړه وي.

د پښتو ژبې ستر شاعر خوشحال بابا چې په خپله شاعرۍ کښې کومې د پښتو محاورې راوړي دي هغه ډېرې د ستائنې جوګه دي. د پښتو دا محاورې "ځان اوبۀ کول، په نام و ننګ راتلل، توره ترل، زړۀ ښادول، لافې وهل او په تُوره کښېناستل" خوشحال بابا په خپله شاعرۍ کښې څۀ په دې ډول راوړي دي.

- په کينه په حسد هېڅ د چا ونۀ شي
  هر سړے چې حسد کاندي ځان اوبۀ کا
- چې زما د لښکر غېږ شي
  اوبۀ کېږي ددۀ ځان
- په خپل نام و ننګ چې راشم لېونے شم
  خبردار کله په سُود و زيان د لک يم
- د افغان په ننګ مې وتړله توره
  ننګيالے د زمانې خوشحال خټک يم
- چې پښتون راته څوک ياد کا
  پرې خوشحال شم زړۀ مې ښاد کا
- هغه نۀ يم چې غليم وته به شا کړم
  که په جنګ کښې په سينه په مخ واهۀ شم
- نن په توره راته ناست برېتونه مږي
  چې ئې تل د محبت لافې په جار کړي[5]

دخوشحال بابا شاعري د داسې نورو محاورو نه هم ډکه ده، تر دې چې په څنو شعرونو کښې ئې د يوې نه زياتې محاورې هم راوړي دي خو مونږه د مضمون د طوالت د ويرې يو څو محاورې

او شعرونه وړاندې کړل چې خبره ډېره اوږده نهٔ شي .د بابا په شاعرۍ کښې راوړې شوې محاورو کښې د هغهٔ د ذاتي او تخليقي ژوند اظهار ليدے شي .هغوي د خپل ژوند ډېره حصه د جنګ په مېدان يا قېدو بند کښې تېره کړې ده .نو ځکه د هغه شاعري هم ددغه واقعاتو او سانحو ائينه داره ده.د کومو تجربو او مشاهدو نه چې بابا راتېرشوے دے، هم هغې له ئې د شعر رنګ ورکړے دے. هغه د خپلو احساساتو يو تجربه کار شاعر وۀ او په دغه شاعرۍ کښې چې ئې کومې محاورې او متلونه راوړي دي، هغه د هر شاعر په وس کښې نهٔ ده .په اخره کښې خپل دا يو شعر خپل ګران مشر او ستر شاعر خوشحال خان خټک ته په ډېره مينه ډالۍ کوم.

د چا مغل تندي نه نهٔ ويرېږو
مونږ د خوشحال په لاره تلهٔ کړي دي[6]

## حوالې

1) خوشحال خان خټک، "کليات خوشحال خان خټک"، (تدوين او مقدمه) دوست محمدخان کامل، پېښور، دوېم ځل، ۱۹۷۰ء، مخونه ۱۰۵ ، ۱۱۷ ، ۳۴۸ ، ۳۷۸ ، ۳۹۲ ، ۳۹۹، ۷۰۷، ۷۸۹
2) همدغه ، مخونه ۲۳ ، ۴۱۹ ، ۴۹۲، ۷۵۰ ، ۷۹۵، ۹۱۵،
3) همدغه ، مخونه۴۰۸ ، ۷۰۲ ، ۹۱۳

4) پروفېسر داور خان داود، "پښتو ادب کښې متل" اول ځل ، پېښور، جنوري ۱۹۹۰ء ، مخ ۱۹
5) خوشحال خان خټک، "کلياتِ خوشحال خان خټک"، دوست محمد خان کامل، مخونه ۲۳ ، ۵۸۷ ، ۵۲۴ ، ۵۲۲
6) لعل بادشاه خيالي، " زېړګي"، پښتو ليکونکي مردان، ۱۹۹۲ء ، مخ ۴۲


# اولسي ادب کښې پهٔ ټپه او تلميح د متلونو اثر

اولسي ادب چې پهٔ انګرېزۍ کښې ورته (Folk Lore) پهٔ اردو کښې ورته لوک ادب وئيلې شي ـ د پښتو ادب لمن د اولسي ادب پهٔ حواله ډېره شته منده ده ـ ددې تعلق نېغ پهٔ نېغه خلقو سره دے ـ اولسي ادب د يو قام شريکه پنګه ده ـ پهٔ دې کښې د قامونو، دود دستور، عامې روايتي قيصې، لساني خبرې او نور جوړ شوي ځيزونه سندرې او متلونه، ټپې، عوامي نثري اومنظوم ليکونه شامل وي ـ ددې ادب پهٔ ذريعه کهٔ يو طرف تهٔ د تېر ژوند تهذيبي مطالعه کښې اساني پېدا کېږي ـ دغه شان دا ادب پهٔ اوسني ژوند هم رڼا اچوي ـ د ځهٔ پهٔ وجه چې د دواړو موازنه کول اسان شي ـ
د پښتو ژبې څېړنکار شاعر او اديب ښاغلے داور خان داؤد صېب ليکي :-

"فولکلور د انګرېزۍ ژبې مرکبه کلمه ده چې د دوؤ کلمو "فولک" او "لور" نه جوړه ده . د Folk لغوي معنٰی ده اولس يا خلق او د Lore معنٰی ده پوهه يا زده کړه . دغسې د فولکلور د مرکبې کلمې معنٰی شوه د خلقو زده کړه يا اولسي پوهه[1]"

اولسي ادب کښې ټپې ته ډېرلوے اهميت حاصل دے- ټپه د اولسي ادب د شاعرۍ يو داسې ځانګړے صنف دے چې د خپل قام طرز فکر، رواياتو او د اولسي ژوند عکاسي کوي- ددې اوله مصرعه د نهه او دوېمه ئې د ديارلسو سېلابونو وي- دا صنف په ځنو علاقو کښې د لنډۍ او مصرعې په نامه هم يادېږي . د نمونې په توګه دا ټپې :-

ټپه په وار راسره کېږده
ماله بې واره ټپې خوند نۀ راکوينه

راځئ راځئ چې لنډۍ وايو
لنډۍ لاښې دي د يار غم غلطوينه

ما له قلم مشوانۍ راوړئ
يو څو مصرعې په وينو سرې يار ته ليکمه

د پښتو متل هم لکه د ټپې د ژبې ښائست او کالے دے- دا يوه داسې پوره جمله وي چې د حقيقت او رښتينوالي څرګندونه کوي . دا زمونږ د مشرانو د خولې هغه رېښتونې وينا او ملغلرې وي چې هغوي په يوه خاصه موقع وئيلي وي او بيا سينه په سينه تر

مونږه را رسېدلي وي . متل په يوه خاص معاشره کښې وجود موندلے دے او بيا په مزه مزه د خپل دور نه په تېرېدو تېرېدو تر دې رارسېدلے دے.

په متل او ټپه کښې په مختصرو ټکو کښې ډېر غټ غټ او د اهميت وړ موضوعات موندي شوي دي. د متلونو په حقله چې څومره ښائسته او همه ګير نظام په ټپه کښې مونده شي ممکنه ده چې د پښتو ادب بل يو صنف ددې مقابله وکړي ځکه چې ټپه د زرګونو کلونو راسې د يو روايت په شکل پښتنه معاشره کښې موجود ده. ددې تعلق هم نبغ په نبغه تهذيب سره دے. لکه څنګه چې په متل کښې د پښتنانۀ تهذيب ټول موضوعات په ښائسته انداز کښې وړاندې کېدے شي. دغه شان ټپه هم ددې قام په ټولو خصوصياتو رڼا اچوي. دغه رنګه که يو خوا د متل په ذريعه د پښتون قام د غلطو رسمونو رواجونو او ځنې اولسي قدرونو غندنه شوې ده. نو په ټپه کښې هم دغه هرڅۀ لکه دنمرښکاره ليدے شي. محترم مشر پروفېسر محمد نواز طائر صېب په خپل مضمون "د ټپې معاشرتي تجزيه" کښې ليکي :-

> " څۀ رنګ چې د پښتنو او پښتونولۍ د ځنې اولسي اقدارو په پښتو متلونو کښې صفت يا غندنه شوې ده دغه شان ټپه هم ددې اقدارو پوره تفصيل راوړے دے. او هر چرته چې د پښتونولۍ په بهترو صفاتو د فخر او وياړ وخت راغلے دے. نو ښۀ په نره او ډاډه ئې ورله ستائنه کړې ده. ولې کوم ځائے چې د غندنې او کړلو موقع پېښه شوې

دہ نو هلته ئې هېڅ کله په خپلو کمزوريانو پرده نۀ
دہ اچولې"[2]

محترم داور خان داؤد صېب ليکي :-

"ټپه او متل د اولسي ادب دوه مشهور اصناف دي
- چې يو نظم او بل نثر سره تعلق لري - متل د يوې
عامې تجربې نه روغ دے - داسې تجربه چې په
ذهانت اډانه لري خو ددې برعکس ټپه د جذبې نه
روغه ده کۀ يو د ساز په ذريعه خپل اواز تر لرې
لرې رسوي نو بل بغېر د ساز نه خپل اواز هم هر
چرته رسولے دے"[3]

لکه د متل په شان ټپه هم د مثال په توګه بيانېدے شي-
اکثر ليکونکي په خپلو ليکونو که يو خوا د متل استعمال کوي نو
بل خوا ټپې ته هم اهميت ورکوي - په ټپه کښې هم لکه د متل په
شان خوږې خوږې، ريښتينې او د حکمت او هوښيارتيا نه ډکې
خوندورې خبرې په لاس راغلي دي - بلکې څنې ټپې خو داسې دي
چې د متل پوره مفهوم په کښې راؤړے شوے دے - د پښتو متلونه
دي چې "پښغلتوب نيمه باچاهي ده - د شال او شړې نه کېږي - اور
چې بلېږي نو لوګے خېژي، هر چا ته خپل وطن کشمير دے - د
کونډې ځويه څۀ خو بويه" بې زحمته راحت نشته - او د خپل نزدې
تعلق او اثر په وجه ددې متلونو مفهوم څۀ په دې ډول پښتو ټپه
کښې راؤړے شوے دے -

پېغلتوب نیمه باچاهي ده
ورک ناوېتوب شه چې دوه نیمې ورځې وینه

شال د شړۍ برابر نهٔ دے
جانان زما مساوي نهٔ دے مړ دې شینه

هر چا ته خپل وطن کشمیر دے
په ما کشمیر شول نالیدلي وطنونه

د کونډې ځویه څهٔ خو بویه
په تا مئین یم اخر ولې کړې ظلمونه

تل په زحمت پسې راحت وي
چې زحمتونه تېر وي، راحت به وړینه

په پښتومتلونو کښې ځاے په ځاے د دنیا د بې ثباتۍ ذکر شوے دے. په دغه متلونو کښې د دنیاعمرته د ژمي مازیگر وئیلي شوي دي . دا حقیقت وړاندې شوے دے چې دنیا فاني ده او ددې عمر لکه د باد تېرېږي . دا هم وئیلي کېږي چې تېر وخت په بېرته نهٔ راځي . په بهار پسې خزان وي . پښتانهٔ واړه یو تېر دي، دغه رنګه په ډېرو ګنو ټپو کښې هم دا حقیقت راوړے شوے دے . د کومې نه چې انکار ممکن نهٔ دے . د پښتو دغه ټپې څهٔ په دې ډول دي .

عالمه يو تر بل زارېږئ
عمر د ژمي مازيګر دے تېر به شينه

عمر د باد په شان تېرېږي
زړۀ مې لړزېږي خزان نن سبا راځينه

په لاس به تېر ساعت رانه شي
که زۀ په اوښکو کړم اوبۀ واړه ملکونه

اخر بهار پسې خزان وي
په عاشقانو باندې مه کوه ظلمونه

عالمه يو تر بل زارېږئ
دنيا فاني ده مېلمانۀ راغلي يُونه

پښتانۀ واړه يو تبر دي
د جنګ په ورځ کښې په سيالۍ سر ورکوينه

د متل باره کښې خو مونږه په دې خبره پوهه يُو چې متل هغه جملې ته وئيلے شي چې د يوې بلې خبرې په شان وي او په اورېدو يا لوستو سره هغه خبره يا واقعه را وړاندې شي يا داسې جمله چې د مثال په توګه بيان شي او د سند ځاے ونيسي .د خپل معنوي تړون په سلسله کښې په بعضې متل د تلميح او په بعضې تلميح د متل ګمان هم کېږي خو ددې هر څۀ باوجود د نړۍ په هره ژبه کښې دا يو ځانله او جدا جدا حېثيت لري .په تلميح کښې

www.pukhto.net

پوهان زړې تاريخي واقعې، يوې سانحې يا يوې مسئلې ته اشاره کوي. د پښتو ډېرو شاعرانو که يو طرف ته په خپلو شعرونو کښې متل راوړے دے نو بل طرف ته ئې د تلميح نه هم کار اخستے دے. د يو څو تلميحاتي شعرونو نمونې وړاندې کول ضروري گڼم.

چې په خوشحال په رښتنهبور کښې وشوې
هغه کانې په ما لاهور کښې وشوې[4]

د چا مغل تندي نه نۀ ويرېږو
مونږ د خوشحال په لاره تلۀ کړي دي[5]

په وړومبي شعر کښې د خوشحال خان خټک په رښتنهبور کښې د بندي کېدو او په دوېم شعر کښې د مغل تندي او د خوشحال بابا تنگ او پښتو ته اشاره شوې ده.

د پښتو متل سره د نزدې تعلق اواثر په وجه ډېر داسې د پښتو متلونه دي چې په هغې کښې تلميح موندے شي. لکه دا يو څو متلونه چې د تلميحاتو غوره نمونې دي.

- چې مور ئې درخانۍ وي نو لورې ئې ښاپېرۍ وي.
- هره ښځه درخانۍ ده چې خاوند ئې ادم خان وي.
- يو موسیٰ خان وۀ بله گل مکۍ وه، يو ولي خان وۀ بله تانۍ وه.
- په لېلی هر څوک مئين دي خو کۀ ليلیٰ په چا مئينه شي.
- ما او مجنون په يوه مدرسه کښې سبق وئيلے وۀ. هغۀ صحرا ته لاړۀ او زۀ په کور کلي کښې رسوا شومه.

www.pukhto.net

د خپلې مطالعې په دوران کښې څنې داسې د پښتو ټپې هم په لاس راغلي دي.چې په یو وخت پرې د ټپې او تلمیح مینه ماتېږي.

جانانه راشه ادم خان شه
د درخانۍ مینه په ما وکړه مینه

د ادم خان د رباب ټنګ شه
د درخانۍ خوبونه ټول وتښتېدنه

مجنون له ځایه مجنون نۀ وۀ
چې په لېلٰی باندې مئین شۀ مجنون شۀ نه

پاس په اسمان کښې ډزې کېږي
لېلٰی ودېږي مجنون کلي ورانوينه

اولسي ادب کښې ټپې او تلمیح د متل نه اثر اخستے دے . کوم حقیقت چې په متل کښې جوت دے .هغه په ټپه کښې هم په نظر راځي اوبیا په تېره تېره په دې دواړو اصنافو کښې د تلمیح موجودګي هم د ستائنې جوګه ده .دا ټول اصناف یو بل سره لکه د نوک او ووری ترون لري .دا اصناف د یوې ژبې ویونکیو د ژوند د مختلفو رویو عکاسي کوي .ددې په ذریعه د مختلفو قامونو د پوهې ارتقاء ، سماجي او معاشرتي قدرونه ، د هغوي جغرافیائي او طبعي حالتونه او تاریخي اثرات هم معلومولے شي .متل دے که ټپه یا تلمیح په دې کښې زمونږ د پوهانو او بزرګانو د ژوند ژواک تجربې ، مشاهدې او د هغوي لساني او تهذیبي اثار خوندي دي.

ټپه او تلميح هم لکه د متل په شان د انساني سوچ عکاسي کوي. لنډه دا چې د ژبې په ترقۍ کښې او مخ په وړاندې بوتلو دپاره د ټپې، تلميح او د متل ضرورت د چا نه پټ نۀ دے.

## حوالې


1) پروفېسر داور خان داؤد، "پښتو فولکلور کښې اړ" جدون پرېس، جولائي ۱۹۹۷ء، مخ ۲۰

2) پروفېسر محمد نواز طائر، "د ټپې معاشرتي جائزه" مشموله پښتو مجله، پښتو اکېډيمي پېښور، جولائي ۱۹۷۴ء، دسمبر ۱۹۷۵ء، مخ ۸۴

3) پروفېسر داور خان داؤد، پښتو ادب کښې متل، پېښور، اول ځل، جنوري ۱۹۹۰ء، مخ ۱۹

4) قلندر مومند، سباؤن، پېښور، اول ځل ۱۹۷۲ء، مخ ۷۳

5) لعل بادشاه خيالي، "زېرګي"، پښتو ليکونکي مردان، اول ځل ۱۹۹۲ء، مخ ۲۳


## "متل او ټپه"

په پښتو اولسي ادب کښې متل او ټپه دومره زاړۀ اصناف دي څومره چې پښتون قام زوړ دے. متل اوټپه د پښتو ژبې کالے دے. دپښتنې معاشرې ښکلا ده. ددې په ذريعه دپښتون قام دژوند ژواک، تهذيب وتمدن، دثقافتي اوسماجي قدرونوعکاسي ډېره په اسانۍ کولې شي. د اولسي ادب دا دواړه اصناف له پخوا راسې د پښتون تهذيب سره اوږه په اوږه رااروان دي او هم دا وجه ده چې د پښتنائۀ تهذيب ټول جمالياتي رنګونه په ټپه کښې موجود دي.

متل: هغه وېناچې د مثال په توګه بيان شوي وي او د يو سند يا دليل ځاے ئې نيولے وي هغه به متل وي- ميا بهادرشاه ظفر په "ظفراللغات" کښې د متل په حقله ليکي چې:

متل: (متل) مذ مِثل (ضرب المثل) (ج) متلونه (۱)

ښاغليوقلندرمومنداوفريد صحرائي د پښتو ډکشنرۍ "درياب" کښې د متل پېژندګليو څهٔ په دې ډول کړې ده:

متل: (م- تل) اسم- واحد- مذکر- يوه وړه جمله چې د يوې ژبې ويونکيو اکثريت ئې د هوښيارتيا د ټوکړې په حېث قبلوي- مثال، ضرب المثل-(۲)

پروفېسرداورخان داؤدليکي چې: "لغت کښې دعربۍ اوفارسۍ مثل، داردوضرب المثل ياکهاوت دانګرېزۍ پروورب (Proverb) او د پښتو متل د نثر هم د يو قسم مختلف نومونه دي" دوي په خپل کتاب "پښتو ادب او متل" کښې د ځنو پوهانو د متل په حقله دا نظريات او خيالات هم نقل کړي دي چې فرانسس بېکن متل ته "د خبرو يا وېنا اواز وائي، لارډ سل متل د ډېرو د ذهانت او د يو هوښيارتوب يا چالاکي ګڼي- ساؤتهے "د مختلفو دورونو هغه تجربه او ذهانت چې په يوه جمله کښې راغونډ شي "متل" بولي"- (۳)

متل هغه جمله ده چې د مثال د پاره بيان شي او خپل وجود برقرار وساتي- د متل استعمال د دې د پاره کېږي چې خلق ترې عبرت واخلي او د وخت مناسبت سره ئې پکار راولي- ځني متلونه د ځان سره خوندورې قيصې هم راوړي خو ځني ډېر متلونه داسې هم شته چې خپله څهٔ قيصه نهٔ لري بلکې له پخوا راسې ئې زمونږ مشران د خپلې خبرې د پخلي د پاره پکار راولي- په دغه قيصه ايز

www.pukhto.net

او ساده متلونو کښې د لوے حکمت او هوښیارتیا درس ورکړے شوے وي- دلته د پښتو یو څو متلونه وړاندې کول ضروري ګڼم:

- ❖ چې په اښور دې لوے شي غابښ ئې مۀ ګوره-
- ❖ ونه وګوره سیورې ته ئې کښېنه-
- ❖ له سلو خبرو یوه خاموشي ښه ده-
- ❖ خپل عزت په خپل لاس کښې دے-
- ❖ تُوکلې لاړې واپس خُلې ته نۀ راځي-
- ❖ چاړۀ کۀ د سرو شي خو په خېټه د منډلو نۀ ده-
- ❖ د تُورې پرهر به روغ شي خو د ژبې پرهر نۀ رغېږي-

ټپه: په ټپه کښې د ردیف قافیې هېڅ پابندي نشته خو د وزن او بحر خیال ساتل ضروري دي- د هرې ټپې وړومبۍ مصرعه د نهۀ او دوېمه د دیارلسو سېلابونو وي- د نمونې په توګه دا یوه ټپه به واخلو چې د دې وړومبۍ مصرعه لنډه او دوېمه لویه ده- دغه شان وړومبۍ مصرعه د نهۀ او دوېمه د دیارلسو سېلابونو ده:

پښتانۀ واړه یو ټبر دي

د جنګ په ورځ کښې په سیالۍ سر ورکوینه

(پُښ، تا، نۀ، وا، ړه، یو، ټ، بر، دي (نهۀ سېلابونه)

(د، جنګ، په، ورځ، کښې، په، سیا، لۍ، سر، ور، که، وي، نه (دیارلس سېلابه)

ټپه د چا شاعر تخلیق نۀ دے- لکه د اولسي شاعرۍ د نورو صنفونو غوندې په دې هم څوک د خالق دعوی نۀ شي کولے- دا د پښتنې معاشرې میراث او عوامي تخلیق دے- د پښتون قام او

www.pukhto.net

تهذیب هغه ټول رنګونه په ټپه کښې موندے شي کوم چې زمونږه په روزمره ژوند کښې راپېښېږي۔

ټپه د اولسي شاعرۍ یو داسې ځانګړے صنف دے چې د خپل قام د طرز فکر، روایاتو او اولسي ژوند عکاسي کوي۔ دا صنف په ځنو علاقو کښې د لنډۍ او مصرعې په نامه هم یادېږي۔

❖ ټپه په وار راسره کېږده

مالـه بې واره ټپې خوند نهٔ راکوینه

❖ راځئ راځئ چې لنډۍ وایو

لنډۍ لاښې دي د یار غم غلطوینه

❖ ما له قلم مشوانۍ راوړئ

یو څو مصرعې په وینو سرې یار ته لیکمه

ټپه او متلونه: لکه د متل په شان ټپه کښې هم په مختصرو ټکو کښې د هر غټ غټ او د اهمیت وړ موضوعات موندې شوي دي۔ د متلونو په حقله چې څومره ښائسته نظام په ټپه کښې موندې شي ممکنه ده چې د پښتو ادب بل صنف د دې مقابله وکړي ځکه چې ټپه او متل له پخوا راسې د یو روایت په شکل پښتنه معاشره کښې موجود دي۔ لکه د متل غوندې ټپه هم د دې قام په ټولو خصوصیاتو رڼا اچوي۔ محترم داور خان داؤد لیکي چې "ټپه او متل د اولسي ادب دوه مشهور اصناف دي چې یو نظم او بل نثر سره تعلق لري۔ متل د یوې عامې تجربې نه روغ دے۔ داسې تجربه چې په ذهانت اډانه وي خو د دې برعکس ټپه د جذبې نه روغه ده۔ کهٔ یو د ساز په ذریعه خپل اواز تر لرې لرې رسوي نو بل بغېر د ساز نه خپل اواز هم هر چرته رسولے دے" (۴)

لکه دمتل په شان ټپه هم د مثال په طور بيانېدې شي- اکثر ليکونکي په خپلو ليکونو کښې کۀ يو خوا د متل استعمال کوي نو بل خوا ټپې ته هم اهميت ورکوي- په ټپه کښې هم لکه د متل په شان خوږې خوږې، ربښتيني او د حکمت او هوښيارتيا نه ډکې خوندورې خبرې په لاس راغلي دي- بلکې ځنې ټپې خو داسې دي چې د متل پوره مفهوم په کښې راوړے شوے دے- په اخره کښې د نمونې په توګه يو څو داسې ټپې وړاندې کول ضروري ګڼم چې د متل استعمال په کښې هم ډېر په ښکلي انداز سره شوے دے:

"تېر وخت په بېرته نۀ راځي"
په لاس به تېر ساعت رانۀ شي
کۀ زۀ په اوښکو کړم اوبۀ واړه ملکونه

"پېغلتوب نيمه بادشاهي ده"
پېغلتوب نيمه باچائي ده
ورک ناوے توب شه چې دوه نيمې ورځې وينه

"د کونډې زويه څۀ خو بويه"
د کونډې زويه څۀ خوبويه
په تا مئين يم اخر ولې کړې ظلمونه

"عمر د ژمي مازيګر دے"
عالمه يو تر بل ځارېږۀ
عمر د ژمي مازيګر دے تېر به شينه

"مينه په زور نۀ کېږي"
مينه د زور خبره نۀ ده
کۀ زړۀ دې نۀ وي بيا دې نۀ مجبورومه

## حوالې

1) ميا بهادرشاه ظفر کاکاخېل، ظفراللغات، پښور، خېبربازار، يوني ورستي بک اېجنسي، کال نۀ لري، مخ، ۱۲۳۱
2) قلندر مومند، فريد صحرائي، "درياب"، پښور ټېکسټ بک۱۹۹۴ ، مخ۱۱۷۲
3) پروفېسر داورخان داود، "پښتو ادب کښې متل"، اول ځل، جنوري ۱۹۹۰ء ، مخ ۳۱، ۳۲
4) هم دغه، مخ۳۹

## ټپه او ټپه ايزه

دټپې په حقله خو دځنونورو پوهانو په ذريعه خبر شوے يم چې د اولسي شاعرۍ يو داسې ځانګړے صنف دے چې د خپل قام د طرز، رواياتو او د اولسي ژوند عکاسي کوي۔ د دې په ذريعه د پښتون قام د ژوند ژواک، تهذيب او سماجي قدرونو عکاسي ډېره په اسانۍ سره پوهه کښې راځي۔ د رديف قافيې هېڅ پابندي نۀ لري خو د وزن او بحر خيال ساتل ئې ضروري وي۔ د هرې ټپې ورومبۍ مصرعه د نهۀ او دوېمه مصرعه د ديارلسو سېلابونو وي او دا راته

هم معلومات شته چې ټپه د لنډۍ او مصرعې په نامه هم یادېږي-
او د دې نه هم خبر شوے یم چې د پښتو هم دا ټپه د پاکستان په
نورو ژبو لکه سرائیکۍ او پنجابۍ ژبه کښې د هیئت په لحاظ د لږ
غوندې فرق سره د "ماهیه" په نوم یادېږي- د پنجابۍ ژبې ماهیه ده:

دو پتر اناراں دے

ساڈے دکھ سن سن کے روندے پھتر پہاڑاں دے

د پنجابۍ د دې ماهیې په اوله مصرعه کښې د انار د ونې
د پاڼو ذکر شوے دے او په دوېمه مصرعه کښې ماهیه ویونکے د
خپل غم او درد ذکر کوي چې زما غم او درد دومره زیات دے چې
د دې د لاسه د غرونو کاڼي هم ژړېږي- دغه رنګه د سرائیکۍ د یوې
ماهیې په اوله مصرعه کښې د املوکو خرخولو ذکر راوړے شوے
دے او په دوېمه مصرعه کښې خپل جانان ته مخاطبه شوې ده چې
ستا د لاسه زهٔ دومره برباد شوے یم چې د لرې لرې نه خلق زما د
حال تماشې کولو د پاره راځي- د سرائیکۍ ژبې دغه ټپه د ماهیې
په شکل کښې څهٔ په دې ډول ده:

کوئی وِکنڑ ملوک آیا

ابخ برباد کیتا اِی ساکُوں ڈیکھنڑ لوک آیا

ما کهٔ هر څومره ځان د ټپې په حقله هوښیار ګڼلو خو دا ځل
ښاغلي نورالرحمٰن سحر په ډېر لوے امتحان کښې اچولے یم- غم
راسره شهٔ چې دا ټپه ایزه څهٔ شے دے- کېدے شي چې ټپه ایزه د
ټپې ورور وي یا خور- او کهٔ داسې نهٔ وي نو ټپه به د ټپه ایزې مور
ضرور وي- دا خو دې الله تعالٰی ښاغلیو پروفېسر داور خان داؤد له

ژوند، سلېمان کامل له نېک صالحه ښائسته زوے اوساحل یوسفزي له نېکه صالحه دوېمه ښځه ورکړي چې ماته ئې دټپه ایزې پېژنګلیو اسانه کړه۔

د ښاغلي پروفېسر داور خان داؤد په خیال "ټپه ایزه" اوس د پښتوپه اولسي اوشعري ادب کښې یو اهم صنف ګرځېدلے دے چې دپښتوژبې داولسي شاعرۍ یو ځانګړے زوړ او پخواني صنف ټپې (لنډۍ، مصرعې) سره تعلق لري"(۱) دوي د کتاب شامخ "فلېف" کښې دسهېل خټک "ټپه ایزه" د دې صنف وړومبۍ مجموعه ګرځولې ده۔ دغه کتاب زما له نظره تېر شوے نۀ دے۔ اورېدلي مې دي چې هغه ټپه ایز نظمونه دي۔ کۀ دا رښتیا وي نو بیا خو هغې ته مونږ ټپه ایز نظمونه وئیلے شو خو ټپه ایزه ورته وئیلے نۀ شو۔ په دې لړ کښې د ښاغلي سحر "ځان ئې زړو جامو کښې جوړ کړۀ" دټپه ایزې وړومبے کتاب دے چې په اول ځل کال۲۰۱۱ ء م کښې د ادبي دوستانو مرکه مردان له اړخه د مرکه پبلي کېشنزپه اهتمام خور شوے دے او ښاغلي کامل هم د دې خبرې سپیناوے کړے دے چې "د دې نه وړاندې مونږ سره په دې ضمن کښې څۀ ثبوت نشته او کۀ وي هم نو مونږ ته په لاس نۀ دے راغلے"(۲)

ښاغلي سحرخپل کتاب "ځان ئې زړو جامو کښې جوړ کړۀ" په درېوبرخوووېشلے دے۔ په وړومبۍ برخه کښې ئې په ډېره استاذۍ سره د یوې روایتي ټپې سره په اوله کښې درې نورې مصرعې راوړې دي۔ په دوېمه برخه کښې ئې د ټپې نه اول یوه مصرعه او ټپې نه پس په آخره کښې د شپږو سېلابونو یوه مصرعه راوړې ده۔

www.pukhto.net

دغه رنګه په درېمه برخه کښې ئې خپلې ليکلې ټپې هم راوړې دي-
د پښتو دوه مشهورې ټپې دي چې:

هلک چې تور شي لونګين شي
جينۍ چې توره شي بنګړي دې خرڅوينه

مسافر مۀ وژنے خاونده
په څنګدن کښې د وطن ارمان کوينه

او ښاغلي سحر د ټپه ايزې په شکل کښې خپل ځان په زړو
جامو کښې څۀ په دې ډول جوړ کړے دے:

په پاکه مينه چې رنګين شي
نظر کښې ښکلے شي حسين شي
لکه د کوچو په زړۀ سپين شي
هلک چې تور شي لونګين شي
جينۍ چې توره شي بنګړي دې خرڅوينه

ډېر ګيله مند چې دے له ژونده
نېستۍ ويستلے دے له خونده
پردي وطن کړلو بې بنده
مسافر مۀ وژنے خاونده
په څنګدن کښې د وطن ارمان کوينه (۳)

ښاغلي سحر په دوېمه برخه کښې د ټپې نه اول د نهۀ
سېلابونو او په آخره کښې د شپږو سېلابونو يوه وړه مصرعه هم په
ډېر هنر سره راوړې ده- د پښتو ټپه ده چې:

سړے په رنګ نۀ سړے کېږي
سړے هغه دے چې ئې خوي د سړو وينه

او ښاغلي سحر دلته هم خپل ځان په زړو جامو کښې جوړ کړے او سينګار کړے دے لکه چې ليکي:

چرې په جنګ نۀ سړے کېږي
سړے په رنګ نۀ سړے کېږي

سړے هغه دے چې ئې خوي د سړو وينه
تل زړونه ګټينه (۴)

د دې کتاب په شپږ نوي مخ زما د غزل يوه مصرعه صرف د لفظ "اشنا" يعني رديف حذف کولو نه پس راوړې شوې ده. زما د غزل مطلع ده چې:

غم دې زما د زړۀ نه زيات شۀ اشنا
چې ستا ديدن راباندې قات شۀ اشنا (۵)

او ښاغلي سحر په خپله ټپه ايزه کښې د خپل خيال نيلے څۀ په دې ډول زغلولے دے:

چې ستا ديدن راباندې قات شۀ
د زړۀ په سر مې ازغے مات شۀ

نۀ ئې ويستې شم نۀ ئې درد زغملے شمه
نۀ وئيلے شمه (۶)

ښاغلي سحر چې په دريمه برخه کښې کوم چې ته يې راوړي دي نو دوخت تېرېدو سره سره به هم دغه ته يې دومره شهرت ومومي چې د خلقو به سحر هېر شي او هسې به د ا خپله اولسي ټکو ګڼي ځکه چې ته يه په خپله هم يو اولسي صنف دے. او ته يو ما رغلے دے چې چا ويتو ته د هغه رغلے نو ځکه زه هم د غه ما رغلے نو لو په کوشش کښې يم

او سحر دا بو څو ټپې چې زما زړه ته پرېوتې چې په خپل نوم کول غواړم
لاندې ئې راوړم او توره دې تېره دا ټپې اس سحر نه بلکې زما دي:

روژې مې ټولې وخوړلې
راسره غم دے چې اختر به څنګ کومه
مینې دې داسې باتریا کړم
په لاره ځمه په سر خاورې بادومه (۷)

د ښاغلي سحر دا کتاب "ځان ئې زړو جامو کښې جوړ کړۀ" لا چاپ شوے نۀ وۀ چې د خېبرپښتونخوا د خواوشا شاعرانو نه مې اورېدلي وو چې د ټپه ایزې په شکل کښې ځنې شاعران ټپې ته نقصان رسوي خو نن چې د سحر کتاب ګورم نو دغه ټولې دعوې غلطې ثابت شوې ځکه چې سحر د خپل کتاب ترون د ټپې په نوم کړے دے چې د پښتنو د ژوند ژواک هنداره ده او بیا ئې دا کتاب د ټپې ویونکیو ته ډالۍ کړے هم دے. زۀ خو وایم چې د ښاغلي سحر د ټپه ایزو دې کتاب سره ټپه نوره هم وځلېده.

پښتو ټپه دیو نسل نه بل نسل ته رارسېدلې ده او دا سلسله به روانه وي. کۀ په تېر دور کښې د نیمکۍ په شکل کښې د ټپې ابیارې شوې ده نو په موجوده دور کښې د ټپه ایزې په شکل کښې د ټپې یادونه کېږي نو ځکه زۀ خپل ورور سحر ته داد ورکوم او دا درخواست ورته هم کوم چې هغه دې د ټپه ایزې لمن کلکه ونیسي او په دې لړ کښې دې نوې نوې تجربې وکړي. په آخر کښې د ښاغلي سحر دا یوه ټپه وړاندې کول ضروري ګڼم:

راشه سحره د زړۀ سره
چې دې د تور وربل په ټال وځنګومه (۸)

# حوالې


1. نورالرحمٰن سحر، "ځان ئې زړو جامو کښې جوړ کړۀ" تپه ایزې، تاثرات، پروفېسر داور خان داؤد، د ادبې دوستانو مرکه مردان، اول ځل ۲۰۱۱، مخ فلبپ
2. نورالرحمٰن سحر، "ځان ئې زړو جامو کښې جوړ کړۀ"، تبصره، سلېمان کامل، مخ۷
3. نورالرحمٰن سحر، "ځان ئې زړو جامو کښې جوړ کړۀ" مخ، ۷۴،۸۴
4. هم دغه، مخ ۱۰۷
5. لعل بادشاه خیالي، "زیېرګي"، پښتو لیکونکي مردان، اول ځل۱۹۹۲ء مخ۷۸
6. نورالرحمٰن سحر، مخ۹۴
7. هم دغه، مخ ۱۲۴، ۱۳۳
8. هم دغه، مخ ۱۳۷


۲۱م نومبر ۲۰۱۱

www.pukhto.net

www.pukhto.net

# د ښاغلي نورالرحمٰن سحر "ډولۍ" يوه مطالعه

ښاغلی نور الرحمٰن سحر د مردان يو تکړه شاعر اديب او ښېرنکار دی .لکه څنګه چې هغه د يو ښۀ شاعر په حېثيت پېژندلی شوی دی نو دغه رنګه هغه د يو ښۀ افسانه نګار په حېثيت هم خلقو منلی دی .د سحر صېب په چاپ کتابونو کښې "د سحر شور" ۲۰۰۹، څان ئې زړو جامو کښې جوړ کړۀ (ټپه ايزې) ۲۰۱۱ء او د افسانو ټولګه "ډولۍ" (۲۰۱۳ء "ستا يوه يوه خبره" (شاعري) (۲۰۱۵ء) د ستائنې جوګه دي.ناچاپه کتابونو کښې ئې ، رنګونه او ګلونه (مضمونونه او مقالې) ، تنقيد (ادبي رودادونه) ، وړې سندرې (د ماشومانو ادب)، د خېبر پښتونخوا پښتو افسانه کښې موضوعاتي تنوع "ښېړنه" او "کمره نمبر ۱۰۵" (رپورتاژ "شامل دي .په دې ذکر شوو کتابونو کښې ئې هم څنې کتابونه چاپ ته تيار دي.

د ښاغلي سحر صېب د افسانو ټولګه "ډولۍ" زما په وړاندې ده چې د محکمه ثقافت پېښور په مالي مرسته د ادبي دوستانو مرکه مردان له خوا په کال ۲۰۱۳ء کښې خوره شوې ده . په دې کتاب کښې ښاغلي سحر شل افسانې راوړې دي کومې چې هغوي د خپلې ټولنې په مختلفو شخړو ، ستونزو او کړمو ليکلې دي .دا ټولې افسانې نه يواځې د موضوع په حواله نُدرت لرې بلکې په دې افسانو کښې رنګ رنګ فني تجربې هم شوي دي.

www.pukhto.net

په انسائیکلوپېډیا برټېنېکا کښې د افسانې تعریف څۀ په دې ډول شوے دے چې :-

"افسانه د نثري قیصو یو قسم دے چې د داسې عناصرو نه جوړه وي چې یو تر بله تړلي او د یو بل د اثر لاندې وي[1]"

ډاکټر محمد زبېر حسرت لیکي چې :-

"افسانه کښې مختصره قیصه په مختصرو الفاظو کښې د یو خاص تکنیک دلاندې لیکلے شي چې د الفاظو رنګیني لري خو دا ضروري نۀ ده چې افسانه دې په رښتیني واقعاتو مبني وي .هره قیصه کۀ هغه د دروغو وي او که د رښتیاؤ خو چې په تکینک برابره وي هغه افسانه ده[2]"

د پورته ذکر شوؤ تعریفونو سره سره داهم ضروري ده چې افسانه کښې دې داولس دپاره یو خاص مقصد وي ځکه چې افسانه د یو خاص مقصد دپاره لیکلے شي .دغه رنګه د افسانې لیکلو په وخت د وحدت تأثر ،واقعاتو ، کردارنګاری، ژبې ، نکتـه عروج او انجام خیال ساتل هم پکار دي .او زما په خیال ښاغلي سحر په خپلو افسانو کښې ددغه ټولو خبرو خیال ساتلے دے.

ښاغلے فېض الوهاب فېض لیکي چې :-

"په سحر کښې د یو ښۀ افسانه نګار ټول صلاحیتونه شته .هغۀ له د واقعې نه د قیصې جوړولو چل ورځي .د پلاټ ښېلو هُنر ئې زده کړے دے ، د بیان کُلهمې تنستې رېشلے شي،

www.pukhto.net

کردارونو لـه ژبـه ورکولې شي .لوستونکې د ګوتې
نه نيولې شي ، وړاندې بـه څهٔ کېږي ، پـه تجسس
کښې ځـان سـره د عـروج نُکتـې تـه رسـولې او
مخصوص انجام سره مخ کولې شي"[3]

ښاغلي فيض چې د سحر کوم صلاحيتونه په ګوته کړي دي نو دا صلاحيتونه په ډېرو کمو افسانه نګارو کښې موجود وي .چې هغه دې د واقعې نه قيصه جوړه کړي ، کردارونو لـه دې ښائسته ژبـه ورکـړي .د بيـان کلهمـې تنسـتې دې پـه هُنـر سـره ورېشـي او لوستونکې د ګوتې نه نيولې ځان سره وړاندې بوځي ، خو دا د سحر کمال دے چې هغه دا هر څهٔ ډېر په اُستکارۍ سرته رسولي دي.

محترمـې سـيده حسـينه ګـل هـم د ښـاغلي سـحر افسـانې ستائلي دي. د دوي دمطالعې مطابق دسحردافسانې عمومي مزاج د سوچه پښتني کلتـور ښـهٔ پـه نـره عکاسـي کـوي .دوي د سحر پـه افسانو کښې د برجسته جُملو ، مکالمو ، کردارونـو ، ژبـې او تهيـم سره سره د پښتنو مېرمنو باره کښې د هغـوي د نفسـياتو ، غوښتنو او خواهشـاتو موضـوعات هـم سـتائلي دي .البتـه زهٔ د حسـينه ګـل دغه خبرې سره ببخي متفق نهٔ يم کومه چې ئې د خپلو خبرو پـه اخره کښې د "سسپنس" باره کښې کړې ده.دوي ليکي چې :-

" د سحر پـه ځنوافسـانو کښـې لـږ شـان ددې څيـز مـا
کمـے محسـوس کـړهٔ دغـه افسـانې ئـې هـم پـه ډېـر
ښـکلي شـکل شروع کـړي دي خو چې کلـه افسـانه
اختتـام تـه ورسي نو د قيصې تـأثر خـو موجـود وي ،
خو دسسپنس کمے محسوسېږي"[4]

www.pukhto.net

ښاغلې حسینه ګل د سحر په افسانو کښې د سسپنس د کمي خبره کوي. حالانکې داسې نۀ ده ځکه چې په "ډولۍ" کښې راوړې شوې افسانې د خپلو نورو ډېرو خوبیو سره سره ادبي دنیا کښې د سسپنس په حواله هم ډېرې مشهورې شوي دي. ولې په ځینو افسانو کښې ښاغلي سحر فني تجربې کړي دي او اکثرو افسانو کښې ئې د فلېش بېک تکنیک پکارولے دے.

ښاغلے مهر اندېش د ښاغلي سحر د افسانو باره کښې څۀ په دې ډول خپل تاثرات وړاندې کړي دي چې:-

"د هغۀ په افسانو کښې د کلي وال ژوند دود دستور په ډېر شائسته او زړۀ راښکونکي انداز کښې بیان شوے دے. د هغۀ په لیک کښې دا کمال دے چې لوستونکي افسانه صرف لولي نابلکې ویني ئې هم، لکه د ټیلي ویژن او سنیما د پردې ورته هر څۀ په ډاګه ښکاري[5]"

د ښاغلي مهر اندېش ددې تاثراتو ملګرتیا ځکه کووم چې د ښاغلي سحر په افسانو کښې دغه کمال او هنر ما هم محسوس کړے دے. د هغۀ افسانې په حقیقت کښې خپل اولس ته د راپېښو کشالو عکاسي کوي.

ښاغلے سلېمان کامل د سحر "ډولۍ" باره کښې د خپل خیال نیلے څۀ په دې ډول زغلولے دے چې:-

"دغه انکشاف ذات زۀ په دې ادبي دیانت قانع کړے یم چې دا افسانې د پښتو ادب په نثري پنګه کښې د خپل جدت، فني مهارت او موضوعاتي

www.pukhto.net

ندرت له رویه د لفظونو د استعمال معنوي ښکلا
او د ژبې د سوچه والي، رواني او شائستګۍ په
حواله یوه اهمه کارنامه وګڼم[6] "

د ښاغلي کامل صېب د پورتنو خبرو سره زۀ هم اتفاق کوم ځکه چې د "ډولۍ" د مطالعې په وخت ما په دې افسانو کښې کومه رواني ، جدت ، فني مهارت او د ژبې سوچه والے محسوس کړۀ هغه د قدر وړ دے۔

د ښاغلي سحر ددې افسانو "ډولۍ" کتاب د چاپ نه پس ځنو نورو افسانه نګارو هم د سحر افسانې ستائیلي دي او داد ئې ورکړے دے ولې ددې کتاب په حواله ځنې تبصرې زما له نظر داسې هم تېرې شوي دي ، په کومو کښې چې د تبصرې په وخت نه سحر صېب سره انصاف شوے دے او نۀ ئې خپل حق پوره په پوره سرته رسولے دے۔زما ددې لیک یو اهم مقصد دا هم دے چې زۀ هغه بعضې تېروتنې په ګوته کړم ، کومې چې ددې کتاب په بابله شوي دي۔د مثال په توګه د محترم پروفېسر اسیر منګل تحقیقي کتاب " د پښتو افسانې سل کلن بهیر " به واخلو۔په دغه کتاب کښې د سحر صېب د افسانوي مجموعې " ډولۍ " په موضوعاتو او د سحر صېب په فکر او فن خبره شوې ده ۔زۀ حېران یم چې "ډولۍ " کښې ټولې شل افسانې دي او د هرې افسانې ئې خپل یو ځانګړے رنګ هم دے خو ښاغلي اسیر منګل صېب خپله تبصره کښې د کتاب صرف د یوؤلسو افسانو ذکر کړے دے ۔نهه داسې افسانې ئې ببخي نظر انداز کړي دي چې په هغو خامخا څۀ نا څۀ تبصره پکار وه چې د ښاغلي سحر حوصله نوره هم مضبوطه شوې

وه .بلکې په کومو نهۀ افسانو چې ښاغلي اسیر منګل خپل تاثرات وړاندې کړي نۀ دي نو دغه افسانې ددې کتاب "ډولۍ" شاهکارې افسانې دي .بله دا چې د کتاب په کومو افسانو چې ښاغلي اسیر منګل خبره کړې ده .په هغې کښې هم تېر وتلے دے .د مثال په توګه د "ډولۍ" وړومبۍ افسانه باره کښې ئې لیکلي دي چې :-

"شال کښې د پښتنې تولنې هغه مسئله مخې ته کېښودې شوې ده چې پښتانۀ چرې هم د خپلې خور او لور سپکاوې نۀ شي زغملې که چرې داسې پېښه اوشي نو بیا هغه څۀ کېږي چې د سرې غونې زیګ کړي .ددې قیصې غېرت خان د خپلې خور "سبا" د شال غل چې معلوم نۀ کړي نو خپل ځان ووژني ، دلته د ځان وژنې عمل ښۀ نۀ ښکاري[7]"

ښاغلي اسیر صېب ته دې دا معلومه شي چې په "شال" نومې افسانه کښې له سره د "سبا" په نوم کردار نشته ، البته د "حیا" په نوم کردار پکښې موجود دے .او بله دا خبره ده چې په افسانه کښې د "حیا" شال چا بل چا نه بلکې د هغې ورور غېرت خان د مستۍ په نشه کښې په ناخبرۍ کښې د هغې له سره راښکلے وي .کله چې د هغۀ خور "حیا" د نورو زنانو جنجیانو سره لارۍ کښې واپس کور ته سفر کوي او غېرت خان په موټر کښې د ملګرو سره سور وي .غېرت خان ته چې کله پته اولګي چې هغۀ د خپلې خور شال په نا خبرۍ کښې راښکلے دے نو له شرمه چا سره سترګې نۀ شي لګولے او کور کښې خودکشي وکړي .ښاغلے سحر صېب د ځان وژنې دغه وجه د افسانې د اخري جملو نه داسې څرګندوي.

"ناموس خان لاد غولي مېنځ کښې وۀ چې دوه
ډوبې ډزې وشوې او چې د کور خلقو ورمنډې کړې
نو کوټه کښې غېرتے بقې سترګې په وینو لړلے
پروت وۀ او سینې پورې ئې د حیا شال په موټو
لاسونو کښې داسې کلک نیولے وۀ څنګه چې ئې د
حیا د سر نه په زور کښې راښکلے وۀ[8]"

"ډولۍ" نه یواځې د سحر صېب د دغه کتاب نوم دے بلکې د "ډولۍ" په نوم پکښې یوه افسانه هم شامله ده . ددې افسانې په بابله ښاغلے اسیر منګل صېب لیکي چې :-

"ډولۍ چې ددې کتاب ټائټل افسانه ده د نازکې
او ګُلي د مینې یوه روایتي قیصه ده چې په فني
توګه هم څنې کمزورۍ لري[9]"

ښاغلے اسیر منګل په دې افسانه کې د فني کمزورو ذکر کړے دے ولې یوه کمزوري ئې هم په ګوته کړې نۀ ده . د ښاغلي سحر صېب دا افسانه "ډولۍ" په کتابي شکل کښې د چاپ نه وړاندې نۀ یواځې په دوه میاشتنۍ "پاڅون" کښې چاپ ده بلکې د اکادمي ادبیات پاکستان له خوا په خپور شوي کتاب "پاکستانی ادب" (۱۹۴۷ء ــ ۲۰۰۸ء) انتخاب افسانې "پښتو" کښې هم د غوره افسانې په توګه چاپ شوې ده او زما د پوهې تر مخه هم دا ذکر شوې افسانه "ډولۍ" د تکنیک، ژبې، تهیم او سسپنس په لحاظ یوه غوره افسانه ده.

ښاغلي اسیر منګل صېب په خپل تحقیق "د پښتو افسانې سل کلن بهیر" کښې د ښاغلي سحر صېب د "ډولۍ" چاپ کال

www.pukhto.net

۲۰۱۲ء ښودلے دے .په حقیقت کښې دا کتاب په مارچ ۲۰۱۳ء کښې چاپ شوے دے .نو ځکه زۀ خپل ورور اسیر منګل ته خواست کوم چې هر کله هغوي د خپل ذکر شوي تحقیقي کتاب دوېم ایډیشن چاپ کوي نو ددې تصحیح دې وکړي او کومې نهۀ افسانې چې هغوي ئې ذکر نۀ دې کړے نو په دوېم چاپ کښې دې په دغو افسانو څۀنا څۀ تاثرات ولیکي.

د ښاغلي سحر صېب د افسانو ټولګه په حقیقت کښې یوه داسې ډولۍ ده چې پکښې د پښتون قام ټول رنګونه موندے شي. ښاغلي سحر په داسې هُنر ددې قام په دود دستور ، خویونو او رویو رڼا اچولې ده چې قاري ئې په یو نوي فکر مجبوره کړے دے.

د سحر صېب افسانې د نن وخت ضرورت دے چې لوستونکي ئې وګوري او خپله یوه رائې قائمه کړي چې د دا قسمه افسانو اهمیت څۀ دے. د ښاغلي سحر صېب په هره افسانه یوه جامع بحث کول په دې مختصره مطالعه کښې ممکن نۀدے . غوارم چې صرف د هغه افسانو په حواله لږ ډېر معلومات وړاندې کړم . کومې چې د اسیر منګل صېب نه د تبصرې په وخت پاتې شوي دي.چې خبره ډېره اوږده نۀ شي.

لاؤډ سپېکر :-

په دې افسانه کښې د لاؤډسپېکر د بې ځایه استعمال په منفي اثراتو د کردارونو او راوي په خپله خپل پېغام واضحه کړے دے .ښاغلي سحر په دې افسانه کښې هغه ټول نقصانات په ګوته کړي دي چې د لاؤډ سپېکر د بې ځایه استعمال په وجه پېداکېږي او

چرته چې د بالکي او لنډي مُلا غونډې خلق موجود وي نو بیماران څۀ چې صحت مند خلق به ترې هم په عذاب وي.

سترګې :-

سترګې نومې افسانه مونږ ته د یو استاذ عظمت په ګوته کوي او دا راته ښائي چې د ټولنې د نورو وګړو په نسبت استاذ له څومره په احتیاط ژوند تېرول پکار دي.

زلزله :-

زلزله افسانه د ۲۰۰۵ء د تاریخ سازې زلزلې په اثراتو لیکلې شوې ده. دې افسانه کښې نۀ یواځې د دغه تباه کُن زلزلې مالي جاني نقصانونه په یو صورت کښې محفوظ شوي دي بلکې ائنده دپاره چې ئې کوم اثرات پرېښودل ، هغې ته هم اشاره شوې ده. په دې افسانه کښې چې د بني نوع انسان دپاره کوم پېغام راوړے شوے دے هغه ډېر د ستائنې جوګه دے.

کار لفتر :-

دا یوه واقعاتي او نفسیاتي افسانه ده چې پکښې د هغه خلقو د څېرې ښودلو هڅه شوې ده څوک چې د غلا غولتو کارونو کښې ککړ وي. په دې افسانه کښې دا ښودلې شوي دي چې دا قسمه دهوکه باز خلق اعلیٰ تعلیم یافته خلقو له هم دهوکه ورکولے شي. په دې افسانه کښې سحر صبب د دغه خلقو نه د ځان ساتلو درس هم ورکړے دے

وینه :-

په دې افسانه کښې د پښتنو په دغه خصلت قیصه وړاندې شوې ده. چې پښتانۀ چرې هم چاته د خپلې وینې بدل نۀ پرېږدي. دا

www.pukhto.net

مبتلے موضوع ښاغلي افسانه نګار په دومره نوي انداز وړاندې کړې ده چې قاري دلوستو یااورېدو نه پس ګوته په خوله پاتې کړي.

بیماري :-

دا یو جنسي افسانه ده چې د حاجي ګل کردار اخره کښې په ګوته کوي د افسانې په اخره کښې ډاکټر ډېر په تسلۍ سره د بختو معائنه وکړي او د بختو مور ته وائي چې د هېڅ فکر خبره نشته. بس ورې ته لږ د ارام او احتیاط ضرورت دے. ځکه چې په ډېر کچه عُمر کښې د ماشوم بیماره ده. ښاغلي سحر په دې افسانه کښې د یو ذمه دار او زیرک انسان غوندې خپلې ذمه وارۍ سرته رسولي دي.

سوداګر :-

دا یوه جنسي افسانه ده چې د ټولنې د هغه مکروهه خلقو څهرې ښکاره کوي څوک چې په ظاهره سپین سپېځلي ښکاري. په دې افسانه کښې د بازار د عام اولس سره سره د ښارېې د ګاډو د اډې د ډرائیورانو او کنډکټرانو غلچکي نظرونه هم په ګوته شوي دي. څوک چې ځانته مسلمانان وائي. د انسانیت دعوې کوي خو په حقیقت کښې شېطانان وي. د بې وسه خلقوعزت سره لوبې کوي. په دې افسانه کښې افسانه نګار ډېر په هُنر سره په دا قسمه خلقو ټکونه کړي دي.

زخم :-

زخم نومې افسانه کښې د ترهه ګرۍ په موضوع خبره شوې ده. ترهه ګر ولې اوڅنګه جوړېږي. ددې اسباب څۀ دي. د داسې خلقو تربیت څنګه کېږي او ددې ذمه دار څوک دي. ښاغلي سحر

صېب که هر څومره ددې په اسبابو رڼا اچولې ده خو بيا ئې هم ځان يوطرف ته کړے دے اوپه دغوباندې سوچ ئې قارې ته پرېښے دے.

تـنـقـيـد :-

"تنقيد" د ډولۍ شلمه اواخري افسانه ده چې مونږ ورتـه پـه يوه معنٰى کښې دسحرصېب اوږده لنډه افسانه هم وئيلې شو- زما په خيال دادسحرصېب دکتاب شاهکاره افسانه ده چې د يوشاعر اديب پـه کـورنې ژونـدژواک ليکلـې شـوې ده او دغـه لړکښـې ئـې شروعات له خپله کوره کړې دي- په دې افسانه کښې کردارونه او د هغـوي نومونـه هـم فرضـي نـۀ دي- ښـاغلي سـحرنۀ يـواځې د يـو ليکونکي په ژوند او هلو ځلو ډېر په اخلاص خبره کړې ده بلکې پـه دې افسانه کښې ئې نوؤ افسانه نګارو تـه د افسـانې ليکلو چل هم ښودلے دے .دغسې چې زمونږ ادبي غونډو کښـې نـن سبادتنقيد کوم معيار دے دغه ټولې خبرې ئې په دې مکالماتي افسانه کښې رانغاړلې دي .زۀ به داهم ووايم چې راتلونکي وخت کښـې بـه هم دا افسانه "تنقيد"دښاغلي سحر په غوره افسانوکښې شمېرلے شي-

ښـاغلي سـحر صـېب پـه خپلـو ځنـو افسـانو کښـې د پښـتو متلونه هم په دې خيـال راوړي دي چې خپلـه خبـره پـرې پخـه کـړي او په خلقو ئې ومنـي .د پښـتو متلونـه دي چې "منګے مـات شـۀ او کـه مات نۀ شۀ خو ډز ئې لاړۀ .پښتو کښې پښتۍ ماتېږي ، خدا ے چې چاته پېښـه کړي نو ځان دې ورتـه مېښـه کړي" او ښاغلي سحر صـېب په خپلو مختلفو افسانو کښې دا متلونه څۀ په دې ډول راوړي دي-

www.pukhto.net

" منګې مات شۀ او کۀ مات نۀ شۀ خو ډز ئې لاړۀ .د جنج د رارسېدو سره دغه خبره لکه دځنګل د اور په ټول محلت کښې خوره شوې وه" "ورونو دا ملک د پښتو دے او پښتو کښې ځنې وخت پښتې ماتيږي، د فريقينو تر مېنځه مونږه د سوَرې شرط په دې غرض اېښے وۀ چې د دوي د کلونو دښمنې په دوستې بدله شي ."
"که د باران نه مې ناوې ته کوې نو بيله خبره ده .کار لفټر له به پېسې ورکړو، مشران وائي، "خدا ے چې چاته پېښه کړي نو ځان دې ورته مېښه کړي"[10] .

د ښاغلي نورالرحمان سحر د افسانوي ټولګه "ډولۍ" د مطالعې په وخت زۀ په دې نتيجه رسېدلے يم .چې د هغۀ ټولې افسانې زمونږ د معاشرې د دود دستور او زمونږ د تهذيب او ثقافت عکاسي کوي .زمونږ په روزمره ژوند کښې چې کومې واقعې، ستونزې او کړمې راپېښېږي او مونږ له ترې د ځان ساتلو چل نۀ راځي نو ښاغلي سحر دغه هر څۀ مونږ ته په ګوته کړي دي او د ځان ساتنې تعليم ئې هم راکړے دے .ښاغلي سحر په خپلو افسانو کښې د پښتون قام په رويو او ژوند ژواک زړۀ پورې تبصره کړې ده .کۀ چرته ئې ددې قام د ښو خويونو ستائنه کړې ده نو د دوي د ځنو غلطو رسمونو رواجونو ئې غندنه هم کړې ده.

حوالې :

www.pukhto.net

1) محمد اعظم اعظم، پښتو افسانه ، تحقيق او تنقيد ، پېښور ، منظوم عام پرېس ، ۱۹۷٦ء ، مخ ۷۷
2) ډاکټر محمد زبېر حسرت، نقش ، د پښتو افسانې تحقيقي او تنقيدي مطالعه ، پېښور ، زرپانه پرنټرز ، ستمبر ۲۰۱۰ء ، مخ ۹
3) نورالرحمان سحر، ډولی ، تاثرات ، فيض الوهاب فيض ، د ادبي دوستانو مرکه مردان ، مارچ ۲۰۱۳ء ، مخ ۸۷
4) نورالرحمان سحر، ډولی ، تاثرات ، حسينه ګل، مخ ۱۳
5) نورالرحمان سحر، ډولی ، تاثرات ، مهراندېش ، مخ ۱٤، ۱٥
6) نورالرحمان سحر، ډولی ، تاثرات، سلېمان کامل ، مخ ۱۷
7) پروفېسر اسير منګل، د پښتو افسانې سل کلن بهير، څېړنه او کره کتنه، پېښور، دانش خپرندويه، ټولنه، اکتوبر ۲۰۱۳ء ، مخ ۳۰۱
8) نورالرحمان سحر، ډولی، مخ ۲٤، ۲٥
9) پروفېسر اسير منګل، د پښتو افسانې سل کلن، بهير، مخ ۳۰۱، ۳۰۲
10) نورالرحمان سحر ، مخونه ۲۳ ، ۷۸ ، ۱۲۳

# د سحر شور

"د سحرشور" د زلمي شاعر نورالرحمٰن سحر د غزلونو، نظمونو، هائیکواوخوندورو سندرو مجموعه ده چې په کال ۲۰۰۹ء کښې د ادبي دستانو مرکه مردان له اړخه خوره شوې ده- د دې نه وړاندې هم د دې ملګرو په کوششونو ډېر معیاري کتابونه چاپ شوي دي چې د پښتو ادب ځولۍ پرې ډکه او خوندوره ښکاري- د ښاغلي سحر شعري مجموعه هم یو داسې کوشش دے چې د ډېروشاعرانو توجهٔ ئې ځان ته راګرځولې ده-

دکتاب متعلق ډاکټرمحمدزبېر حسرت د خپل "زړهٔ خبره" کښې د اروابښاد ډاکټر امین الحق امین د یو شعر په تناظر کښې لیکي چې "مونږه په سالمه پښتونخوا کښې په مجموعي حېث د مردان شاعرۍ خصوصاً غزل ته ګورو نو یقیناً چې د پښتونخوا د هرې سیمې، خطې او منطقې نه خپل یو بیل رنګ او بدل آهنګ لري ځکه چې د هرې سیمې د شاعرانو شاعري د یو نه یو شاعر په رنګ کښې رنګ ده او د مردان شاعري د یوهٔ او بل نه جدا رنګ لري"-(۱) د محترم حسرت دا خبره صحیح ده ځکه چې کهٔ مونږ د مردان د ټولو شاعرانو د شاعرۍ جائزه اخلو نو د اول نه تر دې پورې چې په دې غزل زاره زمکه څومره هم شاعران تېر شوي دي یا د ژوند ورځې شپې تېروي نو د هر یو شاعر د شاعرۍ یو خپل رنګ دے- او دا اعزاز ښاغلي سحر ته هم حاصل دے چې په ډېره لږه موده کښې ئې خپل یو مخصوص رنګ ساده او سپېڅلې شاعري لوستونکیو ته وړاندې کړه او د اروابښاد امین الحق د دې شعر دعوی ئې برقرار وساتله چې:

www.pukhto.net

سخنور دي سخندان دي په لمن د پښتونخوا کښې
بس غزل خو د مردان دے چې نن هم دے پرون هم وۀ

(۲)

د پښتو ژبې شاعر او اديب فېض الوهاب فېض د ښاغلي سحر متعلق ليکي چې "هغه چې څنګه په خپلو شخصي کړو وړو کښې غلے غلے، قلار قلار، ساده او نازک دے دغه شان ئې شاعري هم د خپل شخصيت آئينه داره ده"(۳) دغه رنګه چې ما هم په وړومبي ځل ښاغلے سحر وليدۀ نو محسوسه مې کړه چې هغه يو خاموش طبيعته او بې ضرره انسان دے خو د شاعرۍ د زور نه ئې لا خبر نۀ وم چې دومره ښائسته شاعري هم کولے شي، سحر سحر دے، په انسانيت مئين شاعر دے- د نورو خلقو په خوشحالۍ خوشحالېږي او په خفګان ئې خفه کېږي- هغه د الله تعالى نه دا سوال کوي چې د چا په ښېرو دې چاته نقصان ونۀ رسي:

هلته چا په ډکه خُلۀ ښېرې وکړې
زړۀ د سحر دلې ووې، خدائے مۀ کړه

(۴)

ښاغلي سلېمان کامل د ښاغلي سحر پېژندګليو په ډېره خوندور انداز کښې سرته رسولې ده- په اخره کښې ئې "د سحرشور" د لوستونکيو احتساب ته حواله کړے دے او ځان ئې ډېر په هوښيارتيا سره له مېنځه وخکلے دے- د "اعتراف" د سر خط لاندې ښاغلي سحر د هغه ملګرو مننه کړې ده کومو چې ورسره د کتاب د چاپ کولو په مرحله کښې لاس امداد کړے دے او ګټه ورې مشورې ئې ورکړې دي-

ښاغلے سحر د الله تعالی ذات يوه لويه معمه ګڼي- د الله قدرتونو ته ګوري او حېرانېږي- دغه رنګه ښاغلے د خپل خوږ نبي حضرت محمد (ص) په مينه کښې هم مست دے- د نمونې په توګه د يو حمد او نعت دا شعرونه وړاندې کول ضروري ګڼم:

په معنٰی چې سوچ د ځان کړمه تا وينم
چې غندنه د دوران کړمه تا وينم
زما خدايه ذات دې لويه معمه ده
قدرتونو دې حېران کړمه تا وينم

خاوند د لوے قدرت ئې په عظمت باندې قائل دے
يو داسې لوے نبي لوے پېغمبر دے محمد (ص)
قربان ئې د نامې شم صدقه ئې د ياری، نه
درمان زما د خوږ زړۀ د پرهر دے محمد (ص)
(۵)

ښاغلےسحردوطن په مينه مئين شاعر دے هغه خپل وطن سره بې کچه مينه کوي- دپښتونخواپه هريو ښارله سره تېردے- خپل کورکلے مردان سره ئې هم ډېره مينه ده- دنمونې په توګه دا شعرونه:

وطن زما د شاملاتو زمکه
څوک رانه کلے او څوک ښار غواړي

زۀ د پښتونخوا په هر يو ښار له سره تېر يمه
دا بېله خبره ده، مردان سره مې مينه ده

هر سحر د پښتونخوا په پولو ګرځم
ډېره زرده چې لاچي لونګ او بنګ شم
(٦)

ښاغلے سحر يو مينه ناک شاعر دے هغۀ په خپله شاعرۍ کښې ځائے په ځائے د روزګار د غم سره سره د مينې، دوستۍ او يارۍ پت هم ساتلے دے۔ هغه د مينې د ټولو خويونو نه خبر دے او د هغو ټولو کشالو ذکر ئې کړے دے کومې چې د نن مئينانو ته راپېښې دي۔ دا څو شعرونه ئې د عشق او محبت غوره نمونې دي:

ستا دې قسم وي چې راوۀ نۀ ګورې
زۀ د خپل صبر انتها ګورم

ستا په هر ناز هره ادا مئين دے
ووايه ستا څومره سحر خوښ دے

زړۀ نادان دے نۀ پوهېږي
چرته ښار او چرته کلے

کله چې نۀ وي وايم نن به ورته هرڅۀ وايم
چې راشي هېڅ مې له خُلې نۀ ووځي، دا څۀ وجه ده

هر څوک د روزګار غمونو واخستل
ګرانه کړه مئينو ته ګرانۍ مينه

تا راټوپ کړۀ زړۀ مې ټوپ کړۀ
ما وې هله ساه مې لاړه

کۀ په مينه کښې دې پر شوم
بيا ستا پړے زما غاړه (۷)

د ښاغلي سحر شاعري ډېره ساده او زړۀ راښکونکے ده او خصوصاً د لنډ بحر شاعري خو ئې دومره خوندوره ده چې

لوستونکي په بیا بیا لوستو مجبوروي- د نمونې په توګه دا یو څو شعرونه:

زۀ او تۀ کۀ خپل نۀ شو
زۀ او تۀ به تل نۀ شو

زۀ او تۀ چې "زۀ" او "تۀ"
زۀ او تۀ به شل نۀ شو

د جانان غم دے
زړګیه کم دے
زۀ او تۀ وران یُو
هر سړے سم دے

ژوند عمل دے، حرکت دے
حرکت کښې برکت دے

څومره لرې لرې لاړ شو
په وړه وړه خبره

درګورم کتے نۀ شم
په یوه دوه کښې حېران یم
په تا باندې مئین یم
په تا باندې تاوان یم

(۸)

ښاغلي سحرچې په خپل کتاب کښې کوم نظمونو له ځاے ورکړے دے هغه هم دستائېنې جوګه دي- په دغو نظمونو کښې

مور، أنس، ګزران، ماته اوس مهٔ يادېږه، هوښياران، هيومن بينګ، څلان، ګل، لفظونه، مئين لېونے، فېصله، نن پرون، سرمايه، استاد، وړومبے قدم، مردان، وصيت، دعااود جلاد په نوم نظم هم شامل دے۔ د يو نظم "ګزران" څهٔ حصه ئې څهٔ په دې ډول ده:

په نرخونو باندې جنګ دے
يو بشر دے ښهٔ ارزان دے
کهٔ قاتل دے کهٔ مقتول دے
د ادم د خاندان دے

(۹)

د سحر شور کښې ډېرې خوندورې هائيکو هم شامل دي۔ هائيکو جاپاني صنف دے۔ د پاکستاني ژبو شاعرانو هم دې طرف ته ډېره توجه ګرځولې ده۔ د ښاغلي سحر يو څو هائيکو وړاندې کول ضروري ګڼم:

هغـه حجـره کښـې چـې چـيلم ونـهٔ څښـې
شـونډه کښـې کېـږدي د نسـواروچونډۍ
وائـــي دا هـــم د ښـــاپېرو نشـــه ده

پـرون مېلمـه ومـه پښـتون کلـي کښـې
کوربـه سـوچه غـوړي تـالي کښـې راوړل
مـا چـې ګوټـل پـه کښـې شـکره هـم وه

کلـــے زمـــا چـــا د نظـــره کړلـــو
حجـرې تـرې ختمـې شـوې ېټيکـې شـولې

زمـــا مېلمــــه صــــرف زمــــا پـــاتې شــــۀ

(۱۰)

د ښاغلي سحر شاعري چې زۀ ګورم نو داسې برېښي چې ښاغلي سحر ته د پښتو شاعرۍ په ګڼو اصنافو عبور حاصل دے د هرې موضوع په اظهار پوهېږي او راروان دور کښې به د ډېرو ښو ښو شاعرانو نه مخ په وړاندې لاړ شي-زما دعا ده چې ښاغلے سحر د ژوند او فن په دې لاره کښې چرې هم ستړے او ستومانه نۀ شي- په اخره کښې دا يو څو شعرونه چې د ښائسته شاعرۍ خوندورې نمونې دي:

سحره! زړۀ سپکوي، زړۀ درنوي
شاعري ښه ده، شاعري ښه نۀ ده

کور، حجره، جومات چې به پرې ښکلي وو
اوس سحره! هاغه پښتانۀ نشته

بيا مې ترې په سترګو کښې څۀ وغوښتۀ
بيا ئې ګوته ونيوله "دا" نۀ شي

د ډېرو سپينو زړونه تور وي اکثر
د ډېرو تورو زړونه تور نۀ وي

شـپـه اوږده شـوه سحرنشـتـه
لېونيـــــــــــــــه ژاړه ژاړه

(۱۱)

1/12/2009

# حوالې

1) نورالرحمٰن سحر، دسحرشور، تاثرات، د زړهٔ خبره، ډاکټر محمد زبېرحسرت، د ادبي دوستانو مرکه مردان،۲۰۰۹ء، مخ۱
2) ډاکټر امين الحق امين، "ګورې وريځې" مردان، کال۱۹۸۷، مخ ۱۳۱
3) نورالرحمٰن سحر، دسحرشور، تاثرات، فېض الوهاب فېض، شامخ
4) نورالرحمٰن سحر، د سحر شور، مخ ۳۲
5) هم دغه، مخ ۱۴، ۱۵، ۱٦
6) هم دغه، مخ ۱۹، ۵۹، ۸٦
7) هم دغه، مخ ۴۳، ۴۵، ۵۵، ٦۵، ٦٦، ۱٦۹
8) هم دغه، مخ ۳۰، ۳۱، ۵۲، ۵۳، ٦۷، ۸۲، ۹۹
9) هم دغه، مخ ۵۰
10) هم دغه، مخ ۳۱، ۱۱۵،۵۳
11) هم دغه، مخ ۷۸، ۸۴، ۹۵، ۱۳۵، ۱٦۹

www.pukhto.net

# له پېښوره تر سپین غره

د ښاغلي ډاکټر شېر زمان سیماب په رپورتاژ "له پېښوره تر سپین غره" د څهٔ وئیلو نه وړاندې ضروري ده چې په دې خبره ځان پوهه کړو چې رپورتاژ د فرانسیسي ژبې ټکے دے چې تعلق ئې نېغ په نېغه د انګرېزي ټکي "رپورټ" سره دے. غوره رپورتاژ هغه دے چې د خپلو سترګو لیدلے حال په کښې په یوه ادبي پېرایه کښې بیان شوے وي. د بل د خُلې اورېدلے سفري واقعاتو باندې رپورتاژ لیکلو سره د رپورتاژ حق سرته نهٔ رسي. بلکې په دا قسمه لیکونو کښې د حقیقت عناصر ډېر کم وي. لکه څنګه چې د سترګو لیدلے حال ربښتونے وي دغه رنګه هم دغه حال په رپورتاژ کښې بیانول د حقیقت عکاسي کوي. د نورو خلقو د خُلې اورېدلي شوي واقعاتو باندې ځنې نور اصناف لیکلي شي خو رپورتاژ نا. د ښاغلي ډاکټر صېب دا خواري د ستائیلو ده چې هغهٔ په خپله "له پېښوره تر سپین غره" تلے دے. په لاره لاره چې ئې څهٔ لیدلي او محسوس کړي دي هغې له ئې د رپورتاژ شکل ورکړے دے. ښاغلي ډاکټرصېب نهٔ یواځې د خپل سفر ذکر کړے دے بلکې د هغه ځاے د خلقو په ماحول او تمدن ئې هم خبره کړې ده. په ساده او روانه ژبه کښې ئې د خپلو جذباتو او احساساتو اظهار هم کړے دے. د ښاغلي ډاکټر صېب د کرمې سره د ډېرې مینې ثبوت د هغهٔ د نظم د دې یو څو شعرونو نه هم څرګندېږي کوم چې هغهٔ د دې رپورتاژ نه ډېر وړاندې لیکلے وهٔ

www.pukhto.net

د کرمـــې غـــاړې لـــه بـــه ځـــو لېـــونی
دا محبـــت بـــه ګـــل کـــوؤ لېـــونی
لاس بـــه پـــه لاس کښــې درلـــه نيســـم
پـــه تـــا بـــه اوشـــيندم ګلونـــه

تـــهٔ درخـــانی زهٔ آدم خـــان يـــم
تـــا بـــه ســـندره کـــړم جانانـــه
تـــهٔ مـــې ارمـــان زهٔ دې ارمـــان يـــم
دا بـــه تـــر ســـره کـــړم جانانـــه
بيـا بـه سـپين غـر تـه بـره ځـو لېـونی
دا محبـــت بـــه ګـــل کـــوؤ لېـــونی
لاس بـــه پـــه لاس کښــې درلـــه نيســـم
پـــه تـــا بـــه اوشـــيندم ګلونـــه (۱)

ښاغلي ډاکټر شېرزمان سيماب د خپل رپورتاژ "له پېښوره تر سپين غره" ليکلو په وخت د خپلې موضوع پوره پوره خيال ساتلے دے، هغهٔ چې په لاره لاره د کومو علاقو ذکر کړے دے نو د هغو علاقو خدو خال ئې هم په ډېر ښائسته شکل کښې وړاندې کړے دے د دغو علاقو په ثقافت او سماجي سرګرميو ئې رڼا اچولې ده او خپله موضوع ئې هم لکه د خپل سپوري ځان سره مخ په وړاندې بوتلې ده او د دې بنيادي وجه دا ده چې ښاغلي ډاکټر صېب خپل مقصد ته مرکزي او ځنې نورو ضمني مصروفياتو او مشاغلو ته ثانوي حېثيت ورکړے دے او زما په خيال ښاغلي ډاکټر صېب دا هرڅهٔ د دې د پاره کړي دي چې د

www.pukhto.net

کتاب لوستونکي په يو وخت د سفرنامې او رپورتاژ نه خوند واخلي او د دې دواړو ترمېنځه فرق محسوس کړي.

ښاغلي ډاکټرصېب په خپل رپورتاژ کښې د هغو خلقو ذکر هم کړے دے چې دوي سره په دې سفر کښې شريک نۀ وو۔ کۀ چا ورته فون کړے دے يا ئې د موبائل پېغام په ذريعه د دوي حال پوښتلے دے نو صېب ورته وئيلي دي چې پاړه چنار ته روان يم. دغه شان ئې دهغه خلقوذکرهم د دې رپورتاژ زينت جوړ کړے دے څوک چې ئې په خيال کښې راغلي دي يائې پرې چا سره بحث کړے دے. په حقيقت کښې د څنو وفات شويو او ژوندو شاعرانو اديبانو ښاغليو اجمل خټک، سليم راز، ډاکټر راج ولي شاه خټک، اکرام الله ګران، ډاکټراقبال نسيم خټک، پروفېسر محمد نواز طائر، سعدالله جان برق، ډاکټراظهارالله اظهار، اباسين يوسفزے، حميدالحق خاکسار، نګهت سيما کاکاخېل، وائس چانسلر اجمل خان، د خپلو شاګردانو رضوانه او عظمیٰ او د داسې نورو ذکر کول د رپورتاژ ښائست زيات کړے دے خو زۀ وايم چې په ژوندو شاعرانوکښې به ماهم ښاغلي ډاکټر صېب ته مېسج يا کال خامخا کړي وي خو له اوله تراخره چرته هم زما ذکر شوے نۀ دے. کم ازکم کۀ په خپلو خبرو کښې ئې زما د نېکو خواهشاتو ذکر کړے وۀ نو دا به زما د پاره ډېره د وياړ خبره وه او زۀ خو د ښاغلي ډاکټر صېب د دې سفر "له پېښوره تر سپين غره" په وخت خبر شوے وم او په دې طمع وم چې ښاغلے ډاکټر صېب به ما هم د ځان سره بوځي خو د طمعې کور خالي وي. دا خو چې زۀ خبرېدم نو ښاغلے ډاکټرصېب د

کوهاټ ټنل ته رسېدلے وۀ کوم چې د جاپاني حکومت په مرسته په دې غرض جوړشوے دے چې خلقوته د تگ راتگ لارې اسانې شي۔
د ښاغلي ډاکټر صېب د رپورتاژ لوستو په وخت مې دا فېصله وکړه چې هرڅومره کۀ دا ښاغلے زما نه پټ په پټه له پېښوره تر سپين غره تلے دے بيا به هم زۀ خپل ځان د دې رپورتاژ حصه جوړوم خو دا کار بغېر د تصور نه ممکن نۀ وۀ۔ لږ ساعت له مې سترگې پټې کړې، په يو تصور کښې لاړم۔ ځان سره مې له کوره د گېس يو سلنډر، د خوراک لوښي او يو د اوبو کولر راواخستو او چې سترگې مې وغړولې نو څۀ گورم چې ښاغلے ډاکټر صېب او يوسف حسېن يوسف په خپل 94کرولا کښې د کوهاټ ټنل سره نژدې د فوجي چک پوسټ په لائن کښې ولاړ وۀ ۔ ښاغلے يوسف حسېن څوک چې د پاړاچنار په انتظامي محکمه کښې د جوډيشنل کلرک په عهده کار کوي په ما ئې نظر ولگېدۀ ۔ ښاغلي ډاکټر ته ئې ووئيل چې دغه سړے چې په لاسونو کښې ئې د گېس سلنډر، د اوبو څښلو کولر او نور سامان نيولے دے ترهه گر دے ۔ هم په دې چک پوسټ کښې ئې فوجيانو ته حواله کوو۔ دا ښه شوه چې د ډاکټرصېب راته خيال شۀ، په خندا خندا کښې ئې ښاغلي يوسف سره زما تعارف وکړۀ چې دا خيالي دے۔ په موټر کښې د سورېدو نه پس ئې راته ووئيل چې له پېښوره تر پاړاچناره بلها هوټلونه دي ۔ څۀ ضرورت وۀ چې دا دومره د خوراک تيارولو سامانونه دې په ځان بار کړي دي ۔ هاغه وگوره د دې هوټل نوم "سپين غر" دے ۔ هم دلته به د تيار کابلي پلاؤ نه مزه واخلو۔ بيا به زرتر زره خپل منزل ته روانېږو ځکه چې پاړاچنار ته لا ډېره لار پاتې ده او مونږه لا په سبر کښې

پوهي. هم نهٔ ده رېشلې- ما ورته ووئيل د کابلي پلاؤ نه به مزه واخلو خو د دې نه وړاندې راته خپل هغه نظم واوروئ کوم چې تاسو ډېره موده وړاندې د کرمې سره د مينې په يو تخيلاتي پس منظر کښې ليکلے وهٔ، ډاکټر صېب ووئيل چې د هغه نظم د اولنۍ حصې څنې شعرونه خو تاسو ته ما په خپل دفتر کښې اورولي وو خو چې ستا دومره خوښ دي نو د هغه نظم نور شعرونه به درته هم واوروم کوم چې تا اورېدلي نهٔ دي

دواړه ولاړ به په سپين غر يُو
په چار چاپېر به مو نظر وي
دواړه به ډوب په دې منظر يُو
هم به کابل هم پېښور وي
لوڼے ملاکنډ به هم ښارو لېونی
دا محبت به ګل کوؤ لېونی
لاس به په لاس کښې درله نيسم
په تا به اوشيندم ګلونه

تهٔ به د خپل سيماب تر څنګ ئې
سيماب به ستا تر څنګ ولاړ وي
تهٔ به د خپل سيماب په تنګ ئې
سيماب به ستا په تنګ ولاړ وي
خپله پښتو به وپالو لېونی
دا محبت به ګل کوؤ لېونی
لاس به په لاس کښې درله نيسم

www.pukhto.net

پـــــه تـــــا بـــــه اوشـــــیندم ګلونـــــه (2)

زهٔ چې په خپل خودساخته تصور کښې د ښاغلي ډاکټر صېب سره د ضلع هنګو بائي پاس ته ورسېدم نو مخ ئې راواړوهٔ چې زهٔ حېران یم چې تهٔ په کومه طریقه د سکنډونو په حساب زمونږ د لارې ملګرے جوړ شوے- زما خو دا کوشش وهٔ چې د دې پروګرام نه دې ناخبره وساتم- ما ورته ووئیل کهٔ یو سړے تاسو سره د سکنډونو په حساب د لارې ملګرے جوړېدے شي نو یقین لره چې هم دغه سړے به د سکنډونو په حساب ستانه غېبېدے اوبېلېدے هم شي- ښاغلي ډاکټر صېب د چېلنج په طور ووئیل چې اوس ستا غېبېدل ممکن نهٔ دي- تهٔ انسان یې څهٔ پېرے یا ښاپېرے نهٔ یې چې کله دې خوښه وي پېدا شې او چې کله دې زړهٔ وغواړي نو غېب شې- ما ورته ووئیل "دا ګز او دا مېدان"- لږ ساعت له مې سترګې پټې کړې- چې ښاغلے ډاکټر او یوسف حسېن پوهېدل نو زهٔ د هنګو بازار په ډاکخانه (پوسټ افس) کښې خپل زوړ یار شاعر نعمت الله نعمت سره ناست وم- ډېر زر د ډاکټر صېب مېسج راغے چې ماته پته نهٔ وه چې تا په بنګال کښې د جادوګرۍ تربیت حاصل کړے دے- مونږه ټل ته مخه وکړه- د مني بېګم د خوندور اواز نه مزې اخلو، د پښتونخوا دنګو لوړو غرونو ته په مینه مینه ګورو او تهٔ خپل زوړ یار نعمت سره پوخ کښېنه، ما ورته کال وکړهٔ چې ډاکټرصېب ما د خپل ځان نه بېل مهٔ ګڼه، کهٔ لږ ساعت له مې سترګې پټې او بیا وغړولې نو تاسو سره به ناست یم- فی الحال تاسو د یوسف حسېن سره تماس ونیسئ- د ټل نه وړاندې دوابه، درسمند او د مامو خوړ سېلونه وکړئ- هن! په لاره کښې به درته یوه لویه غونډۍ د ټل قلعه

هم ښکاره شي چې ټل سکاؤټس به ئې پرې ليکلے وي- دا قلعه په نولسمه صدۍ کښې انګرېزانو جوړه کړې وه نور معلومات به درته يوسف حسېن درکړي او زۀ به انشا الله لږ ساعت پس په سده کښې تاسوسره يوځاے کېږم- ښاغلے ډاکټر مسکے شۀ- وئيل ئې يوسف حسېن وائي چې دا جادوګري مونږ ته هم وښايې- ما ورته ووئيل چې هرکله د سدې پُل ته نژدې شۍ نو دواړه دوستان به خپلې سترګې په روان ګاډي کښې د لږ ساعت د پاره پټې کړۍ، د خپلې خوښې د پښتو يو شعر وئيلو نه پس به سترګې وغړوۍ، زۀ به تاسو سره يم-

ښاغلي يوسف حسېن د سدې پُل ته په رسېدو ښاغلي ډاکټر ته د سترګو پټولو او بيا غړولو هدايات درياد کړل خو ډاکټر صېب انکار وکړۀ چې دا جادوګر مونږ دواړه د سدې پُل نه ښکته غورزول غواړي- په روان موټر کښې سترګې پټول او غړول د لېونو کار دے او کۀ دا لېونے ما د ځان سره له پېښوره تر سپين غره راوستل غوښتل نو په وخت به مې خبر کړے وۀ دا خو په ډنګ اريان دے، بې تپوسه موټرته راخېژي او بې دعوته مېلمه کېږي- يوسف ورته ووئيل کۀ هرڅۀ دي بيا هم زمونږ مېلمه دے- دواړو دوستانو سترګې پټې کړې او چې په يو اوچت اواز ئې د دې شعر وئيلو نه پس سترګې وغړولې نو زۀ ورسره ناست وم:

چې په يو قدم تر عرشه پورې رسي
ما ليدلے دے رفتار د درويشانو(3)

ډاکټر صېب ماته ډېر غصه وۀ خو چې په لاره لاره په وړو غټو کلو بالش خېل، ابراهيم زے، ټوپکي، بوساړ، سميرباغ، عمل کوټ، سلطان کلے او د شبلان نومې کلي نه راتېر شو نو غصه

www.pukhto.net

ئې ختمه وه- بيا ئې راته ووئيل چې په دې سيمه د شيعه مسلک دخلقو اکثريت دے- هر طرف ته په بېرغونو د ياحسېن او ياعلي مددليکل واضحه ليدے شول- په لاره لاره مې په خپلو تصوراتو کښې د عالم شېر کلي سېلونه وکړل کوم چې د يوسف کلے دے- د زېړان نومي کلي نه مې خوندونه واخستل- دا يوه سرسبزه او شادابه علاقه ده- د دې علاقې ګورې وُنې، د نروسپينواوبولختي، يخه يخه هوااوخوندور موسم د ستائنې جوګه دے- په شلوزان هاؤس کښې مې په مشاعره کښې ګډون وکړۀ، په عليشاري کلي کښې مې د فخري بنګش سره ليدۀ کاتۀ وشول- ماپه خپلوتصوراتوکښې دالغازي ايجوکېشنل اکېډمې د يومِ والدين پروګرام کښې هم ګډون وکړۀ- په دې پروګرام کښې ماشومانو تقريرونه، ملّي ترانې اوخاکې وړاندې کولې- د اے پي ايس د سانحې باره کښې هم نظمونه ووئيلے شول- په دغه وخت کښې ماته هم د اردو دا شعر رایاد شۀ:

مجھے ماں اس سے بدلہ لینے جانا ہے
مجھے دشمن کے بچوں کو پڑھانا ہے

ښاغلي ډاکټر صېب ته مې ووئيل چې هغوي به زمونږ بچي وژني، زمونږ په تعليمي ادارو به خودکش حملې کوي او مونږه به د هغو بچو له تعليم ورکوو، دا څنګه خبره ده- دا خو داسې شوه چې مونږ ته خپل دښمنان او د هغوي کورونه معلوم دي خو له ويرې پرې لاس اچولے نۀ شو- زۀ وايم چې هم دغه دښمنان زمونږ د داسې دوستانو ملګري دي چې چرې هم زمونږ دوستان جوړېدے نۀ شي- يو طرف ته راله امدادونه راکوي او بل طرف ته زمونږ وطن ته ترهه

ګر رالېږي- داخل راته ښاغلے ډاکټر صېب ډېر غصه شۀ، وئیل ئې چې د پښتو اکېډمۍ د بک شاپ انورخان لالا نه مې سلوشن ټېپ راوړے دے، کۀ بله خبره دې وکړه نو خُلۀ درله بندوم، څه مړه څه، د سکول پرنسپل مرجان علي درته ښغ ښغ ګوري او تا په روان پروګرام کښې شور جوړ کړے دے-

د دې نه پس مې په خپلو تصوراتو کښې د ملانۍ د ډېم سېل وکړۀ- د بارډر په لور او د بارډر نه واپس شلوزان هاؤس پورې مو د سېل نه خوندونه واخستل، له کُرمې نه تر پېښوره مو د واپسۍ اراده وکړه- ښاغلي ډاکټرصېب ووئیل چې زۀ به په خپل سفر "له پېښوره تر سپین غره" رپورتاژ لیکم- ما ورته ووئیل دا خو ډېره د خوشحالۍ خبره ده، زما ذکر په کښې هم وکړئ- ډاکټر ووئیل چې دا ټټو دې په سپوري وتړه- زۀ نۀ غواړم چې زما په رپورتاژ کښې دې ستا ذکر هم راشي- ما ورته ووئیل کۀ ستا زړۀ ښۀ کۀ ښۀ نۀ وي- زۀ به په خپلو تصوراتو کښې ستا په رپورتاژ "له پېښوره تر سپین غره" کښې خپلې موجودګۍ له ځاے ورکوم- هغوي ووئیل دا به څنګه ممکن شي- ما ورته ووئیل چې د هر چا خپل خپل تصورات وي او کۀ د دغه تصوراتو په بنیاد زۀ تاسو سره پاړاچنار پورې تلے شم نو څۀ ګرانه ده چې ستا په چاپ شوي رپورتاژ کښې خپله موجودګي یقیني کړم-

ښاغلے ډاکټرصېب چې کورته ورسېدۀ نو خپلو زامنو زرک خان او فېض یاب ترې پوښتنه وکړه چې تاسو خو مېسج کړې وۀ چې خیالي هم راسره دے- ښاغلي ډاکټرصېب یو خوا بل خوا اوتر اوتر وکتل چې څه‌شته‌؟ بیائې خپلو زامنو ته ووئیل چې خیالي اوس هغه

خیالي تهٔ دے جلوګر شوے دے چې ته چې وغواړې پیدا شي او چې ته چې وغواړې نو د غزل په پناه شي ځکه چې تر سبا ئې د بنګالیانو په وطن کښې د جلوګرۍ په شعبه کښې داخله اخستې ده.

10مه مئي 2016

## حوالې


1) ډاکټر شېرزمان سیماب،له پېښور تر سپین غره، رپورتاژ، عامرپرنټ او پلېشرز پېښور، ۲۰۱٦ء مخ ۸۲
2) هم دغه، مخ ۸۳
3) عبدالرحمان، د رحمٰن بابا کلیات، تحقیق، ترتیب او سمونه، دوست محمدخان کامل، قلندرمومند، پېښور، کال۱۹۸۴ مخ، ۱۷۲


د ډاکټر عبدالرؤف عارف

# ګمان

کهٔ د خپل لیک په شورو کښې ملګري عبدالرؤف عارف ته خواست وکړم چې د خپل نوم سره په ادبي دنیا کښې د "ډاکټر" اضافه وکړي یعنې "ډاکټر عبدالرؤف عارف" نو بده به نهٔ وي ځکه

www.pukhto.net

چې کۀ زما او د هغۀ نور دوستان د پي ایچ ډي ډګرۍ اخستو په ذریعه د ډاکټرۍ مرتبې ته رسېدې شي نو ښاغلے عارف هم د چا نه کم نۀ دے. د پښتون تهذیب او ثقافت په حقله لویه پوهه لري. د خپلې معاشرې د استوګنو په خویونو او کردارونو ئې نظر دے او خپل عملي ژوند کښې ئې هم د ډاکټرۍ پېشه اختیار کړې ده.

ښاغلي افتاب بدر(۱) په مختصروټکوکښې دډاکټرعارف د ګمان جائزه اخستې ده. ښاغلي سلېمان کامل (۲) د ډاکټر عارف لنډه شان پېژندګلیو، د ګمان وضاحت، کمپوزنګ، سرپاڼې او د چاپ ګنې ذمه وارۍ سرته رسولي دي. ښاغلي ساحل یوسفزي (۳) د ګمان شاعري د ځوانو، تاندو جذبو او احساساتو یوه لاړواله مجموعه او د قدر وړ اضافه ګڼلې ده. د مردان په شاعرانو ادیبانو کښې فېض الوهاب فېض د ډاکټرعارف کلیوال، د هغۀ د شعر وړومبے اورېدونکے او نقاد پاتې شوے دے. کۀ په ګمان کښې د ښاغلي فېض تاثرات راوړے شوې وې نو د وړومبي سامع، نقاد او کلیوالۍ حق به نور هم سر ته رسېدلے وۀ. د خپل پلار او مئینې مور په خدمت کښې سوغات، د ارواښاد ایوب صابر او محترم قمر راهي په نوم ترون ئې د هرڅۀ نه ښۀ دے.

د ملګرو شاعرانو په چاپ شویو مجموعو کښې په وړومبي ځل د ګمان په شکل کښې یوه داسې مجموعه په لاس راغله چې په هغې کښې د ښتون قام تهذیب او ثقافت سره تړلي ټول موضوعات راوړي شوي دي. ډاکټر عارف د خپلې شاعرۍ په ذریعه د دې قام اومعاشرې په ګڼوخصوصیاتورڼاچولې ده او دا ئې وئیلي دي چې

www.pukhto.net

دغه تاسو یئ، دغه ستاسو تهذیب، ورورولي، غم ښادي، راشه درشه، ژوندژواک او نورې دژوند تېرولو طریقې دي.

نن سباچې په ملي او بین المللي سطح د مسلمانانو او خصوصاً د پښتنو مسلمانانو د تهذیب د کړۀ وړۀ مسخ کولو کوم سازشونه شورو شوي دي هغه د چا نه پټ نۀ دي. دغه غټ خبتو او شین سترګو د خپلو ډالرو بوجۍ خپلو مخصوصو مقصدونو سرته رسولو د پاره برخېره کړي دي. ښاغلے ډاکټر عارف چې یو سترګه ور شاعر دے څنګه د دې حالاتو نه سترګې پټولې شي. هغۀ د دغو ملکونو د پټو سازشونو ذکر ښۀ په ډاګه کړے دے. دغه رنګه ډاکټر عارف د خپل وطن هغه مخونه هم پېژني کوم چې په دې ورانې کښې شریک دي. دغه کاڼۀ، ړاندۀ، جاهلان، لېوني، پاګلان، قاتلان، اجرتیان، دروغژن، ریاکار، جوارګر، بدکردار، زرپرست، ظالمان او تګان خلق کۀ چا پېژندلي نۀ وي نو د "ګمان" د لوستو نه پس به ئې ضرور وپېژني.

د دې دومره فساداتو، سانحو، بربادۍ او عذابونو نه پس چې هم دا وطن او د دې ښارېې اٰبادې دي نو یقیناً چې یوه معجزه ده. د ډاکټر عارف ډېر ګڼ نظمونه هم د دې فساداتو، سازشي عناصرو، دجالي فتنو، سانحو او مختلفو راپېښو کشالو متعلق لیکلي شوي دي. په دغو کښې دجال، اهرمن، دربار، تګان، بلا، سانحه، معجزه او عذابونه د قدر وړ نظمونه دي.

ډاکټر عارف د نظمونو لیکلو ډېره لویه تجربه لري هغه که په بین المللي سطح حوادثو نظمي قیصه کړي یا په ملي سطح د خپل کور کلي او وطن د ظلمونو ذکر کړي نو ډېر په هنر او استادۍ سره ئې کړي.

www.pukhto.net

د کتاب په حواله د پېښتم صفحې "تونلي" او په پنځه اتیایم صفحې "طوفان" نظم ئې د ستائنې جوګه دے. دغه رنګه په بوځو نظمونو کښې خو دوي قيصې هم راوړې شوې دي. په دغو کښې د مينې قربانۍ او قيصه نوې نظمې د قدر وړ دے.

ښاغلے ډاکټر عارف د مينې محبت خبره هم ښۀ په نره کوي. خپله پښتو او پښتونولي ئې کچه کړې نۀ ده او نۀ ئې پاتې خبره کړې ده. د خود دارۍ جذبه ئې د قدر وړ ده. د خپل جانان نه بغېر جنت تلو ته هم انکاري دے. د وفا او خلوص درس ورکوي. په ګمان کښې ډېر داسې نظمونه دي چې په هغې کښې د مينې او خود دارۍ په مختلفو اړخونو رڼا اچولې شوې ده. په دغو کښې انعام، مس کال، وصال، انکشاف، اقرارنامه، اعتراف، دوزخ = جنت، معذرت، ثنا، ځواني، بې نوا، انحراف، جواز، دوه زړونه او Fantasy دمينې او خود دارۍ نه ډک خوندور نظمونه دي.

د محترم اروانښاد ډاکټرامين الحق امين شاعري "ګورې وريځې" چې په اول ځل چاپ شوه نو ما به هره شپه په مينه مينه کتله، خوندونه به مې ترې اخستل. ترهغې به خوب نۀ راتلو ترڅو به مې چې د ډاکټر امين نظمونه بيا بيا لوستي نۀ وو. اکثر به مې ځان په ګورو وريځو کښې پټ کړې وۀ اونن دا څوېمه ورځ ده چې د ډاکټر عارف "ګمان" ګورم، يويونظم مې بيابياپه لوستو مجبوروي.

د ډاکټر عارف شاعري چرته هم په لوستونکيو بوج يا ثقالت نۀ راولي بلکې زما يقين دے کۀ د بوريت ښکار شوي دوستان، شاعران او نور مکتبۀ فکر سره تړلي لوستونکي د "ګمان" شاعري په غور وګوري نو ارو مرو به ئې د زړۀ بوج او ثقالت

www.pukhto.net

ختمېږي- د دې وجه دا ده چې د ګمان شاعري خپل لوستونکي په نیمه کښې نۀ پرېږدي بلکې د ځان سره ئې هغه منزل ته رسوي چرته چې ډاکټر عارف په خپله روان دے-

ښاغلے ډاکټرعارف دخپلې معاشرې دخلقودخویونو، رویو او کردارونو نه ښۀ خبر دے- هغه د خپلې معاشرې د خلقو خویونو، رویو او کردارونو ته په غور ګوري- کۀ د ستائېنې وخت راغلے دے نو ستائېنه ئې کړې ده او د کړلو په وخت ئې پرې طنز هم کړے دے- هر بدکردار او باکرداره ته ئې ائینه نیولې ده چې خپل مخونه په کښې وګوري- هغه دا قسمه خلقو ته ډېره په ساده او معلمانه انداز کښې د ښۀ ژوند تېرولو تعلیم ورکړے دے او د هغوي د ویښولو ئې پوره پوره کوشش کړے دے- هغه پښتون قام ته د هغوي لوړ مقام په ګوته کړے دے چې دا تاسو څۀ کوئ؟ دغه ستاسو تهذیب او ثقافت نۀ دے، دغه کردارونه تاسو سره سمون نۀ خوري بلکې دا هرڅۀ ستاسو د مذهب، تهذیب، ثقافت او معاشرې په ترخ کښې دي- په دې لړ کښې کۀ هغه د باز د بچو د راویښولو کوشش کوي اوکۀ په بازارونو او کوڅو کښې د زِناکارو، حرامیانو، ښکاریانو، د ښکار خبره کوي نو ښۀ په ډاګه ئې کوي- په دا قسمه نظمونو کښې ښکار، د باز بچي، تقابل او ځنې نور شامل دي- دغه رنګه کۀ ډاکټر عارف د یوسف وروڼه، میراث، ګمان، دېو، لمبه، حل، دغنم دانه، مداري، انتها+ابتداء او سراب غونډې زړۀ راښکونکي نظمونه لیکلے شي نو بل طرف ته هغه یو غزل ګو شاعر هم دے-

ډاکټر عارف په خپل "ګمان" کښې ځنې غزلونه هم راوړي دي د یو غزل دوه شعرونه ئې په دې ډول دي:

لشه د هر چا په نظر کښې وه چې وئې باسي
دا فکر چا سره هم نۀ وۀ مچی چرته لاړه
عجيبه نۀ ده چې ډاکه په کلي پرېوتله
عجيبه دا ده چې ولاړه ځوکی چرته لاړه (۴)

په مينه کښې تور او سپين نۀ وي، د دې کار د زړۀ او سترګو سره دے، د زړۀ نه زړۀ ته لار وي، کۀ د چا اشنا تور هم وي نو د هغۀ په سترګو ښکلے ښکاري. ځکه ډاکټر عارف ته هم خپل تور اشنا د نورو خلقو د ښکليو او ښائسته اشانايانو نه زيات ښائسته ښکاري. هغه وائي کۀ زما اشنا تور دے نو هم زما دے، په نورو خلقو ئې هېڅ قسمه زور نشته، د نمونې په توګه دا شعر:

نۀ پوهېږم چې په خلقو ئې څۀ زور دے
ما ته وائي ستا اشنا له رنګه تور دے(۵)

د پښتو متل دے چې "په ډېره لېوني خوشحالېږي" نو ځکه ډاکټر عارف د اشنا دوه خبرې هم غنيمت ګڼي:

لېوني دي چې په ډېرو خوشحالېږي
دوه خبرې د اشنا هم غنيمت دے (٦)

ډاکټر عارف د لنډ بحر شاعري هم کولے شي، هغه په لنډو او مختصر ټکو کښې ډېرې د کار خبرې کوي، په اٰخره کښې د هغۀ د غزل يو څو شعرونه وړاندې کوم او بيا اجازت غواړم، د نمونې په توګه دا شعرونه:

زړۀ دے قلارېږي نه
سترګې دې وچېږي نه
داسې په اسانه هم

ځــوک لــه چــا هېرېــږي نــه
بــل تــه هــم غــوږ نــهٔ نیســي
خپلـــه هـــم پـــوهېږي نـــه
دغـــه یـــو عـــارف دے بـــس
ستا زړهٔ کښــې ځـائېږي نـه(۷)

## حوالې

1. عبدالرؤف عارف، گمان، جائزه، افتاب بدر، د ادبي دوستانو مرکه مردان، اول ځل۲۰۰۹ء، شامخ
2. سلېمان کامل، گمان، مخ، د سریانې په شا
3. ساحل یوسفزے، تاثرات، گمان، مخ د فلېپ په شا
4. عبدالرؤف عارف، گمان، مخ، ۱۷۱
5. همدغه، مخ، ۱۷۲
6. هم دغه، مخ، ۱۷۵
7. هم دغه، مخ، ۱۷٦

۸فروري ۲۰۱۰ء

# ادراک د ژوند او جانان

ادراک د ژوند او جانان د ښاغلي اسرارالله اسرار شعري مجموعه ده چې د ښاغلي نورالرحمٰن سحر د ترتیب د سلېمان کامل د کمپوزنگ او د مرکه پبلي کېشنز مردان له اړخه د چاپ کولو نه پس په کال ۲۰۱۲ء کښې زما په لاس راغلې ده- په دې

www.pukhto.net

کتاب کښې د ښاغلي اسرار باره کښې د ښاغلي عبدالواحد قلندر خاکه "اندړتېکر" د ښاغلي فرمان الدین بخشالوي پېژندګلیو د کامل تاثرات او د نظم په ژبه د نثار عالم "د قدرونو ترجمان" د ستائنې جوګه دي- ښاغلي سیدعابد جان هم د ښاغلي اسرار د ادراک جائزه اخستې ده خو د خپل لیک په شورو کښې ئې هېڅ بې هېڅه د ګنو زلمیو شاعرانو دښمني په سر اخستې ده او دغه نور زلمي ئې د څانه خفه کړي دي- دوي لیکي چې:

"د پښتو ادب د یو لوستونکي په حېث زۀ د زلمي کُول د شاعرانو د یو ګڼ شمېر نومونو سره اشنا یم او د هغوي اثار مې لوستي دي خو کۀ رښتیا وایم نو د دې شاعرانو اکثریت زۀ مایوسه کړے یم- نۀ خو ئې زما جمالیاتي ذوق مطمئن کړے دے او نۀ ئې راته ادبي تنده سړه کړې ده- نۀ خو ئې زما جذبات راپارولي دي او نۀ ئې راته د فکر په دنیا کښې راهنمائي کړې ده- نۀ ئې زما د حساس حسن تسکین کړے دے او نۀ ئې زما بې قرارۍ ته قرار او قرار ته بې قراري بخښلې ده-(۱)"

ښاغلے عابد جان د دغه شاعرانو باره کښې دا هم لیکلي دي "چې د شاعر او لیکوال نوم په څان پورې کړي، د ادب سره دغه مسخرې کوونکي په دغه ذریعه د خپل نوم څلولو کوشش کوي او خپل قدر لوړوي" د ښاغلي عابدجان صېب نه ډېر په معذرت سره چې په دغه دور کښې نور هم ډېر ګڼ شمېر داسې زلمي شاعران موجود وو خو د هغوي شاعري تاسو لوستې نۀ ده ګني ضرور به ئې ستاسو جمالیاتي ذوق مطمئن کړے وۀ، ستاسو ادبي تنده به ئې سړه کړې وه او ستاسو بې قرارۍ ته به ئې قرار هم بخښلے وۀ-

ښاغلي اسرار سره زما وړومبے ملاقات په کال ۱۹۸۵ء کښې شوے وۀ- زما د پوهې او معلوماتو مطابق د کال ۱۹۷۲ء نه تر کال ۱۹۸۴ء پورې ښاغلے اسرار د يو زلمي شاعر په نوم يادېدۀ خو د کال ۱۹۸۵ء نه راپه دېخوا ښاغلے اسرار د يو ښۀ استاد شاعر په حېث پېژندلے شوے دے- ښاغلے اسرار په دغه ورځو کښې د نوي کُول شاعر نۀ وۀ بلکې د نوي کُول د شاعرانو استاد شاعر وۀ او زۀ خو ئې په ځان دومره مئين کړے وم چې اکثر به په خپل کاواساکي موټرسائېکل د اسرار صېب ديدن د پاره بخشالي ته راتلمه- دا ښه شوه چې په کال ۱۹۹۲ء کښې ئې ماسره د "پښتو ليکونکي مردان" په نوم د يوې ټولنې بنياد کښېښودۀ- د هرې جمعې په ورځ د سحر نهۀ بجو نه تر دولسو بجو پورې به ئې مونږ سره د پښتو ادب په مختلفو موضوعاتو خبرې کولې او ځکه خو ئې دا دوه شعرونه زما زړۀ ته ډېر پرېوتي دي:

ما په کښې کان د ادب ناوې جانانه موندے دے
په يو مرګي به رانه تلل بس د مردان پاتې شي

اسرار به وي د بخشالي خو هر ځاے خپل ګڼي تل
ځي د پښتو ادب د پاره په مردان پرېوځي

(۲)

د ښاغلي اسرار ادراک د ژوند او جانان زما په وړاندې دے- په دې کتاب کښې چې کوم نظمونه زما ډېر خوښ شوي دي په هغو کښې "د قدرونو آئينه"، حسن کائنات"، "رحمت اللعالمين"، "د حسن په بام د ژوند سپرلے"، "جانان د ښائستونو" او "وطن د

ښکلاګانو" ډېر زيات د ستائنې جوګه دي۔ د قدرونو آئينه او د رحمت اللعالمين نومې نظمونه ئې څۀ په دې ډول دي:

هر دور بيل بيل نوم سره ياد کړے دے اسراره
موسوم چې ورته نن يو اسم ذات دے هغه څوک دے

يو نور دے يو طاقت دے بس يو روح په کائنات کښې
بورګ دے بن اېچګ دے په موجود مخلوقات کښې
د مينې د وجدان د فلسفې نه زۀ خبر يم
د حسن او د خېر صداقت شته دے زما ذات کښې

ارزو کۀ چرې مونږه د روښانه سباؤن کړو
پکار دي د حضور ښودلې لار باندې چې يُون کړو
قرآن ته په سجده چې د وخت سائنس او خپل ژوندون کړو
مومن ګورې بيا هله مستحق د امامت دے
د وخت په پلونو پلونه ږده د ژوند دا ضرورت دے

(۳)

د ښاغلي اسرار ژوند او فن د مينې نه ډک وۀ۔ هغۀ کۀ د چا نه مينه غوښتې ده نو مينه ئې هم ورکړې ده۔ هغۀ همېشه د مينې کرونده کړې ده۔ د تور سپين، غريب مالدار، د اصل نسل تضاد او تفاوت د ختمولو کوششونه ئې کړي دي او د خپلې شاعرۍ په ذريعه ئې د مينې درس ورکړے دے د نمونې په توګه دا شعرونه:

خوا نه د ګلو دا ازغي د رقابت لرې کړئ
غېږې د مينې ورکړئ خيرې د نفرت لرې کړئ

www.pukhto.net

د تور او سپين، غريب مالدار، د اصل نسل تضاد
د مينې باب نه بيخي دغه تفاوت لرې کړئ
تخم د مينې کرونده کړئ، ځئ د ژوند په پټو
د شعور لور باندې ترې بوټي د نفرت لرې کړئ

مينه ثواب، نفرت عذاب، مايوسي مرګ چې ګڼي
دغه اسرار به بريالے په هر ميدان پاتې شي

(۴)

ښاغلے اسرار يو امن خوښه شاعر وۀ، هغۀ په ټوله نړۍ کښې امن غوښتے دے، د هغۀ لوے ارمان امن دے، بلکې د هغۀ ټوله شاعري د مينې او امن شاعري ده. دا يو څو شعرونه وړاندې کول ضروري ګڼم:

زما د ټولې شاعرۍ نچوړ دے مينه مينه
تل په وطن د خوشحالۍ امن اسرار غواړمه

د ښائستونو د سپرلي غېږ کښې کۀ امن غواړئ
د يويشتمې صدۍ غږ دے، وخت د کار تېرېږي

د مينې په کالۀ کښې چې بس ساه د امن واخلو
زمونږ دغه ارمان، دغه ارمان، دغه ارمان دے

زۀ د مينې کور کښې ژوند د امن غواړم
کۀ په نزد د چا کافر کۀ مسلمان يم

(۵)

ښاغلے اسرار صيب د خپلو کشرانو يا همځولو شاعرانو سره سره د خپلو مشرانو هم ډېر زيات قدردان وۀ. هغوي سره به ئې

بې کچه مینه کوله۔ د مردان د غزل ښهٔ شاعر محترم شمس القمر اندېش صېب سره د خپلې مینې اظهار څهٔ په دې ډول کوي:

غزل چې د اندېش اواز د خیال وي څنګ به ځم
هم دغه شانې نهٔ کېږي بس ستا نه زما زړهٔ

زهٔ اسرار کهٔ ئې د زړهٔ په سترګو ګورم
د اندېش شعرونه ټول لعل و ګوهر دي

(٦)

ښاغلي اسرارصېب په خپل کتاب کښې د صنعت ارسال المثل نمونې هم راوړي دي۔ ښاغلے شاعر په دې پوهه دے چې د متل استعمال سره په شعر کښې خواږهٔ زیاتېږي، ځکه ئې په خپلو شعرونو کښې د متل مفهوم بیان کړے دے چې لوستونکي ئې د زړهٔ په مینه وګوري او خوند ترې واخلي لکه دا یو څو شعرونه:

میاشت د اول نه معلومېږي مونږ پرې ښهٔ پوهېږو
چې د نفرت کشتۍ روانه ده بهنور ته رسي

د وخت فرعون ته به د وخت موسیٰ زېږېږي ضرور
بیا به قیامت شي کهٔ د سر د پاسه سر نهٔ خېژي

څوک کهٔ هرڅهٔ وائي خو نمر په ګوته نهٔ پټېږي
زمونږه مینې ته به ټول جهان حېران پاتې شي

په ما باندې دے ګران د زرو قدر په زرګر وي
منم ګران به په هر چا وي خو ماته پاس اسمان دے

www.pukhto.net

اسرار په کښې سرڅينه کومه د ادب ناوې ته
هر چاته خپل وطن کشمير وي زۀ مردان يادوم

محبتونه خو په زور نۀ کېږي
په منتونو کلے کور نۀ کېږي

(۷)

د ښاغلي اسرار ادراک د ژوند او جانان لوستونکي په بيا بيا لوستو مجبوروي۔ د دې کتاب د مطالعې نه پس زۀ په دې نتيجه ورسېدم چې ښاغلے اسرار لکه چې په خپله پوست ژبے او رنګين خيال وۀ، دغه شان ئې شاعرۍ کښې هم رنګين خيالي غزونې کوي۔ لکه څنګه چې په خپله د هغۀ په قول او فعل کښې تضاد نۀ وۀ دغه رنګه ئې شاعري هم د دې قېد نه ازاده ده۔ هغۀ په ډېر هنر سره په خپله شاعرۍ کښې د تشبيهاتو او استعاراتو استعمال کړے دے۔ په خپله شاعرۍ کښې ئې ډېر ګڼ موضوعات راوړي دي خو د طوالت له وېرې د هغې ذکر کولو نه ډډه کوم او دا کار خپلو نورو دوستانو شاعرانو ته پرېږدم۔ په اخره کښې د ښاغلي اسرار "د شاعرۍ کان" ادراک د ژوند او جانان نه يو څو شعرونه وړاندې کول ضروري ګڼم:

اسراره بې اوره چې سوزي د حالاتو اور کښې
شعرونه ستا به د هغو زړونو درمان جوړېږي

ناقدان ورته فتوٰى د کفر ګوري
اسرار هم ورته ولاړ د حق په بام دے

www.pukhto.net

چرته جانان چرته ناپوهه رقیب
ګلاب کښې سترګه د کیکر نۀ لګي
(۸)

# حوالې

1) اسرارالله اسرار، ادراک د ژوند او جانان، شاعر انسانیت، سید عابدجان، مرکه پبلي کېشنز مردان، ۲۰۱۲ء، مخ ۷
2) اسرارالله اسرار، ادراک د ژوند او جانان، مخ۱۰۱، ۱۲۲۔
3) هم دغه، مخ ۳۵، ۴۲
4) هم دغه، مخ ۴۴، ۴۵، ۴۶، ۱۰۱
5) هم دغه، مخ ۵۹ ، ۱۱۲، ۲۰۹، ۲۲۰
6) هم دغه، مخ ۱۷۰، ۲۳۵
7) هم دغه، مخ ۸۸، ۹۲، ۱۰۱، ۲۰۸
8) هم دغه، مخ ۱۱۰، ۲۳۲، ۲۵۴

۱۹مئي ۲۰۱۴ء

# کلام

دمحترم ملګري ډاکټر محمد زبېر حسرت شعري مجموعه "کلام" زما په وړاندې دے چې په کال دوه زره لس(۲۰۱۰) کښې د ساهو لیکونکیو مرکه پېښور او ادبي دوستانو مرکه مردان له اړخه خور شوے دے۔ کله کله د څۀ لیکلو په وخت لیکوال په یو دوه

www.pukhto.net

کښې حېران شي چې خبره د کوم ځاے نه شورو کړي او په کوم ځاے ئې سرته ورسوي- ما څو ورځې وړاندې د ډاکټر محمد زبېر حسرت د "کلام" مطالعه په دې غرض شورو کړه چې د څهٔ لیکلو حق سرته ورسوم- دوه درې ورځې تېرې شوې خو ما د خپل ملګري ډاکټر په کلام هېڅ لیک ونهٔ کړے شهٔ- په اخره کښې مې د خپلو خیالونوپه ذریعه دپښتوژبې صوفي شاعرعبدالرحمٰن بابا سره لیدهٔ کاتهٔ وشول- بابا خپل وړومبي ملاقات کښې خپل دا شعر واورولو:

ما خو بې وجې څوک نهٔ دي ازار کړي
دا چې ما ازاروي ازار د چا دے
(۱)

د دې شعر په اورېدو ما ووئیل هغه چې تاسو ئې ازار کړي يئ نو هغه د ګوتو په شمېر يو څو وران کاري دي خو تهٔ خبر يې چې ستا د وفات نه پس ستا په لکونو عقیدت مند پېدا شوي دي- هر چا تاسو ته د عقیدت پېرزوئینې وړاندې کړې دي- داخلي او خارجي لیکوالان ستا لوے عظمت ته په درنه سترګه ګوري- ستا په ژوند او فن ډېر ګڼ کتابونه چاپ شوي دي- هن دا د ډاکټر محمد زبېرحسرت "کلام" وګورئ د کتاب په نولسم مخ "رحمٰن بابا ته نذر" د سر خط لاندې ئې په تاسو هم نظم لیکلے دے- لکه ستا غوندې هغهٔ ته هم پښتور اور او ګور دے- بابا راته ووئیل چې د "کلام" شاعر د مشرانو قدردان دے- زما دعا ده چې الله تعالی دې د ښاغلي ډاکټر د زړهٔ زور نور هم زيات کړي چې دغسې د خپلو مشرانو شاعرانو عزت کوي- بیائې رانه پوښتنه وکړه چې په خوشحال ختیک ئې هم څهٔ لیکلي دي کهٔ نا؟ ما ورته ووئیل د کتاب

په شپږويشتم مخ "په خوشحال بابا يو نظم" راوړے شوے دے- په دې نظم کښې د خوشحال بابا د ننګ، ناموس، پت او مړانې ذکر شوے دے- د نظم په اخري برخه کښې د پښتنو په بې اتفاقئ ئې هم ژړلي دي- بابا راته ووئيل چې د پښتنو په بې اتفاقئ خو خوشحال خان خټک هم ژړلي وو د هغوي دا شعر خو د هرچا په خُلهٔ دے:

اتفاق په پښتانهٔ کښې پېدا نهٔ شهٔ
ګني ما به د مغل ګرېوان پاره کړهٔ

(۲)

د ډاکټر صېب د شعري مجموعې د تاثراتو په لړ کښې زهٔ خپل يو تصور کښې د شلمې صدئ عظيم نظم نګار محترم اجمل خټک په خدمت کښې هم حاضر شوم د هغهٔ نه مې د ډاکټر صېب باره کښې پوښتنه وکړه هغو ووئيل چې ما د خپل وفات نه وړاندې د ښاغلي ډاکټر محمد زبېرحسرت باره کښې ليکلي وو چې "ماته د هغهٔ په "کلام" کښې هغه رنګينئ ښکاري چې د دې خاورې د پاره د فطرت منشاء ده او دا "کلام" د هغې يو مجموعي تاثر او ذوق او شوق پېدا کوي- چې قام او اولس کښې نوې جذبه، ولوله او تکل هڅوي او د روښانه مستقبل د پاره د مخکښې تګ شعور رابېداروي"(۳) او زهٔ اوس هم په دې خبره کلک يم چې د ښاغلي ډاکټر صېب په "کلام" کښې دغه ټولې خوبئ موجود دي-

د ډاکټر محمد زبېرحسرت د "کلام" د مطالعې په وخت چې زهٔ کله ښهٔ ستړے شوم او خپل يو پوره مقصد ته ونهٔ رسېدم چې زهٔ د خپل يار ډاکټر باره کښې څهٔ وليکم نو سترګې مې په پټېدو شوې، خوب جوتې راکولې او چې څو په ځان پوهېدم نو د سويلي

افريقې تور پوستو د لاسه کلک نيولے نېلسن منډېلا په وړاندې حاضر کړم چې دا زلمے بغېر وېزې او نورو ضروري کاغذونو زمونږ وطن ته راغلے دے- دا ترهه ګر (دهشت ګر) دے- په دغه وخت د نېلسن منډېلا نمسے منډلا منډېلا هم موجود وۀ- نېلسن منډېلا زما د لاسو نه د ډاکټر صېب کتاب "کلام" په زوره راښکلو- ما ورته ووئيل زۀ ترهه ګر نۀ يم د کتاب درويشتم مخ وګوره زما يار ډاکټر حسرت صېب په تاسو څومره ښائسته نظم ليکلے دے او دا ئې لاڅۀ کوې چې کله تۀ سپين پوستي حکومت قېدي جوړ کړے وے هم په هغه کال نولس سوه دوه شپېتم(۱۹٦۲) کښې دا زلمے پېدا شوے دے- بيا مې ورته د ډاکټر ليکلے نظم "نېلسن منډېلا" هم واورولو- د نظم په اورېدو ډېر خوشحاله شۀ زۀ ئې د ځان سره خوا کښې کښېنولم خپلو نورو تور پوستو ته ئې مخ راواړولو، وې وئيل چې اے زما د قام قبيلې خلقو تاسو خبر شئ چې د دې نه وړاندې دومره ښائسته نظم په ما چا هم ليکلے نۀ دے- بيا ئې خپل نمسي منډلا منډېلا ته په غوږ کښې څۀ پټې خبرې وکړې او ماته ئې په ډېره عاجزۍ سره ووئيل چې زۀ به د تلې په يو چابړي کښې سرۀ زر او د امريکې ډالرې واچوم او تاسو د تلې په بل چابړي کښې ډاکټر محمد زبېر حسرت کښېنوئ يعنې سرۀ زر او ډالرې تاسو واخلئ خو دغه ډاکټر صېب مونږ ته حواله کړئ- ما ورته ووئيل چې نا، داسې خو کېدے نۀ شي چې زۀ دې د دنياوي لالچ په بدل کښې خپل يار ډاکټر تاسو له درکړم- هغۀ راته ووئيل چې ستاسو د وطن واکدارانو د يوڅو ډالرو په لالچ کښې څومره خلق په بهرنو ملکونو خرڅ کړي دي او تۀ يو ډاکټر نۀ راکوې- ما ورته ووئيل چې مونږه د

www.pukhto.net

هغهٔ نه بغېر ژوندي پاتې کېدے نهٔ شو ځکه چې هغه د پښتو ژبې او ادب کوم خدمت سر ته رسوي دغه د هر چا کار نهٔ دے۔ هن د سويلي افريقې نه يو شاعر زمونږ وطن ته راغلے دے هر وخت ستاسو پېښې کوي کهٔ ستاسو خوښه وي هغه به تاسو ته حواله کړو۔ نېلسن منډېلا غلے شهٔ خو د هغهٔ نمسے منډلا منډېلا ډېر غصه شهٔ او دا ئې ووئيل چې د ډاکټر محمدزبېرحسرت په ځاے اسرارالله اسرار راولئ، کوم چې زمادنيکهٔ دقېدوبندپه دوران کښې بخشالي ته تښتېدلے دے۔

زهٔ چې کله د سويلي افريقې نه راستون شوم او د اسلام اباد په ائرپورټ مې قدم کښېښودهٔ نو د اردو ژبې پروين شاکر او د پښتو سندرغاړې ګلناربېګم زما خوا ته راغلې۔ زما عادت د چا زنانه سره د خبرو کولو نهٔ دے خو د هغوي دواړو په لاسونو کښې د ډاکټر صېب "کلام" په ليدو مجبوره شوم چې زهٔ دې هغوي سره يو ځوخبرې وکړم۔ پروين شاکر د خوشحالۍ نه په جامو کښې نهٔ ځائېده، د ډاکټر صېب "کلام" ئې زړهٔ پورې جخت نيولے وهٔ خو سندرغاړې ګلناربېګم څهٔ خفه غوندې وه۔ هغې راته ووئيل چې زهٔ د ډاکټرصېب نه ډېره خفه يم ځکه چې هغهٔ په خپل "کلام" کښې په فخرافغان باچاخان درې نظمونه، په غني خان دوه، په خان بهادر حسرت څلور، په عبدالرؤف عارف دوه نظمونه ليکلي دي خو په ما ئې صرف يو ځو کرښې ليکلې دي۔ ما ورته ووئيل چې ښاغلي ډاکټر صېب په دغه يوځو کرښو کښې ستا د ټول ژوند نقشه په داسې ښکلي انداز کښې وړاندې کړې ده لکه سمندر څوک کوزه کښې بند کړي۔ د هغهٔ په خيال خو تهٔ د ټولې پښتونخوا سندره يې،

هغه مسکی شوه او په خندا خندا د پروین شاکر سره هغه موټر کار کښې سوره شوه په کوم کښې چې پروین شاکر په خپله په ۲۶م دسمبر نولس سوه څلور نوي(۱۹۹۴ء) کښې ایکسیډنټ کړے وۀ او همېشه د پاره د دې دنیا نه تلې وه۔

د مردان ښۀ شاعر ادیب فېض الوهاب فېض سره مې هم په خپلو خیالونو کښې لیدۀ کاتۀ وکړل هغۀ ته مې ټوله قیصه وکړه چې دا څوېمه ورځ ده د ښاغلي ډاکټر صېب باره کښې څۀ لیکل غواړم خو ذهن راسره ملګرتیا نۀ کوي چې څۀ رنګه لیکل وکړم۔ هغۀ رانه ګیله وکړه چې تا په خپل تصور کښې دومره ډېرو سترو شاعرانو او شخصیتونو سره لیدۀ کاتۀ کول نو په اول ځل زما خوا ته ولې نۀ راتلے چې ښۀ ستړے شوے نو زۀ درته یاد شوم، د سترو ځاے شهباز ګړهـ ده، محب بانډه نه، بیا ئې راته ووئیل چې ښاغلے ډاکټرمحمدزبېر حسرت دومره لوے مقام ته رسېدلے دے کۀ زۀ ورته بره ګورم نو د سر نه مې ټوپی غورزېږي۔

زۀ چې کله د ځنو وفات شویو او ژوندو شاعرانو سره د خبرو کولو نه پس کور ته راغلم نو په خپلې شعري مجموعه "زبېرګي" مې نظر پرېوتۀ۔ هغۀ هم خبرو ته خُلۀ جوړه کړې وه۔ ما ته ئې وئیل چې ستا په لاس کښې دا کتاب او دغه تصویر---- ما ورته ووئیل او وایه وایه، ولې غلے شوے، پوره اتلس کاله پس تا خبرې وکړې۔ هغۀ په خپلو ډېرو زبېرګو کښې خپله دا خبره سرته ورسوله چې دا خو هغه ډاکټر دے چې د مردان په کمیونټي کونسل هال کښې ئې په کال نولس سوه درې نوي (۱۹۹۳ء) کښې د ښاغلیو ډاکټر یارمحمد مغموم خټک، م ر شفق، عبدالرؤف زاهد

www.pukhto.net

او داسې نورو ډاکټرانو په وړاندې په پخو چړو چاقوانو زما اپرېشن کړے وۀ. ما ورته ووئيل چې دا هم هغۀ ډاکټر دے خو نن سبا بغېر چړو چاقوانو ښۀ کامياب اپرېشنونه کوي. ګڼ کتابونه ئې چاپ کړي دي. بيا مې ورته د ډاکټر صېب د "کلام" نه حمزه بادشاه د غزل، جاوېدانه لمحه، د نغمې په ژبه، حسېن، دعا او داسې نورو شخصياتو او مختلفو موضوعاتو باندې ليکلي نظمونه واورول. د دعا نومې نظم په اورېدو ئې ووئيل چې دا قسمه دعاګانې د پښتو ژبې شاعر ببېټ نيکۀ د ۳۰۰ او ۴۰۰ هجري په منځومانه کښې غوښتې وې او قبولې شوې وې. الله تعالی دې د ښاغلي ډاکټر صېب دعا هم قبوله کړي. بيا ئې راته ووئيل چې ښاغلي ډاکټر صېب ته زما له اړخه نېک خواهشات ورسوه او کۀ خفه کېږي نه نو دا خبره ورته هم وکړه چې ښاغلے ډاکټر صېب پښتو ټيکسټ بک بورډ کښې د قامي نصاب او د نوې املا باره کښې پروګرامونه کوي، نورو خلقو ته د نوې املا ليکلو چل ښائي خو خپل کتاب په دغه نوې املا کښې نۀ چاپوي، دا څۀ وجه ده؟ ما ورته ووئيل چې تا خبره وکړه، داسې وګڼه چې هغۀ ته ورسېده او هغۀ واورېده.

## حوالې

1) عبدالرحمان، "د رحمان بابا کليات" تحقيق، ترتيب او سمونه، دوست محمدخان کامل او قلندرمومند، پېښور، ۱۹۸۴ء، مخ۳۱۷

2) خوشحال خان خټک، "کليات خوشحال خان خټک" (تحقيق، ترتيب، سمونه)، دوست محمدخان کامل، پېښور، دوېم ځل ۱۹۶۰، مخ ۸۷۶
3) ډاکټر محمد زبېرحسرت، کلام، تاثر، محمد اجمل خټک، د ساهو ليکونکيو مرکه پېښور، د ادبي دوستانو مرکه مردان، اول ځل، ۲۰۱۰ شا مخ.

۸ جون ۲۰۱۰ء

## "له مانه مهٔ بيلېږه"

هغه بله ورځ مې د سيده حسينه ګل کتاب "له مانه مهٔ بيلېږه" لوستلوچې خپلې کور ودانې رانه تپوس وکړهٔ چې "يره دا ښځې ولې شاعري کوي". ما د کتاب لوستل د لږ وخت د پاره

پرېښودل او دهغې د پوهولو کوششونه مې شورو کړۀ چې شاعري د الله تعالی ورکړه ده- دا پخپله نۀ کېږي بلکې هر کله چې الله تعالی وغواړي نوځوک شاعر او ځوک شاعره کړي- دغه رنګه به الله تعالی د هر چا نه د هغوي د ژبې او لیک باره کښې تپوسونه کوي چې تا له ما ژبه درکړې وه، تا له ما د لیک هنر درکړے وۀ، تا خپله ژبه څنګه خوزوله او تا خپل لیک سره کوم انصاف کړے وۀ"- ما لاخپله خبره ختمه کړې نۀ وه چې خپلې کور ودانې راته ووئیل "تاخو څۀ موده وړاندې د عصمت بي بي کتابونه هم ډېر په مینه مینه کتل، هغه د کوم ځاے ده، او رښتیا د هغې وادۀ شوے دے کۀ نا" ما ورته ووئیل چې هغه بله ورځ مې ورسره د علامه اقبال اوپن یونې ورسټۍ اسلام اباد د مشقونو په لړ کښې خبرې اترې شوي دي- هم د دې مردان ده او کۀ د وادۀ باره کښې ترې پوښتنه کوې نو دا د موبائل نمبر ئې واخله، په خپله ترې وکړه ځکه چې ما ترېنه یوه ورځ د ټېلي فون په ذریعه د وادۀ او د بچو د شمېر تپوس کړے وۀ نو هغې راته په جواب کښې وئیلي وو چې "زما خو په شپږم کښې اتۀ دېرش، په اووم کښې پنځۀ دېرش، په اتم کښې اووۀ دېرش، په نهم کښې دېرش او په لسم جومات کښې پوره څلوېښت بچي دي" د عصمت بي بي د خبرو نه پس مې خپلې کور ودانې ته د حسینه ګل د کتاب نه یو څو ښائسته او خوندور شعرونه واورول- د "لور" نومې نظم په اورېدو ئې له خُلې ووتل چې "زۀ هم د لوے الله نه دعا غواړمه چې زۀ شاعره شم" او ما ووئیل "آمین"-

د حسینه ګل کتاب "له مانه مۀ بیلېږه" د لوستلو په وخت پوهه شوم چې په دې کتاب کښې د څۀ نوې شاعرۍ سره سره د

www.pukhto.net

هغې "شپول، شپون، شپېلۍ"، "خو ته خبرې کوه"، "دا هم هاغسې موسم دے" کتابونو نه هم څنې منتخب شاعري شامله شوې ده. په خپله حسینه ګل د دې کتاب چاپ کولو مقصد دا ښودلے دے چې "دغه ذکر شوي کتابونه چا سره خال خال هم په نظر نۀ راځي. د دغه درېواړو کتابونو ځانله ځانله چاپ کول زما د وس کار نۀ وۀ نو ډېر فکر نه پس د هغه کتابونو نه د څۀ منتخب موادو چاپ کول د نوې شاعرۍ د موادو سره ضروري شو"(۱)

د خورکۍ حسینه ګل نه په معذرت سره چې خاطر به نۀ درنوي کۀ د دې په ځاے ئې د تېرو درېو مجموعو نه یوه مجموعه په خپل اولني حالت کښې چاپ کړې وه نو دا به ډېره غوره وه او د دې د پاره اولنے حق د حسینه ګل د وړومبي کتاب "شپون، شپول او شپېلۍ" وۀ. دغه رنګه چې وس ئې شوے وۀ نوتر هغې به ئې نوره شاعري هم کړې وه او هم هغې له به ئې دا ښکلے او ښائسته نوم "له مانه مۀ بیلېږه" ایښے وۀ.

د حسینه ګل د دې نورې شعري مجموعې کمپاکټلې نه دي نو هغه ته به ضرور دا مشکلات پېښېږي چې په دې نوې مجموعه کښې څومره نوره شاعري شامله شوې ده او حسینه ګل د خپلې شاعرۍ د پراسېس خوال په وجه څنګه خپل مرام ته رسېدلې ده.

د پښتو ژبې او ادب په حواله چې د زنانه لیکوالو د خدماتو ذکر کېږي نو ډېر کمې نومونه راوړاندې شي. محترم ډاکټر محمد زبېر حسرت د خپل زړۀ خبره کښې د پښتو ژبې سره د ځنونورو ژبو د زنانه لیکوالو درانۀ او خوارۀ نومونه هم راوړي دي. د خوېندو زېتون بانو او سلمیٰ شاهین باره کښې لیکي چې "دوي د روایتي انداز نه

ښکاره بغاوت کړے دے او دجديديت په لوړئي په جديد انداز او رنګ کښې خپل ادبي سفر ته دوام ورکړے دے"(۲) نو دغه رنګه کۀ مونږه د حسينه ګل شاعري ګورو نو په حقيقت کښې هغه هم د خپل جديد انداز او رنګ په ادبي سفر کښې داسې ګړندۍ ګړندۍ مخ په وړاندې روانه ده چې سرې شاعران ورته هم ګوته په خُلۀ دي۔

دپښتو ژبې شاعر او اديب فېض الوهاب فېض په خپل "ارتکاز" کښې د حسينه ګل باره کښې ليکي چې "په پښتو کښې حسينه ګل وړومبۍ شاعره ده چې د شاعرانه اظهار په وخت کښې د هېڅ قسمه دباؤ په اثر کښې نۀ ده پاتې شوې او خپل ټول جذبات او احساسات ئې د ابلاغ د ټولو مرحلو نه په کاميابۍ سره تېرکړي دي" دوي هم لکه د ښاغلي زبېر حسرت دمحترمې زېتون بانومثال ورکوي او ليکي چې "د دغه روايت بنيادپه پښتونثر(افسانه)کښې محترمې زېتون بانو اېښے دے او حسينه ګل دشعر په ژبه دغه روايت دومره مضبوط کړے او توان مند کړے دے چې نور نومونه ئې په وړاندې تت ليدے شي"-(۳) د ښاغليو فېض او زبېر د تجزيې په تناظر کښې چې مونږه د حسينه ګل د شاعرۍ مطالعه کوو نو په حقيقت کښې د هغې شاعري د دغه نوي روايت آئينه داره شاعري ده- هغې خپل جذبات، احساسات او د زړۀ خبرې په داسې هنر بيان کړي دي چې هم دغه زمونږه د زړۀ خبرې دي خو مونږه ئې د وئيلو په چل نۀ پوهېږو او هغه په دغه هنر پوهه ده- د نمونې په توګه يوڅو شعرونه وړاندې کوم چې خبره اسانه شي:

ښۀ په ښکاره او ښۀ په نره مې کړي
دومره مې ښکل کړي چې اوتره مې کړي

د ګل د تاندو تاندو شونډو سره
زما د مړاوي پېغلتوب ياري ده

لاس کۀ مې د خپلو لاسو لرې کړې
ټول وجود مې تاسره ګنډلے دے (۴)

د ژبې او ادب عالمان په دې خبره متفق دي چې په غزل کښې مطلع اومقطع بنيادي حېثيت لري- د دې نه بغېر د غزل وجود نۀ وي- دحسينه ګل په کتاب کښې هغه ټوله شاعري چې هغې ورته دغزل نوم ورکړے دے خو يوغزل ئې هم مقطع نۀ لري- دلته زما ذهن ته داخبره هم راځي چې هسې نه حسينه ګل د دې روايت نه هم بغاوت کړے وي- خوهرڅۀ چې دي کۀ زما دوستانو خورکۍ حسينه ګل ته د غزل د نمائنده شاعرې سند ورکړے دے نو زما به څۀ کور وران شي کۀ زۀ هم دا ووايم چې حسينه ګل په يو وخت د نظم او غزل نمائنده زنانه شاعره ده او هم دغه دعوىٰ هغه په خپله هم کوي:

د چا به زر، د چا به مال، د چا محل به کوي
زما د ذات پېژنګليو زما غزل به کوي

ژوند ترېنه ځاځي څۀ بې دم خو نۀ دے
زما غزل د چا نه کم خو نۀ دے (۵)

د حسينه ګل کلۍ کلۍ او ګلاب ګلاب ژوند د هغې په شاعرۍ اډانه لري- د خپل جانان په غېږه کښې د سکون ساه اخلي او هم دغې ته هغه د قلارۍ ژوند وائي- د نمونې په توګه دا شعرونه:

ګلاب ګلاب، کلۍ کلۍ دے ژوندون
چې مې ولاړ په شاعرۍ دے ژوندون

www.pukhto.net

چې ستا په غېږه کښې نصیب شۀ زما
اوس مې ایله په قلارۍ د ے ژوندون (٦)

حسینه ګل د خپلې شاعرۍ په ذریعې سره هغه ټولې پټې خبرې، جذبات او احساسات رابرڅېره کړي دي چې زما په خیال هېڅ ترې پټ پناه پاتې شوي نۀ دي- چې څۀ ئې په زړۀ راغلي دي نو بغېر د څۀ ویرې ترهې ئې په خُلۀ وئیلي، سرته ئې رسولي او قلم ته ئې سپارلي دي- د هغې ژوند او فن نیمګړے نۀ د ے- د هغې لیک د ښائسته شاعرۍ هغه غوره نمونه ده، د څۀ په وجه چې شاعري لوے مقام ته رسي- د نمونې په توګه د حسینه ګل یو څو شعرونه وړاندې کوم چې خبره نوره هم زړۀ ته پرېوځي:

چې دپښتوغېږه پرې ښکلې ښکاري
پښتانۀ ټول د یوې مور بچي دي

فن زما هېڅ یو غم ته پرده نۀ شۀ
هر څو کۀ وم پټه رابرڅېره شوم

د زمکې ګردشونو کۀ هر څو رانه جدا کړې
زما په سر ولاړه شین اسمانه تۀ به یې

چې د ژوندون مرۍ ترخه شي او حالات داسې شي
خود به له هرې خلې نعره د انقلاب راوځي (۷)

خورکۍ حسینه ګل زۀ صرف د هغې د چاپ شویو مجموعو په حواله نۀ پېژنم بلکې د دې نه وړاندې به هم د دې کلامونه په مختلفو ورځپاڼو او رسالو کښې چاپ کېدل- په ګڼو ادبي هلو ځلو کښې د خپلو وروڼو شاعرانو سره به څنګ په څنګ روانه وه- د

www.pukhto.net

خپلې مورنۍ ژبې خدمت ته ئې کار وئيلے وۀ. ځکه هم دغه وجه ده چې نن د حسينه ګل د شاعرۍ لوستونکي پښتانۀ کۀ د هرې سيمې او هر چرته دي نو د هغې د ادبي خدماتو ستائېنه کوي د کومې تصديق چې حسينه ګل په خپله کوي لکه دا شعر:

په هومسيمه کښې چې اسې په هوځاے کښې چې هې
زما پوښتنه، پښتانۀ شډل بډل به کوي (۸)

حسينه ګل چې په خپله شعري مجموعه کښې کوم خوندور او زړۀ راښکونکي نظمونه راوړي دي هغه هم د ستائېنې جوګه دي دلته د دغو نظمونو نمونې وړاندې کول او د هغې جائزه اخستل خبره ډېره اوږدوي خو دومره به ووايم چې په دغو کښې "فېصله"، "زۀ او تۀ"، "تضاد"، "پېژنګلو"، "جواري"، "د پلوسې ونه"، "سوال"، "زاړۀ اثار"، "لور"، "لوبه"، "مس کال"، "ګوتۍ"، "ډائري"، "پښتون ورور نه يوه ګيله" او "زۀ څومره لويه دې کړم" د حسينه ګل شاهکار نظمونه دي.

29/12/2009

## حوالې


1. سيده حسينه ګل، "له مانه مۀ بيلېږه"، دانش خپرندويې ټولنې خانګه پېښور، ۲۰۰۹ء، مخ۱۳
2. سيده حسينه ګل، "له مانه مۀ بيلېږه"، تبصره، د زړۀ خبره، ډاکټر محمدزبېر حسرت، مخ۱
3. سيده حسينه ګل "له مانه مۀ بيلېږه"، ارتکاز، تبصره، فېض الوهاب فېض، مخ ۹، ۱۰
4. سيده حسينه ګل، "له مانه مۀ بيلېږه"، مخ۷۳، ۸۰، ۹۴
5. هم دغه، مخ، ۷۵، ۱۳۹

6. هم دغه، مخ ۸۳
7. هم دغه، مخ ۶۵، ۷۰، ۷۷، ۷۸
8. هم دغه، مخ، ۷۵

## پښتانهٔ محبتونه

پښتانهٔ محبتونه د ښاغلي سلېمان کامل وړومبۍ شعري مجموعه ده چې په کال دوه زره لس کښې د ادبي دوستانو مرکه مردان له خوا خوره شوې ده- ښاغلے کامل لیکي چې "پښتانهٔ محبتونه" زما وړومبۍ مجموعه ده چې بغېر د څهٔ تکلف، تبصرې او سریزې ئې په خپل ترتیب۱۹۸۹ء نه۲۰۰۹ء ستاسو په درانهٔ حضور کښې پېش کوم"-(۱) د ښاغلي کامل نه په معذرت سره په

حقيقت کښې هم دغه سريزه ده کومه چې هغهٔ د خپل اړخه په درېم مخ خپلو ګرانو لوستونکيو ته وړاندې کړې ده-

يوه ورځ رانه ملګري اکبر هوتي ګيله وکړه چې تاسو هډو ماله څهٔ توجهٔ نهٔ راکوئ، ما ووئيل چې "تاسو د کامل کشر ورور يئ او هغه ډېر مشروټ او ابغ نبغ دے نو ځکه زهٔ ستاسو نه هم په ترخ ګرځم" تر دغه وخته زما دا خيال وهٔ چې ګني سلېمان کامل او اکبر هوتي په خپلو کښې سکه ورونه دي- دا خو چې هغهٔ راته ووئيل "اے خيالي دا څهٔ وايې کامل زما ورور نهٔ دے بلکې د کليمې په بنياد يو مسلمان د بل ورور دے نو ځکه زهٔ د هغهٔ د وروروليۍ نه انکار نهٔ کوم-

د "پښتانهٔ محبتونه" په لوستو د ملګري کامل متعلق دغه وړومبے تاثر ډېر زر زما له خياله وتښتېدهٔ، په کامل مئين شوم- د هغهٔ ځنې شاعري مې ډېره خوښه شوه ځکه چې هغه په خپله د مينې تږے دے- هغه په خپله د داسې خوږو زړونو په تکل دے چې هغهٔ سره غم شريک کړي- د دې د پاره هغه د هر چا نه مينه غواړي خو تر اوسه ئې داسې څوک ملګرے پېدا نهٔ کړهٔ چې د هغهٔ غمونه خپل غمونه وګڼي او هغهٔ سره غم شريک کړي- ښاغلے کامل د محبت په خاطر داريۍ پوهه دے، ښکلا پرست دے، دلداري پېژني، د مينې په معنٰی پوهېږي، د نمونې په توګه دا شعرونه:

د محبت خاطرداري پېژنو
ښکلا پرست يُو دلداري پېژنو
تهٔ کهٔ د مينې معنٰی هرڅهٔ کوې

لالیه مونږه خودداري پېژنو

ستا په درشل سر ټیټول ګرانه ده
ته وایې منم خو ما نه نۀ کېږي

چې غم سره شریک کړي په رښتیادخوږو زړونو
دنیا مې راپره کړله خو مل مې پېدا نۀ کړۀ

(۲)

ښاغلے سلېمان کامل د غزل ښۀ شاعر دے۔ هغه د جانان غزل غزل څواني برکت ګڼي او د هغۀ شاعري کۀ ښائسته ده نو د هغۀ د جانان د غزل غزل څوانۍ په سبب ده۔ هغه په غزل کښې د ښکلي جانان حسن او مینه ستائي، د خپلې شاعرۍ سر څنه کوي د غزل لمن کښې خپلې وینې او اوښکې څایوي۔ د مردان زمکه غزلزاره زمکه ده نو ځکه د دې زمکې محبتونه هم غزلزار دي۔ ښاغلے کامل د لوے الله نه دعا غواړي چې د مردان د نصیب ډیوه دې چرې هم مړه نۀ شي۔ همېشه دې ښېرازه وي۔ د خپلې خبرې پخلي د پاره یو څو شعرونه وړاندې کول ضروري ګڼم:

دا ستا دي د غزل غزل څوانۍ برکتونه
ستار په تامئین دے اومنګے په تا مئین دے

ستا د غزل غزل ځوانۍ په سبب
مونږ نغمه ګر یُو شاعري پېژنو

مردانه د نصیب ډیوه دې چرې هم مړه مۀ شه
ښېراز اوسه په تا کښې غزلزار محبتونه

وينـــې او اوښــکې ځايومــه د غــزل لمــن کښــې
رنــګ او رڼــا يوځــا ے کومــه فنکــاري کومــه

کامل دې يم، مئين يم ستا د پاره په شعرونو
شاعر دې يم خوستاپه شان غزل مې پېدا نۀ کړۀ

کامله تۀ چې په کښې حسن ستايې، مينه ستايې
حقه خبره ده غزل به دې ښائسته هم وي

د شاعرۍ د نغمګۍ په ترنګ کښې مست خمار يم
زۀ دې په سترګو غزل وايم اجازت پکار دے

(۳)

ښاغلي سلېمان کامل په خپله شاعرۍ کښې د خپل تخلص "کامل" سره سره کامل جان، کامل جانه، کامل جي او کامل خانه هم په استعمال کښې راوړے دے هرڅۀ چې دي خو دا کار ئې بد نۀ دے- د ستائېنې جوګه دے، د نمونې په توګه دا يوڅو شعرونه:

ستا کامل جان ستا د نفرت په جهان
کۀ ډېر غريب دے خو زړۀ خان ساتي

ماسره لاړ شه کامل جانه لار د غلو ډکه ده
د غزل داج د پښتو ناوې له کالي وړمه

د وهمونو د تيارو موسم کښې لوے شوم
کامل جي! د رڼا لار رانه خطا ده

کامله خانه! خپل خوارۀ فکرونه مۀ نوله نور
چې قسمتونه مو شو تور جانان به چاته وايُو

www.pukhto.net

ځان به نهٔ ګڼې يواځې کامل جانه
مونږ هم ستا په عقيده يُو ستا په شان يُو

(۴)

ښاغلي سلېمان کامل خپلو ګرانو لوستونکيو ته ليکلي دي چې "په دې کتاب کښې ډېر نظمونه، چې اکثر د مختلفو تقريبونو، دستورو د پاره په شخصياتو ليکلي شوي دي- د خپل طوالت له وجې چې د دې ضحامت پرې يو په دوه زياتېدهٔ نهٔ دي شامل کړي شوي- دوي ليکلي دي کهٔ ژوند راسره وفا وکړه نو په خپل دوېم فرصت کښې به ئې چاپوم-(۵) کهٔ ښاغلے کامل په خپله وېنا کښې رښتونے وهٔ نو د کتاب په اوولسم مخ د تکړه شاعر محمدسعيدسعيد په شخصيت ليکلے نظم "مونږ دواړه" به ئې په دې کتاب کښې نهٔ چاپ کوهٔ- دغه رنګه د محترم قلندرمومند په اعتراف کښې ليکلے نظم "اعتراف"، د ارواښاد محمداقبال اقبال او په اصغر لالا ليکلے نظم "زما مئينو مهٔ ځئ" هم د شخصياتو عکاسي کوي-

ښاغلے کامل د "کالام" نظارې محسوسوي، د الله تعالیٰ لويي بيانوي- د کتاب په دولسم مخ د "کالام په نظارو کښې" د دنګو شنو غرونو، جوتېه جوتېه لېونې هوا، د ښترو، ابشارونو، د سيند د مستۍ او چپو ذکر ئې د ستائېنې جوګه دے خو د نظم په اخري برخه کښې د دوو بې وسه ماشومانو د ښاغلي شاعر نه په سوال يوه روپۍ غوښتل، د شاعر بې خوده کېدل او الله تعالیٰ ته داسې وئيل چې دا احساس لړزونکے تفاوت ستا د شان سره هېڅ سمے نهٔ خوري يا دنيا ورانه کړه يا ئې يو شانې تقسيمه کړه" د

www.pukhto.net

ملګري کامل په خدمت کښې خواست کوم چې الله تعالی په خپلو کارونو ښهٔ پوهېږي-زمونږ څهٔ کار دے چې د الله تعالی په تقسيم او کارونو کښې ګوتې ووهو- هوښياران وائي چې د الله تعالی په کارونو او د بجلۍ په تارونو کښې به ګوتې نهٔ وهې-

د کتاب په پنځلسم او يوسل اتهٔ څلويښتم مخ "دعا" او په يوسل لسم مخ نعت شريف په ترتيب سره راوړلي شوي نهٔ دي- انصاف دا وهٔ چې د ګرانو لوستونکيو په خدمت کښې ئې د سريزې نه پس په وړومبي مخ "دعا" او دوېم مخ د خوږ نبي(ص) په مينه کښې شاعري راوړې وه- په کتاب کښې نور نظمونه يعنې "وروستۍ خبره، د کلي سندره، ستا په تصوير، يوڅولفظونه، دبې تنګۍ پېغور، لوے لښکر، زما مورې، زما لورزماګوډۍ، هو زهٔ شاعر يم، بې بې او بل پېغور د ذکر وړ دي-

د "پښتانهٔ محبتونه" په رڼا کښې ښاغلے کامل د غزل ښهٔ شاعر دے- په تلو تلو کښې د هغهٔ يو څو ښائسته شعرونه وړاندې کول ضروري ګڼم:

دا د مغرب د سرمايې د تهذيب اوړي خلق
زما د سترګې پښتونخوا په معنٰی نهٔ پوهېږي

زهٔ چې پرې کامله حسن ستايمه د ښکليو
زهٔ د شاعرۍ د لوے دولته لوګے کېږم

زهٔ ستا کامل يم، بدل شوے نهٔ يم هاغه يمه
زهٔ دې همېش اخلمه نوم د يکه ځاره سره (٦)

www.pukhto.net

# حوالې

1) سلېمان کامل، پښتانۀ محبتونه، ادبي دوستانو مرکه مردان، اول ځل۲۰۱۰ء، مخ۳
2) هم دغه، مخ، ۳۳، ٦۴، ۱۰۹
3) هم دغه، مخ، ۳۱، ۳۳،۸۳، ۹۲، ۱۰۹،۱۲۱، ۱۹۱
4) هم دغه، مخ، ۱۱، ۲۹، ۹۸، ۸۸، ۱۸۵
5) هم دغه، مخ، ۳
6) هم دغه، مخ ۲۳، ۵۰، ۱۷۳

# د امېدونو ډیوه

فضل غني "شهید" کۀ له دې نه وړاندې ما څۀ پېژندلے وۀ نو هغه هم د ښاغلیو اقبال حېران او ازاد اشنغري په حواله چې دوي سره په خبرو خبرو کښې به مونږ کله کله د شهید غني ذکر کولو او کۀ نن زۀ د دې ښاغلي شاعر د ژوند او فن باره کښې ځان پوهول غواړم نو د دې د پاره هم د ښاغلي ازاد اشنغري مننه کوم چې هغۀ د شهید غني شعري مجموعه ماته راورسوله. دغه رنګه به ښاغلي ازاد اشنغري دا مینه په هر چا کړې وي، ډېرو لاسونو ته به ئې دا

شعري مجموعه رسولې وي او دا خبره به ئې په خلقو منلې وي چې هغه د خپل ترهٔ فضل غني غني نوم غورزولے نهٔ دے- کوم کار چې شهيد غني په خپل ژوند يا د هغهٔ وخت پرست دوستانو د هغهٔ د وفات نه پس سرته رسولے نهٔ وهٔ، هغه کار ازاد اشنغري "د امېدونو ډيوه" په نوم په کال ۲۰۱۰ء کښې سرته ورسوهٔ- د کتاب تړون د ښاغلي غني شهيد "سانحه ولي باغ" د يتيمانو زامنو په نومونو شوے دے چې د پلار هسې خودداره دي او پوهه لري-

د پښتو ژبې ترقي خوښ ليکوال سليم راز ليکي چې "غني شهيد په پښتو مئين ليکوال وهٔ، قام پرستي ئې په ختهٔ کښې اخښلے شوې وه- د خدائي خدمتګار تحريک خانداني او علاقائي تسلسل ئې تراخره قايم ساتلے وهٔ- - - - هغه نهٔ يواځې د پښتو ژبې د ترقۍ او ترويج په کار کښې خپل کردار ادا کړے دے او د پښتون قام خدمت ئې کړے دے بلکې د ادبي او سياسي شعور په خورولو کښې ئې هم خپله منصبي ذمه داري سرته رسولې ده"-(۱) محترم نورالبشر نويد "د يو غني پښتون" سر خط لاندې ليکلي دي چې "فضل غني غني هم په هغه ارواښادو کښې شمار دے چې په جسماني طور نن موږ سره نشته خو د کردار، ګفتار، فکر او شعور په حواله هغه ژوندے دے او د دې ثبوت د هغهٔ خپل لفظونه دي او خپل کردار دے"-(۲) دغه رنګه روښان يوسفزي شهيد غني يو پوخ ترقي خوښ ليکوال ګرځولے دے هغه ليکي چې "هغه يو روايت پسند شاعر ضرور دے ولې روايت پرست نهٔ دے ځکه چې د فرسوده رواياتو خلاف ئې هم اواز پورته کړے دے" (۳) په کتاب د ښاغليو پروفېسر ډاکټر سعادت خان ساغر خټک او عبدالقادر

صيادتاثراتواوپه تېره تېره داخترمنيرمنيرزړۀ پورې ليک زمادا کار نور هم اسان کړۀ چې زۀ هم د هغۀ په ژوند او فن څۀ ضرور وليکم.

فضل غني غني يو سترګه ور شاعر وۀ هغۀ به د خپل چاپېرچل مطالعه ډېره په ژور نظر کوله. د خپل وطن او خصوصاً د خېبر پښتونخوا دا موجوده تباهي هغۀ د وړاندې نه محسوسوله. هغه کۀ يو طرف ته د عشق د کړمو او د جانان د بې رُخۍ ذکر کړے دے نو بل طرف ته ئې په خپله شاعرۍ کښې د بې وسه اولس او وطن ته د راپېښو کشالو ذکر هم چېړلے دے. هغه په رښتيا يو ترقي خوښ ليکوال وۀ او دا هرڅۀ د غزل د شاعرۍ سره سره د هغۀ په نظمونو کښې هم ځلنده ښکاري. د شهيد غني "د امېدونو ډيوه" کښې ډېر داسې نظمونه زما له نظره تېر شول د کومو نه چې د هغۀ د ژوند او فن مطالعه ډېره په اسانۍ سره کېدے شي. په دغه نظمونو کښې "لېونے فلسفي غني خان، اجمل خټک، ملاقات، سهره، لوے بابا، پسرلے، انقلاب، ويښ شئ، افسوس او د امېدونو ډيوه نومې نظم د ستائنې جوګه دي. د يو نظم "سهره" د يوې حصې نمونه وړاندې کول ضروري ګڼم چې خبره سپينه شي:

داسې سپېرۀ يم يو ډولۍ چې چرته اووينمه
زما نظر کښې هغه واړه پښتنې راشي
چې هره ورځ ئې په نصيب وي نوې نوې ډولۍ
زما په خيال کښې د پنجاب او سندهـ چکلې راشي
چې د ملالې د درخو لوښه په کښې ګډېږي
په داسې ملک داسې وطن دې زلزلې راشي
څنګه به ځان تش د پښتون په نوم خوشحاله کړمه

www.pukhto.net

چې مې په غوږ د دوي د پائپلو شړنګ شړونګے راشي
په داسې پت داسې پښتو غيرت دې اور ولګي
زما په شرم چې نيلام د بل په کور ولګي

(۴)

شهيد غني يو ويښ ضميره انسان وۀ هغه د ژوند په دې حقيقت پوهه وۀ چې صرف ويښ او بېدار خلق خپل منزل ته رسېدې شي- هغه د ژوند په لار کښې د ناکامۍ نه هېڅ قسمه ويره نۀ کوله ځکه چې هغه پوهه وۀ چې د ډېرو سختو او ترخو نه پس خواږۀ هم راځي- هغه د خپل مدد په خپله قائل وۀ، يو خودداره انسان وۀ چې ځۀ ئې په زړۀ وو هم هغه ئې په خُلۀ وو د نمونې په توګه دا شعرونه:

په دنیا کښې وڅښ سوے مدام کامران هي

ځۀ به ورسي منزل ته چې اودۀ وي
ناکامي کۀ هر څو وي نا امېد مۀ شې
ډېرو سختو او ترخو پسې خواږۀ وي
منت مۀ کړه چاته هرڅو کۀ محتاج يې
چې د خپل ځان مدد وکړي هغه ښۀ وي
غني زړۀ او خُلۀ يوه کړه په دنيا کښې
هغه وايه په دې خُلۀ چې دې په زړۀ وي

(۵)

شهيد غني په خپله مورنۍ ژبه پښتو او په خپل پښتون تهذيب مئين وۀ- هغۀ د خپل تهذيب او ثقافت قاتلان پېژندل او د پښتون قام په کمزوريو ئې هم ژور نظر وۀ- هغۀ په دې وطن د پښتون راج او په خپله زمکه د خپل اختيار نعره هم وهله- د هغۀ پښتانۀ

www.pukhto.net

خويونه د ستائنې جوګه دي د نمونې د پاره دا يو څو شعرونه وړاندې کول ضروري ګڼم:

دا زما د سر قاتل دے، دا دښمن مې د تهذيب دے
راته وائي پښتو پرېږده، د پښتون خبرې پرېږده

دا مغروره سر به څنګه درته ټيټ کړم
لا پراته راکښې خويونه د پښتون دي

چې به کله په وطن د پښتو راج شي
بس زړګے په دې خبره مې غمګين دے

(٦)

د شهيد غني "د امېدونو ډيوه" کښې نور هم داسې شعرونه راوړے شوي دي د کومو نه چې د دې خبرې پخلے ډېر په اسانۍ سره کېدے شي چې د هغۀ ژوند يو سپړدے کتاب وۀ. د هغۀ شاعري د هغۀ د ټول ژوند ترجمانه ده، بلکې داسې زړۀ پورې شاعري ئې هم کړې ده چې هر يو لوستونکے ئې د خپل زړۀ اواز ګڼي او دغې ته زۀ خوږه شاعري وئيلے شم د نمونې د پاره دا يو څو شعرونه وړاندې کول ضروري ګڼم:

د نوره غمه ئې خلاص کړے يمه
ستا په غمونو باندې وخت تېروم

څومره چې مينه کښې بدنام شۀ غني
دومره لائق د احترام شۀ غني

زما پرې وينې دي توې شوې زۀ پرې قتل شومه
دا علامې چې د بهار دي هسې نۀ دي خلقه

اوس به مرګ هېچرې رانهٔ شي ملګرو
چې وينځلي مو لاسونه لهٔ ژوندون دي

د شعرونو دُر ګوهر چې ورسره دي
چا وئيل چې د غني سره مال نشته
(۷)

زهٔ کهٔ دلته د فضل غني غني "شهيد" د شاعرۍ نمونې وړاندې کوم او د هغهٔ د ژوند او فن ذکر کوم نو خبره به ډېره اوږده شي- دومره به ووايم چې شاعر نهٔ مري، شهيد مړ نهٔ وي ژوندے وي- فضل غني ژوندے دے، د هغهٔ فن ژوندے دے، د هغهٔ "د امېدونو ډيوه" ژوندۍ ده ځکه ورته زهٔ دا خپل شعر هم ډالۍ کوم:

نن چې تهٔ له دنيا لاړې ستا خيالي هم تاپسې دے
دا ډګر خو منزل نهٔ دے شته دے بل جهان جانانه
(۸)

## حوالې


1) فضل غني غني، د امېدونو ډيوه، تبصره، سليم راز، پېښور ۲۰۱۰ء، مخ، ۹
2) فضل غني غني، د امېدونو ډيوه، تبصره، نورالبشر نويد، مخ، ۱۲۵
3) فضل غني غني، د امېدونو ډيوه، "غني يو پوخ ترقي پسند" روښان يوسفزے، مخ، ۱۳
4) فضل غني غني، د امېدونو ډيوه، مخ،۵۷
5) هم دغه، مخ،۶۸
6) هم دغه، مخ،۵۲، ۹۱، ۹۶


www.pukhto.net

7) هم دغه، مخ، ۲۸،۲۹، ٦۱، ۹۱، ۹۹
8) لعل بادشاه خیالي، زبېرګي، د ادبي دوستانو مرکه مردان، دوېم ځل ۲۰۱۱ء، مخ، ۱۰۲

# زولنې او پېنزېبونه

زولنې او پېنزېبونه د ښاغلي سیدفرمان علي شاه فرمان شعري مجموعه ده چې د ادبي دوستانو مرکه مردان او پت پښتو ادبي جرګې له خوا په کال ۲۰۱۰ءم کښې خوره شوې ده. د دې نه وړاندې د ښاغلي شاعر څلور نورې مجموعې هم چاپ شوي دي. پکار وه چې دغه څلور کتابونه ما د خپل جېب په پېسو ترلاسه کړي وو او د ښاغلي فرمان د ټولې شاعرۍ جاج مې اخستے وۀ. ښاغلے فرمان چې په څومره وخت کښې پنځۀ کتابونه چاپ کولے شي نو د هغې نه په کم وخت کښې دغه پنځۀ کتابونه هر شاعر له په مینه ورکولے هم شي ځکه چې هغۀ له الله تعالی طاقت ورکړے دے، خو

د مردان تکړه شاعر محمدسعيدسعيد غونډې شاعران به په تش جېب کتاب څنګه چاپ کوي، او کۀ په څۀ طريقه ئې چاپ کړي نو په چا به ئې خرڅوي، چې شاعران د شاعر کتاب نۀ اخلي نو څوک به ئې اخلي، بلکې مونږه د پښتو زياتو شاعرانو دا قسم کړے دے چې د خپل وروز شاعر کتاب به په پېسو نۀ اخلو بلکې په دې طمع به يو چې هر شاعر به خپل چاپ شوے کتاب په ډېره مينه راکوي او دا طمع له ډېرې مودې نه راروانه ده او روانه به وي- هر شاعر به کتاب چاپ کوي او خپلو نورو دوستانو شاعرانو له به ئې د دې جملې سره ورکوي چې فلانکي صېب ته خپله مجموعه په ډېره مينه ورکوم- د محترم نورالبشر نويد نه مې دا خبره اورېدلې وه چې يوه ورځ اروابښاد ايوب صابر په مردان کښې د يو کتاب د مخ کتنې په دستوره کښې دا مينه ډېره غندلې وه- هغۀ وئيلي وو چې د مينې دا کوم دستور راګډ شوے دے دا ختمول غواړي چې هر چاته به په کتاب دا جمله ليکې ګني نو بيا به درسره غم او ښادي پرېږدي-

د چا په کتاب د څۀ تبصرې ليکلو نه وړاندې زما دا کوشش وي چې کۀ چرې د ليکوال په کتاب کښې څۀ وړه غلطي وي نو زۀ ئې ورته د تبصرې کولو نه بغېر په ګوته کړم خو د لويې نه لويې غلطۍ کۀ زۀ ئې ذکر ونۀ کړم نو دا به خيانت وي نو ځکه ښاغلے فرمان دې نۀ خفه کېږي، زۀ به د هغۀ د ښائسته شاعرۍ ستائينه کوم او د هغې شاعرۍ جاج به هم اخلم کومې ته چې زۀ خوږه او پسته شاعري وئيلے نۀ شم يا کومه شاعري چې د خپل وزن بحر نه پرېوتې وي-

www.pukhto.net

د يو شاعر د تربيت د پاره په ادبي غونډو کښې ناسته پاسته او په تنقيدي اجلاسونو کښې ګډون کول د ملا د تير حېثيت لري- مونږه چې په خېبر پښتونخوا کښې ځومره د پښتو ژبې ستر شاعران وينو نو د دغو پوهانو شاعرانو ورومبې تربيت هم په مختلفو ټولنو کښې شوے دے خو ښاغلي فرمان د خپلو نورو هلو ځلو په وجه دا ضرورت محسوس کړے نۀ دے بلکې د کومې ټولنې "د ادبي دوستانو مرکه مردان" له اړخه چې نن د هغۀ د پنځو کتابونو مخ کتنه کېږي نو ښاغلے شاعر چرته په هېره هم دې پله راغلے نۀ دے- د ښاغلي شاعر روزانه پنځۀ شپږ غزلې او نظمونه ليکل او په لږ وخت کښې پنځۀ کتابونه چاپ کول زما د دې خبرې دليل دے چې هغۀ څۀ هم ليکلي دي او هر څنګه چې ئې ليکلي دي نو بيا ئې پرې وروستو سوچ کړے نۀ دے او نۀ ئې خپل ليکونه د معيار په تله تللي دي بلکې کمپوز کړي او چاپ کړي ئې دي-

د کتاب د مطالعې دوران کښې د کمپوزنګ ډېرې غلطۍ هم زما له نظره تېرې شوي دي خو دا غلطي د ښاغلي فرمان نه بلکې د کمپوزر شعېب صادق او پروف ريډر مهراندېش ده چې دوي خپله ذمه واري پوره په پوره سرته رسولې نۀ ده- د نمونې په توګه د کتاب په نهم مخ په مقطع کښې د لفظ "مالک" په ځاے "مالکه" او په پنځلسم مخ د غزل رديف لفظ "ترکومه" ليکل پکار وو لکه څنګه چې د مطلع په اولنۍ مصرعه کښې راوړے شوے دے- په دې غزل کښې چې د ښاغلي مهراندېش د صحيح پروف د نۀ کتلو په وجه کوم يو تکے راوړے شوے دے هغه داسې ده لکه چې فرمان په خپله شاعرۍ کښې خپلو لوستونکيو ته کنځل کوي

www.pukhto.net

یعنې په ټول غزل کښې د لفظ "ترکومه" په ځاے "ترکونه" کمپوز شوے دے چې ښکاره کنځل دي.

ښاغلي فرمان کۀ یو اړخ ته په خپله شعري مجموعه کښې ښائسته شاعري راوړې ده نو بل اړخ ته په دې مجموعه کښې داسې ځنې شعرونه هم زما له نظره تېر شوي دي چې هغه په وزن او بحر برابر نۀ دي. د نمونې په توګه د کتاب په شلم مخ مقطع، په یو سل درې څلوېښتم مخ د مطلع نه پس دوېم شعر، په یوسل څلور پنځوستم مخ مقطع او په یو سل پنځوستم مخ پوره غزل د وزن بحر نه پرېوتې دے. دغه رنګه په یوسل اویایم مخ په ارواښاد اجمل خټک لیکلے نظم کښې اخري شعر او په دوه سوه پنځم مخ په ارواښاد محمد اقبال لیکلے غزل نما نظم کښې اولنے شعر نۀ صرف کمې محسوسوي بلکې په دې نظم کښې راوړے شوے قافیې هم یو او بل سره سمون نۀ خوري. د کتاب په یوسل اتۀ اتیایم مخ چې کومه شاعري د نظمونو په برخه کښې راوړې شوې ده او نوم ئې ورله "زندګي" اېښے دے په حقیقت کښې دا نظم نه بلکې غزل دے د دې غزل دوه شعرونه په دې ډول دي:

دا زندګي د بندګۍ نامه ده
بله ډیوه د دلسوزۍ نامه ده
دبوډۍ ټال دکهکشان په خوا کښې
فرمانه ستا د رنګینۍ نامه ده

(۱)

د کتاب په یوسل پنځۀ نوي مخ د "ښکلا" په نوم شاعري هم د نظمونو برخه کښې راوړې شوې ده. دغه شاعرۍ ته خو زۀ نظم

وئیلے نۀ شم ، بلکې یو خوندور، ښائسته او په تول پوره غزل به ورته ارو مرو وایم- د دې غزل یو څو خوندور او ښائسته شعرونه څۀ په دې ډول دي:

ښکلا څۀ ده خوشحالي راتوکېدل دي
بس وږمې د ګل له غېږې اخستل دي

یخه پرخه په حسرت د مړاو ګلو
د امېد شینکي صحرا باندې کرل دي

د وږمو تخم د خیال ورشو کښې نال کړه
اے فرمانه! دا دنیا ودانول دي

(۲)

د ښاغلي فرمان کومو نظمونو چې زۀ ډېر متاثره کړے یم او زما خوښ شوي دي په هغو کښې "د خیال تارونه، مرور پسرلے، زما مورې، ژوبل احساس، چې دا څوک ده، د تعبیرونو تږي خوبونه، دا خیالونه رښتیا کېږي، زۀ به څنګه مزل وکړم، زماغمونو، داحساس څړیکې، زړۀ ته اوژوند نومې نظم ئې دستائنې جوګه دے- زما په خیال د ښاغلي فرمان په ادبي دنیاکښې د ژوندي پاتې کېدود پاره دا ذکر شوي نظمونه هم کافي دي ځکه چې په دې نظمونو کښې ژوند او رنګیني ده او دا قسمه شاعري شاعر تر ډېره وخته ژوندے ساتي-

د ښاغلي فرمان په دې شعري مجموعه کښې ځنې شعرونه هم د ستائنې جوګه دي- ښاغلے فرمان یو وطن دوست شاعر دے هغه خپل وطن سره بې کچه مینه کوي هغه د خپل ځان فکر کولو نه

www.pukhto.net

زیات دخپل وطن دابادۍ فکر کوي- دغه رنګه ښاغلے شاعر د وطن خړې خړې خاورې هم دخپل زړۀ سرګنبي دنمونې په توګه دا شعرونه:

اے فرمانه د خپل ځان فکرونه پرېږده
ډېر غمونه د وطن دي راته پاتې

هرڅۀ کۀ دي وړمې او خوشبوئۍ ئې بې مثاله
دا خړې خړې خاورې د زړۀ سر مې د وطن شي
(۳)

ښاغلي فرمان په خپله شاعرۍ کښې د انسانانو په جامو کښې د پټو شېطانانو، دوستانو او خپلوانو نه هم ډېرې ګيلې کړي دي او د هغوي غندنه ئې هم کړې ده- هغه د هغې سپينې ورځې د رڼااوسبانه هم ګيله منداوخفه دے چې دهغۀ پټ رازونه څرګندوي- ښاغلے شاعر د خپلې شاعرۍ په رڼا کښې يو مخلص انسان دے- په دې لړ کښې دا يو څو شعرونه وړاندې کول ضروري ګڼم:

زما د شپې رازونه سپين سبا کړي
دغه رڼا نه مې زړګے خفه دے

څۀ مې خپلو، څۀ پردو، څۀ دښمنانو
ډېر داغلے يم په زړۀ خپلو دوستانو

مار لړم، مچو، ډمبرو څۀ ونۀ وې
زهرژن راله وجود کړۀ انسانانو

اے فرمانه په خپل ژوند کښې مخلص اوسه
تدبيرونه د تقدير نه ګټے نۀ شي
(۴)

ښاغلے فرمان کۀ په ظاهره هر څومره دولت، شهرت او ثروت لري خو په حقيقت کښې هغه يو ملنګ خويه او خاکسار انسان دے او دا قسمه خويونه چې په چا کښې موجود وي نو الله تعالىٰ د دا قسمه خلقو درجې نورې هم وچتوي. ښاغلے شاعر چې په نن وخت کښې کوم قسمه ژوند تېروي نو دغه مقام ته هغه بغېر د مشقته رسېدلے نۀ دے، بلکې کله لوئېدلے او کله پاڅېدلے دے، همت ئې بائېللے نۀ دے. هغه د ژوند په دې مفهوم پوهه دے چې دا پرېوتل او پاڅېدل د ژوند يوه حصه ده او څوک چې د ژوند په لار کښې د ناراستۍ نه کار واخلي هغه د نورو خلقو نه ډېر وروستو پاتې شي. د ژوند د ترقۍ راز په راستۍ کښې دے د خپلې خبرې د پخلي د پاره د ښاغلي فرمان دا يوڅو شعرونه وړاندې کوم:

دغه مفهوم راته د ژوند ښکاري
ډېر چې لوئېدلے پاڅېدلے يمه
د ثروت او د دولت په سوب نۀ ده
اے فرمانه بادشاه کړے ملنګۍ يم
(۵)

د ښاغلي فرمان په کتاب "زولنې او پېنزېبونه" کښې نوره هم داسې شاعري راوړې شوې ده د کومې نه چې ډېره په اسانۍ سره د هغۀ د ژوند او فن مطالعه کېدے شي. د مطالعې په وخت د ذکر شويو شعرونو سره سره نور کوم شعرونه چې زما زړۀ ته پرېوتي دي او زما ډېر خوښ شوي دي غواړم چې دغه شعرونه د نورو خلقو زړونو ته هم پرېوځي د نمونې په توګه دا شعرونه:

سپوره ماله زندګی لره کافي ده
اے زړګیه دا خو تاله مزې اخلم

نۀ څۀ ټال شته نۀ ځانګو هسې ځنګېږم
زما فکره ستا له ټاله مزې اخلم

بس د یو ښائست ورېمې ترېنه راوځي
کۀ تورات دے، کۀ قرآن، انجیل، زبور دے

د بې باکه ژوندانۀ نه دې قربان شم
اے فرمانه چې دې ښکل کړمه لاسونه
(٦)

## حوالې


1) سید فرمان علي شاه فرمان، زولنې او پېنزېبونه، عامرپرنټنګ ایجنسي پېښور، کال ۲۰۱۰ء مخ ۱۸۹
2) هم دغه، مخ، ۱۹۵
3) هم دغه، مخ، ۲۳، ۵۱،
4) هم دغه، مخ، ۱۱۲، ۱۴۷، ۵۸
5) هم دغه، مخ، ۵٦، ۷۹
6) هم دغه، مخ، ۳۴، ۳۵، ۳۲، ۲٦


۱۸م اکتوبر ۲۰۱۰ء

www.pukhto.net

# مور

د ښاغلي اکبر هوتي "تاليف" مور باره کښې د څۀ وئيلو نه وړاندې د ادبي دوستانو مرکه مردان ستائينه کول ضروري ګڼم چې د دې مرکې له اړخه په مختلفوموضوعاتو ډېر زيات کتابونه خوارۀ شول- دپښتونخواد نومړو پوهانو سره درنې درنې غونډې، د چاپ شويوکتابونو مخ کتنې، اووۀ ورځنې تنقيدي اجلاسونه، مرکه نن اوداسې نورې ادبي هلې ځلې دقدر وړدي- په دې لړ کښې د ښاغلي اکبر هوتي "مور" ۲۰۱۰م هم د دې مرکې يو لوے ادبي خدمت دے- د نړۍ په مخ داسې يو انسان به نۀ وي چې د مور او پلار د عظمت نه به خبر نۀ وي- اوس کۀ د دې پوهې باوجود يو زوے د مور

او پلار قدر نۀ کوي نو دا به د هغۀ ډېره لويه کم بختي وي- الله تعالی د مور په زړۀ کښې د خپلو بچو د پاره ډېره لويه مينه اچولې ده- د تجربې نه ثابته ده چې هر کله يو ماشوم يا ماشومه د مور په جامو ګندګي وغورزوي نو دغه مور خپلو بچو ته غصه نۀ کوي او نۀ څۀ د خفګان اظهار کوي بلکې تر هغې په خپلو جامو پرېوتې ګندګي نۀ صفا کوي ترڅو چې ئې خپل زوے يا لور په اوبو صفا کړے نۀ وي او پاکې جامې ئې ورته اغوستې نۀ وي-

هر کله چې يو ماشوم د شپې راويښ شي، ژاړي، نو خپله خوږه مور ئې خپلې سينې ته جخت کړي- دغه مور خپلې خوبولې سترګې تر هغې نۀ پټوي ترڅو چې ئې خپله لور يا زوے اودۀ کړے نۀ وي- دغه رنګه کۀ يوه مور په تنارۀ ډوډۍ پخوي او د ماشوم ژړا ئې ترغوږو شي نو په منډه منډه خپل ماشوم په دواړه مخه ښکل کړي- د دغې مور په زړۀ کښې د خپل ماشوم د پاره دومره ډېره مينه وي چې په تنارۀ پورې کړې ډوډۍ ترې هم وسوزي خو مجال شته چې دغه مور د خپل بچي ژړا زغملے شي- په تېره زمانه کښې به څنو مياندو د خپلو ماشومانو د قلارولو د پاره سندرې هم وئيلې- د نمونې په توګه د يوې سندرې څۀ حصه وړاندې کول ضروري ګڼم:

| | |
|---|---|
| الله هو شه الله هو | زما جانه الله هو |
| يو وزرې دې ده مور | پلار دې نشته دے په کور |
| نۀ مې مور شته نۀ مې خور | هم صحرا کوم هم کور |
| تۀ اودۀ شه زما ځان | مور دې ستا نه شه قربان |
| ټول کارونه مې دي وران | شپه او ورځ مې دي په ځان |
| الله هو شه الله هو | للے للے، للے للے، للے للو(۱) |

www.pukhto.net

ښاغلے اکبر هوتي په دې حقله خوش نصيبه دے چې هغه د خپلې مور فرمانبرداره زوے وۀ- د خپل کور د ګاونډيانو نه مې دا اورېدلي دي چې ښاغلے محمداکبر (چې هغوي ورته صرف محمداکبروائي) لکه د خپلو نورو ورونو غوندې په حقيقت کښې په مور مئين وۀ- هغۀ چرته هم خپله مور خفه کړې نۀ وه او نۀ ئې ورته ستغه خبره کړې وه- هغه د مور د عظمت نه خبر وۀ او عجيبه خبره دا ده چې نن د "مور" مخ کتنه په داسې وخت راجوړه شوې ده چې هم د دې مئي مياشتې په نهمه نېټه (په سبانۍ ورځ) د نړۍ په ډېرو هېوادونو کښې د مياندو په نوم ورځ نمانځلې شي- په دغه هېوادونو کښې انګولا، کېنېډا، استريا، اټلي، فلپائن، چين، سوئيزرلېنډ، تائيوان، ترکي، فن لېنډ، بنګله دېش، جرمني، ملائشيا، مالټا، يوګنډا، يونان، يوکرائن، امريکه هالېنډ، نيوزي لېنډ، سينګاپور، وېنزوېلا، زمبابوې، سري لنکا، بروناني، جنوبي افريقه، ډنمارک، ائس لېنډ، پاکستان او داسې نور هم شامل دي- ځنې هېوادونو کښې د فرورۍ، مارچ، جون، نومبر او دسمبر مياشت کښې د مور په نوم ورځ نماځلې شي-

د نړۍ په مخ ډېر داسې ليکوال شته دے چې هغوي په خپلو ليکونو کښې د خپلو مياندو سره د مينې دعوې کوي خو په حقيقت کښې داسې نۀ وي- ډېر داسې ليکوال به وي چې هغوي به خپلې مياندې ازار کړې وي، خپلې مياندې به ئې کنځلې وي او تر دې چې له کوره به ئې هم شړلې وي او دغه ليکونکي دي چې د مور په ژوند يا پس له مرګه په خپلو ليکونو کښې هغې سره د مينې اظهارونه کوي- دغه رنګه په دې تاليف "مور" کښې به هم دا قسمه

ليکونکي موجود وي چې د هغوي د لاسه به خپلې مياندې په ژړا ژړا د کور نه ګور ته تلي وي- د پښتو ژبې صوفي شاعر عبدالرحمٰن بابا څۀ په دې ډول وائي:

مور او پلار خو نېک فرزند له خدايه غواړي
چې بد بخت شي اَدې څۀ کا ابا څۀ کا (۲)

زۀ وايم کۀ الله تعالیٰ داسې يو قانون هم جوړ کړے وۀ چې د خلقو وفات شوې مياندې د لږ ساعت د پاره دوباره ژوندۍ کېدې نو نن د "مور" د مخ کتنې يا سبا په نهمه نېټه د مياندو په ورځ به دغه وفات شوې مياندې الله تعالیٰ ژوندۍ کړې وې او خپلو زامنو ته به ئې وئيلي وو چې تاسو ټول دروغ وايئ- هر کله چې مونږه ژوندۍ وو نو زمونږ نافرمانۍ مو کولې او نن راغونډ شوي يئ زمونږ ستائينه کوئ- زمونږ په ياد کښې لوے لوے پروګرامونه کوئ خو اکبرهوتي لکه څنګه چې ما وئيلي دي چې خوش نصيبه دے نو جنتي هم دے چې د مرګ نه وړاندې او وروستو ئې هم د مور مينه په زړۀ کښې ساتلې ده نو ځکه خو ورله الله تعالیٰ نن دا توفيق ورکړۀ چې د "مور" په نوم ئې دومره ښکلے تاليف چاپ کړۀ-

د پښتو ادب د وړومبي دور نه تر درېم دور او زمونږ جديد دور کښې د حمزه بابا نه تر دې دمه د مور په نوم داسې يو کتاب چا هم چاپ کړے نۀ دے او دغه حال د نورو ژبو هم دے نو ځکه زۀ ښاغلي اکبر هوتي له په دې تاليف مبارکي ورکوم او خپلې خبرې هم د هغۀ په دې شعر سرته رسوُم:

خدايه په هغه چا ازمېښت مۀ کوه
خدايه د چا چې کور کښې مور نشته (۳)

# حوالې

1) پروفېسر محمدنواز طائر، پښتو کښې د ماشومانو سندرې او صوتونه، پښتواکېډمي، پېښور يوني ورسټي، ۱۹۸۹ء، مخ ۲۹
2) عبدالرحمان، د رحمان بابا کليات، (تحقيق، ترتيب او سمونه) دوست محمدخان کامل او قلندرمومند، پېښور ۱۹۸۴، مخ ۳۸
3) اکبرهوتي، "مور" تاليف، د ادبي دوستانو مرکه مردان، اول ځل ۲۰۱۰ء، مخ۱۴۸

يادګېرنه:

دا تبصره د محمد اکبر هوتي د کتاب "مور" د مخ کتنې په دستوره کښې اوروليې شوې ده۔

۸ مئي ۲۰۱۰ء

# سکونډاري

د فضل مولا خيال نوم به ما ډېرو ورځو نه اورېدو خو دا معلومات راته شوي نۀ وو چې خيال صېب کوم ځائے وسېږي، په کوم عمر کښې به وي، زلمے به وي کۀ بوډا به ئې سپينه وي خو د خوش قسمتئ خبره دا ده چې خيال ما ډېر زر او په لږ وخت کښې وپېژندۀ. په لږ وخت کښې د پېژندو خبره مې په دې وکړه چې خيال په ډېره نااشنايئ کښې زما په درک ما له د خپلې شعري مجموعې "سکونډاري" درې کتابونه دوه زما په نوم او يو د امتيازاحمدعابد

په نوم راولېږلو او دغسې ماته د هغهٔ د پتې مينې اندازه وشوه- زما يقين دے چې خيال به لکه زما غوندې نورو شاعرانو له هم خپله شعري مجموعه په ډېره مينه ورکړې وي، زمونږ پښتانهٔ شاعران په دې حقله ډېر شومان دي- دوي د چا پښتون شاعر کتاب په بيعه نهٔ اخلي- په دې طمع وي چې ماله به ئې په ډېره مينه يعنې بغېر پېسو راکړي او چې څوک ئې په بيعه هم اخلي نو زما په خيال داسې خلق به ډېر لږ وي چې د پښتو کتاب په بيعه واخلي، کېدے شي چې د خيال نه چرته شاعر نيم يا چرته چا په پښتو ادب مئين اخستے وي-

د خيال صېب وړومبې شعري مجموعه د "بوډۍ ټال" خو زما د نظره تېره شوې نهٔ ده خو په کتاب کښې د درنو ليکوالو د ليکونو نه راته معلومه شوه چې د خيال وړومبنۍ مجموعه "د بوډۍ ټال" هم چاپ شوې ده- دوېمه شعري مجموعه "سکونډاري" ئې زما په وړاندې ده- په دې مجموعه ښاغليو رحمت شاه سائل، پروفېسر عبدالحق نسيم، باچاشيرين وصال، زرنوش شهاب او گل بخشالوي ليکل کړي دي- زلمي ليکوال ارقم جان ارقم ورته د کتابت ښکلا ورکړې ده، کتابت ئې دومره ښکلے دے څومره چې ارقم جان په خپله ښکلے دے- ښاغلي سائل صېب د خيال په شاعرۍ يو نظر زغلولے دے- په دغه يو نظر کښې ښاغلے سائل صېب څهٔ په دې ډول ليکي چې "کتاب لوستل چې ما شورو کړل نو اول خو پرې نهٔ پوهېدم او دا حادثه داسې وه لکه ما چې په اول ځل د حافظ الپوري کتاب لوستهٔ خو ورو ورو د دهٔ په طرز او بيان ورسېدم او چې پرې ورسېدم نو حېران هم شوم --- خيال چې د نوې شاعرۍ په کوم سپرلي کښې زېږېدلے دے رنګ ډنګ خو ئې

هغسې دے خو چغېدۀ ئې بل شان دي (۱) د سائل صېب خبره چې د خيال په شاعرۍ په اول ځل نۀ پوهېدم خو ورو ورو د دۀ په انداز او طرز ورسېدم- زۀ هم د خپلې تبصرې په دوران کښې لکه د سائل صېب دا کوشش کومه چې ورو ورو د خيال په شاعرۍ پوهه شم-
پروفېسر عبدالحق نسيم په خپله سريزه کښې ليکي چې "ښاغلي خيال کومې رباعيانې او قطعات په خپل کتاب "سکوندړاري" کښې ځاے کړي دي زما په خيال کښې د تجربې او جذباتو له مخه په دوي کښې د ګوتې اېښودو ځاے نشته خو دومره قدر له خبره ده چې ځنې ځايونو کښې د دوي رواني او وزن ننښتے او بې تولې شوے دے--- کۀ د کتاب د چاپ کېدو نه وړاندې اصلاح ونۀ شي نو لوستونکي به ئې په خپله ځاے په ځاے وويني(۲) د ښاغلي نسيم وروستۍ خبرې سره زما مرسته شته خو داسې ښکاري چې خيال صېب پرې قصداً ځان غلے کړے دے -بادشاه شيرين وصال هم په خپل خيال کښې د خيال د شاعرۍ تجزيه "خيال زما په خيال کښې" د سرخط لاندې اخستې ده ښاغلے وصال ليکي چې "دې شوکمار مادي دور کۀ د انسان د زړۀ نه سکون او قناعت شوکولے دے نو د هغۀ د شونډو نه ئې خندا هم تروړلې ده په داسې حالاتو کښې د خيال شاعري يو لوے غنيمت دے(۳) د وصال دا خبره ځان له په خپل ځاے يو لوے اهميت لري کۀ د خيال شاعرۍ ته ځوک وګوري نو هغه په شاعرۍ کښې په سنجيده او مزاحيه دواړو اړخونو طبع ازمائي کړې ده- کۀ لوستونکي ئې ګوري نو کۀ خندا ته ئې خُلۀ نۀ جوړېږي نو مسکيتوب به ورته خامخا کوي، ګل بخشالي د "مہکتی وادیوں کا شاعر" د سرخط لاندې د خپل خيال نيلے زغلولے

دے لیکي چې "سخن کوئی مشکل کام نہیں بشرط یہ کہ سخن کو ماحول میسر ہو اور فضل مولا خیال اس نعمت سے مالامال ہے"(۴) د ښهٔ ماحول خبره به ئې په دې درسته وي چې د خیال صېب ماحول رنګین دے ځکه ئې پښتو ادب ته دوه شعري مجموعې ورکړې دي- د ښهٔ ماحول اندازه ئې د ښاغلي زرنوش شهاب د هغه یو څو کرښو د وړومبنۍ حصې نه لګېدے شي چې د سکونداري په حواله ئې د خیال د ښائسته او شاعر مزاجه کلي اله ډهنډ ذکر کړے دے لکه چې څهٔ رنګه چې معلومه شوې ده چې خیال سنجیده شاعري هم کوي او مزاحیه شاعري ئې هم کړې ده- دلته به اول د نمونې په توګه د مزاحیه شاعرۍ ذکر وکړو چې په موجوده وخت کښې د اکثرو شاعرانو په خلهٔ هم دا خبره ده خو خیال ورته د شاعرۍ زینت ورکړے دے لکه دا قطعه چې:

وړه خبره وه د توقې خو بلها کړه شوه
په لیک لوست نېغه تګ کونکے په املاکړه شوه
چې خبرېدمه ترې زهٔ خیال نو په باړه ګلۍ کښې
پرون ئې پښې کړې وړې وې نن ئې ملا کړه شوه (۵)

خیال په خپله شاعرۍ کښې د خپلو ملګرو، خپلوانو او یارانوشاعرانو د غریبۍ ذکر هم کوي- دلته وګورئ چې د خپلو دوستانو، فقیرشاه مسکین، ممتازمسافر او فضل سبحان شاکر ذکر څومره په پسته لهجه کښې کوي چې د ځانه ئې هم نهٔ خفه کوي لکه چې وائي:

لا لا دوکان کښې مې سبزي له مجبورۍ خرڅوي
داسې ممتاز بېندۍ ګاډۍ کښې شنې نرۍ خرڅوي
خیاله دا واړه نخښنانې دي د غریب د ژوندون

سبحان شاکر چې په بازار کښې ګنډېرۍ خرڅوي (٦)

هغهٔ به د راجيو ګاندهي په مرګ ژړلي وو کاش کهٔ راجيو ګاندهي مسلمان وهٔ لکه چې وائي:

ما ستا په مرګ باندې چې ونهٔ ژړل
په دې چې لرې د ايمان وے تهٔ
خو ډېر خفه دې مرګ سره يم په دې
خيال وائي کاش کهٔ مسلمان وې تهٔ (٧)

خيال هغه خرڅېدونکو سياستدانانو ته خبر دے چې د خدمت په بهانه د غريبانانو نه ووټونه ترلاسه کړي په لويو کرسو کښېني او هلته په ګرانه بيعه د خپل ځان سودا لکه د مېلې د څاروي په شان وکړي او ځان خرڅ کړي څکه خو خيال دغه خرڅېدونکو امېدوارانو ته وائي چې لکه څنګه تاسو په اسمبلو کښې ځانونه خرڅوئ نو پس له دې به يو ووټر هم بغېر د پېسو ووټ نهٔ درکوي لکه چې وئيلے ئې دي:

رقم د يو نه ووټ به بل له ورکئ
دې نه به پس داسې ووټر کوي بيا (٨)

خيال د داسې قسمه خلقو غندنه هم کړې ده چې په هغې به ډېر خلق په خپلو ګرېوانونو کښې سرونه ښکته کړي او دې ته به يو حقيقت ووائي:

پلار و مور يو طرف ته ښکلي ناست دي
بچي ئې بل طرف ته غلي ناست دي
د نوي دور دا خوارهٔ دي خياله
يو وي سي ار ته ټول ښاغلي ناست دي (٩)

د سید فضل مولا خیال په شاعرۍ کښې نورې هم داسې خوږې خوږې او د طنز و مزاح نه ډک شعرونه شته خو د هغهٔ د سنجیده شاعرۍ ذکر هم چېړل ضروري ګڼم، د ښاغلي خیال په شاعرۍ کښې نازک خیالي هم شته چې په مطلب ئې سړے په اسانه پوهېږي خو په ځنو شعرونو کښې ئې داسې ګران ټکي هم استعمال کړي دي کهٔ ښاغلي خیال ورسره د یادګېرنې د پاره د هغو ګرانو معنې لیکلې نهٔ وې نو کم از کم لکه زما غوندې کم علمه سړي ته به په هغو ټکو پوهېدل ډېر ګران وو- د مثال په توګه صرف یوه قطعه ستاسو مخې ته راوړم:

ماته پروت جنت دوزخ زما په مرګ دے
تا خپل کړے تناسخ اواګون نرګ دے
زما کار د شین زمري او د سپین باز وي
ستا هر کار خو د ګیدړ او یا د چرګ دے(۱۰)

ښاغلي خیال د دې قطعې د وړومبني شعر په دوېمه مصرعه کښې د تناسخ، اواګون او نرګ معنیٰ څهٔ دا رنګې لیکلې ده چې "د هندوانو د عقیدې مطابق د روح د یوې بوټي نه بلې ته تلل، مسلسل زندګي" اوس کهٔ د دغو ټکو دا مطلب وي او کهٔ نهٔ وي، دا به هغه چاته پته وي چې څوک پرې پوهېږي- ما چې د ښاغلي خیال د هغه شاعرۍ ذکر وکړو چې سړے پرې په اسانه پوهېدے شي د دې خبرې په ثبوت کښې زهٔ د خیال دا یوه قطعه وړاندې کول ضروري ګڼم:

دا نن چې عاشقان په زړګي دل دي نور څهٔ نهٔ دي
تا ابښې سرهٔ ګلونه په اوربل دي نور څه نهٔ دي

روسيان يادونه ځکه دې ديدن رانه اوس غواړي
په مخکښې نخښانې دې دکابل دي نورځۀ نۀ دي(۱۱)

زۀ د خپلې تبصرې سکونډاري په اخره کښې د خپل ملګري خيال صېب د پاره دا دعا کوم چې ښاغلے خيال دې د پښتو ادب هغه منزل ته ورسي د کوم مقام رسېدو د پاره چې ښاغلے خيال تګ و دو کوي او د پښتو ژبې سرخېله کوي د ليک په اختتام کښې زما د خوښې د ښاغلي خيال صېب يو څو شعرونه تاسو ته وړاندې کوم:

زړګيه تا دې جوارۍ ته کړمه جوړ ځکه خو
مال مې همه وخوري هغه زۀ ئې غونډۍ وخورمه

مرګ هغه وي چې پناه کړي داسې ذات
ورسره چې شي همه قام بس ميرات
د پښتون د پاره اے فخرِ افغانه
خفه خيال دې يمه ځکه په وفات (۱۲)

## حوالې

1) سيدفضل مولا خيال، سکونډاري، تاثرات، رحمت شاه سائل، جدون پرېس پېښور، اول خل کال ۱۹۹۲ء، مخ ـ ز
2) سيدفضل مولا خيال، سکونډاري، تاثرات، پروفېسر عبدالحق نسيم، مخ ـ ح، خ
3) سيدفضل مولا خيال، سکونډاري، تاثرات، بادشاه شيرين وصال، مخ ـ ل، م
4) سيدفضل مولا خيال، سکونډاري، تاثرات، مهکتي واديو کا شاعر، حاجي ګل بخشالوي، مخ ـ ي

www.pukhto.net

5) سیدفضل مولا خیال، سکونډاري، مخ ۸۱
6) هم دغه، مخ، ۵
7) هم دغه، مخ ،٦٦
8) هم دغه، مخ، ۵۸
9) هم دغه، مخ، ۱۸
10) هم دغه، مخ، ۳۵
11) هم دغه، مخ، ۳
12) هم دغه، مخ، ٥٦، ۷۵

ورځپاڼه وحدت، ۲۸اکتوبر ۱۹۹۳

# سترې کاروان

سترې کاروان د روښان فکره شاعر او ارټسټ خادم یوسفزي وړومبۍ شعري مجموعه ده چې د ملګري سلېمان کامل د کمپوزنګ او حبیب درمان د ترتیب نه پس د قامي ادبي جرګې له اړخه په کال ۲۰۱۰ء کښې خوره شوه۔ د کتاب ټرون د لر او بر افغان په نوم شوے دے۔

محترم شاعر ادیب فېض الوهاب فېض لیکي چې " خادم یوسفزي له الله تعالی دا صلاحیت ورکړے دے چې نۀ صرف د جوړ رنګ او محیط نه ئې ځان ایستے دے بلکې خپل یو رنګ ئې جوړ کړے دے" دوي دا هم لیکلي دي چې "د هغۀ په شاعرۍ کښې د

فطرت د ښکلاګانو عکسونه هم شته او د خپل ثقافتي شناخت او تهذیب روح رنګونه په کښې هم په غورځنګ دي".(۱)

د ملګري اسرارالله اسرار په خیال "خادم یوسفزے د ړوند تقلیدقائله نهٔ دے، ترقي خوښ لیکوال دے، دحسن په آئینه کښې د ژوندناوې سینګاروي او دژوند په آئینه د جانان سر څنه کوي"(۲) ملګرے اسراراتل لیکي چې "ګران خادم د مینې وېش ګر، د امن پیامبر، دپښتون مئین او د دې خاورې وطن خادم اوشاعر دے"(۳) ملګرے سلېمان کامل د خادم د شاعرۍ انداز یو ځانګړے حېثیت ګڼي دوي لیکي چې " هغهٔ خپل محسوسات په ازاد متې او نبغ په نبغه د اظهار پېرايې ته راوړي چې اوس ئې دا دے خپلو لوستونکیو ته د "سترے کاروان" په شکل کښې پېش کوي".(۴)

د خادم یوسفزي باره کښې د ذکر شوو ښاغلیو د تاثراتو نه به څنګه انکار وشي چې په حقیقت کښې "سترے کاروان" د پښتون تهذیب او ثقافت هاغه ټول خویونه، رنګونه او عکسونه وړاندې کوي کوم چې په دې قام کښې موجود دي۔

کهٔ زما حافظه کمزورے نهٔ وي نو دا د کال ۱۹۸۶ء خبره ده چې زهٔ د مردان سکندري چوک کښې ولاړ ووم د یو زلمي طرف ته مې نظر شهٔ چې ماته ئې کتل، ما ترې مخ واړوهٔ او بیا مې لږ ساعت پس هغهٔ ته په دې غرض وکتل چې دا مېلمه څوک دے؟ د کوم ځاے به وي او ماته اوس هم ګوري کهٔ نه؟ هغهٔ هم هغه شان کتل، سترګې ئې نهٔ اړولې۔ زهٔ ورنژدې شوم تپوس مې وکړهٔ۔ هغهٔ وئیل خادم النبي یم، د بالاګړهۍ یم، ما وئیل بیا خو مېلمه یې، زمونږ ځاے نژدې دے، دمه به شې، بیابه ځې، هغهٔ وئیل په تادۍ کښې

www.pukhto.net

يم اويوخوندور شعر ئې واورولو- دهغهٔ دشعرپه اورېدوماخپل جېب نه کاغذونه راوخکل اوپه يوځل مې ورته دوه درې غزلې واورولې- هغهٔ ماله څهٔ په عجيبه انداز کښې داد راکولو، ما به شعر وئيلو او هغهٔ به زما لاس په خپل لاس کښې ونيوهٔ او په بل لاس به ئې زما لاس ښهٔ په زوره وهلو، دا به ئې وئيل ډېر ښهٔ، بيا ووايه، اے هلکه ډېر ښهٔ، دا شعر بيا ووايه- تر دغه وخته ما ته دا پته نهٔ وه چې ګني دا هغه خادم النبي "خادم يوسفزے" دے، دا خو چې هغهٔ يو څو خوندورې غزلې واورولې نو معلومه شوه چې هغه د محترم شاه جهان استاد زوے دے- د شاعرانو په کورنئ کښې ئې سترګې غړولې دي او تکړه شاعر دے-

د "سترے کاروان" په اتم مخ يو نعت او په اووم مخ د حمدبارې تعالی په نوم دوه شعرونه راوړي شوي دي خو په حقيقت کښې دغه دعا ده- په حمد کښې د الله تعالی لويي بيانولے شي نو ځکه مونږه دغه شعرونو ته حمد وئيلے نهٔ شو بلکې دعا ورته وئيلے شو د نمونې په توګه دا شعرونه:

د نفس شېطان د مکره ومې ساتې<br>
خدايه طاقت د عبادت راکړه<br>
د خپل حبيب په روي قدرته مونږ له<br>
جام د ديدار د عنايت راکړه

(۵)

خادم يوسفزے د مردان ليکونکيو کښې يو جوت مقام لري- په پښتو ژبه مئين شاعر دے- د وطن مينه ئې په زړهٔ کښې غورځنګونه وهي- د ننګ او پت جذبه ئې د ستائنې جوګه ده- په

www.pukhto.net

خپله شاعرۍ کښې د خپل اودۀ قام راویښولو ذکر هم کوي د نمونې په توګه دا یو څو شعرونه:

مورنۍ ژبه په شتۀ بچو کښې ژاړي
ګني هر پښتون بچے بچے کاتب شۀ

خادم د تنګ او پت خبره باندې وير وروي
خدایے زده پښتو ژبې پرې څۀ جادو منتر کړے دے

چرې دې قحط په دې خاوره باندې ونۀ بلوسي
په پاک وطن خادمه ځان ځارول هم غواړي

غږ د خوشحال یمه، خادم یمه خو نۀ پوهېږم
چې دا اودۀ قام به زۀ څنګ راویښوم ملګرو

(٦)

په اولسي ادب کښې روماني قيصو ته ډېر لوړ مقام حاصل دے، په دغو قيصو کښې د نورو ژبو ترجمه شوې قيصې هم د ستائنې جوګه دي. د پښتو ژبې ډېرو شاعرانو په خپله شاعرۍ کښې د دغه قيصو په څۀ نه څۀ اړخ رڼا اچولې ده. په دغه ترجمه شويو قيصو کښې د فرهاد شيرينۍ قيصه ډېره مشهوره ده. زمونږ ګران ملګرے خادم یوسفزے په خپل "ستړے کاروان" کښې د دې ذکر څۀ په دې ډول کوي:

تۀ لږ اثر د شيرينۍ د سترګو ورکړه چا له
يو تن په زرو کښې راپورته شي فرهاد به جوړ شي

کۀ تۀ شيرينه شوې بيا ګوره چې خادم څۀ کوي
چې غر سُورے دې په تېشې لکه فرهاد نۀ کړم

ورشئ شيرينه دلاسه کړئ ډاډ ګېرنه ورکړئ
غرۀ ته ورځم تېشې په لاس دا دې فرهاد راولم
(۷)

خادم يوسفزے د نوم نمود او شخصيت اوږے نۀ دے او نۀ د بل په مدحو پائي-د جانان مننه کوي خو عادت نۀ جوړوي په خپله يو خودداره مئين او شاعر دے-دا شعرونه ئې د ستائنې جوګه دي:

همته پام چې د دمې احساس مې ستړے نۀ کړے
زۀ خو ردې د تاريخ بډدم شخصيت نۀ جوړوم
زۀ يو خود سره ژوند د بل په مدحو نۀ پايمه
مشکور به يمه خو جانانه عادت نۀ جوړوم (۸)

خادم يوسفزے يو امن خوښه شاعر دے هغه د دوو ورونو مېنځ کښې هم ترېګني زغملے نۀ شي، هغه هر ځاے او هر چرته امن غواړي، د امن درس ورکوي- دغه رنګه د هغۀ په زړۀ کښې د قناعت او صبر جذبه هم موجود ده، ګني د هغۀ د لېونتوب په وړاندې د وخت مجبورۍ هېڅ نۀ دي- د نمونې د پاره دا شعرونه وړاندې کول ضروري ګڼم:

والله کۀ لېونتوب ته مې د وخت مجبورۍ څۀ وي
جذبه د قناعت مې انتقام ته نۀ پرېږدي

د ترېګنې پېدا کونکيو نور د خداے په خاطر
ځئ چې د ورونو ورونو مېنځ کښې ورورولي پېدا کړو (۹)

په "ستړے کاروان" کښې يوه خوندوره سندره او يو څو نظمونه هم راوړے شوي دي، په دغو کښې "وطنه، دستور، د ژوند تکل، پېغام، داولسي ادب يوه اوږده لړۍ" دستائنې جوګه دي۔ د ښاغلي خادم يوسفزي په نظمونو کښې د پښتون تهذيب او ثقافت ټول رنګونه ځلنده ښکاري۔ د خپلې معاشرې په دود دستور ئې هم ښۀ نظر دے خو بنيادي طور هغه د غزل ښۀ شاعر دے نو ځکه زۀ هم خپله خبره د هغۀ په يوڅو شعرونوسرته رسول غواړم۔

خادمه هېڅ په قدر مونږ د کعبې پوهه نۀ شو
هسې په خُلۀ وايُو چې مخ مې د کعبې په لوري

ما خپل بچي ما د پښتو روني کښې کلک تړلي
وي به برېنډ، وي به نهر، په وعده ټينګ ولاړ دي

تۀ چې د نورو نه وزګار شې نو خادم دې ياد شي
د ستړو ځاے دې هيله دا شهبازګړه وليده

چې د خادم د خاموشۍ په ژبه نۀ پوهېږې
زمااوستا په نظريه کښې غټ تضاد به جوړ شي (۱۰)

## حوالې


1) خادم يوسفزے، ستړے کاروان، تاثرات، فېض الوهاب فېض، قامي ادبي جرګه مردان، اول ځل ۲۰۱۰ء، مخ ۴
2) خادم يوسفزے، ستړے کاروان، تاثرات، دمينې کروندګر، اسرارالله اسرار، مخ ۵
3) خادم يوسفزے، ستړے کاروان، تاثرات،اسراراتل، مخ ٦


www.pukhto.net

4) خادم یوسفزے، ستړے کاروان، تاثر، سلېمان کامل، شا مخ
5) خادم یوسفزے، ستړے کاروان، مخ، ۷
6) هم دغه، مخ، ۵۳، ۶۱، ۷۴، ۹۷
7) هم دغه، مخ، ۸۴، ۹۱، ۹۴
8) هم دغه، مخ، ۹
9) هم دغه، مخ ۸۳، ۱۱۵
10) هم دغه، مخ ، ۱۱، ۳۹، ۵۷، ۸۴

۵ مئي ۲۰۱۰

# د ژوبل احساس څرېکې

د پښتو ادب د پاره چې زمونږ سترو لیکوالو کوم خدمات کړي دي نو د هغې نه څوک انکار کولے نۀ شي چې هغوي نوو لیکوالو ته د پښتو ادب د ناوې د سر څنې د پاره ډېر څۀ ورکړي دي۔ یو خوا کۀ زمونږ ستر لیکونکي لګیا دي د پښتو ژبې خدمت کوي نو بل خوا زلمي لیکوال هم د هغوي په نقشِ قدم روان دي او د پښتو ژبې د پرمختګ د پاره ئې ورځ او شپه په ځان یوه کړې ده۔ په دې زلمیو کښې یو شاه زلمے عبداللطیف سیماب هم دے چې اوس اوس ئې د پښتو ادب په لمن کښې "د ژوبل احساس څرېکې" په نوم د یو کتاب اضافه کړې ده۔ د سیماب صېب عمر چې نولس کالو ته نزدې دے د حېرانتیا خبره ده چې هغۀ په دې دومره کم عمر کښې د یو کتاب خالق شۀ۔ د سیماب صېب د دې کتاب بیعه دولس روپۍ

ده، کتابت ئې غمګين معياري صېب کړے دے۔ ترون ئې د ستر ليکوال او ترقي خوښ شاعر اجمل خټک صېب د دې شعر په نوم کړے دے:

د وطن زخم لېمو ته ورنږدې کړئ
چې دا کسي لږ د پت په وينو سرۀ شي

(۱)

د سيماب صېب کتاب چې د هغۀ د ژوبل احساس د څريکو ترجماني کوي د سوو اسوېلو، دردونو او د يوې نيمګړې مينې مجموعه ده چې په کښې غزلې، نظمونه او قطعې شاملې دي۔ شاعر امن پير ګوهر صېب د عبداللطيف سيماب صېب په باره کښې د کتاب په اووم مخ ليکي چې "د سيماب صېب په کلام کښې سادګي ده او سادګي په شاعرئ کښې ډېر کار کوي زما يقين دے کۀ سيماب صېب د خپل خيال نيلي په خپلو ګودرونو، پلو، پټو نور وګرځول نو هغه ښکلې او خوندوره شاعري به ترې رابرڅېره شي کومه چې د وطن په هر کټ پېر کښې خوروه وره ده"(۲) يقيناً چې د شاعر امن پير ګوهر صېب دا خبره د کاڼي کرښه ده کۀ د سيماب صېب کتاب څوک په ژور نظر وګوري نو د دې خبرې نه به چرې هم انکار ونۀ کړي چې سيماب صېب په دې لږ عمر او لږ وخت کښې ډېره لويه او ډېره تېزه منډه وهلې ده۔ د کتاب په نهم مخ د پېژنګلو د سرخط لاندې غمګين معيارے صېب د سيماب صېب په باره کښې ليکي چې "کۀ د ګران سيماب صېب د ژوبل احساس څريکې باندې يو ژور نظر واچولے شي نو دا به معلومه شي کۀ يو خوا د سيماب د ژوند لمبې غمزده پرېشانۍ او بې قرارۍ دي نو بل اړخ ته

www.pukhto.net

دي په خپل زړۀ کښې د بې وسه خلقو د پاره د همدردۍ جذبه هم لري"(۳) د غمگين معياري صېب دا خبره په يقين کښې خامخا بدلېږي د کتاب په۴۱ مخ د هاغه سوالګرے په نوم يو نظم چاپ دے- دې نظم کښې سيماب صېب د يو بې وسه او معذور انسان سره د همدردۍ اظهار کوي د نمونې په توګه د دغه نظم نه يو څو شعرونه وړاندې کوم:

په سر وهلي بر وهلي په مجبور انسانه
په سترګوړوند په غوږو کوڼ په پښو معذور انسانه
ستا نه به غوښتنه ستا بچي د خوشحالۍ کوي
ستا نه به ګيلې ستا عزيزان د غم ښادۍ کوي
ښۀ په غټو درته ګورم چې مجبور يې تۀ
ښۀ راته ښکارېږې چې معذورې تۀ، رنځور يې تۀ
زړۀ مې دے دغوښې، دې په څنګ په تاخفه نۀ وي
ښۀ راته ښکارېږي خو شاعر سره پېسه نۀ وي
(۴)

ښاغلي فضل رحمان صابرصېب ليکي چې "مونږ دۀ ته يو ښۀ ځوان فکره شاعر وئيلے شو- د دۀ په شاعرۍ کښې کۀ خوارۀ شته نو تراخۀ هم په کښې موجود دي او هغه د ژوند تجربې هم شته کومې چې دۀ په دې عمر کښې د ګېر چاپېره ماحول نه حاصلې کړې دي ---د دۀ په شاعرۍ کښې د مينې او ښکلا سره سره د ژوند حقيقتونه هم شته، هم د دغه خيالاتو د ترجمانۍ په وجه د دۀ شاعري د مظلوم انسان د زړۀ اواز دے(۵)

www.pukhto.net

سیماب صېب کۀ یو خوا په خپله شاعرۍ کښې د تاج محل خبرې چېړلې دي نو بل ځاے کلي وال ژوند ئې هم پرېښے نۀ دے- د کور کلي د کوڅو سره هم ډېر نژدې پاتې شوے دے او د خپل کلي د هر یو غم نه ئې ځان خبر ساتلے دے ځکه خو د خپل کلي عکاسي په لاندېني شعر کښې کوي:

چرې اختر نۀ شۀ په دې کلي کښې
شپه ده سحر نۀ شۀ په دې کلي کښې (٦)

سیماب صېب دیارانویار دے په خپله هم مینه کوي او نوروخلقو ته هم مینه ورکوي په هرغزل کښې دخلوص او محبت ذکر کوي- په کوم زړۀ کښې چې مینه وي، په انسانیت مئین وي، احساس ئې ژوندے وي نو هغۀ سره به دبل چاد زړۀ هم قدر وي- هغه هرچاته د مینې اومحبت په نظرګوري- سیماب د یو غزل په مقطع کښې څۀ دا رنګه وائي:

کۀ مې سر له تنه لر کړے دا به وائي
د سیماب غزل نعرې د محبت دي (٧)

یو بل ځاے کښې خلقو ته د محبت خورولو په باره کښې څۀ په دې ډول درس ورکوي:

اے د ناموس او د غېرت خلقه
پردي کړئ خپل، په خپل شفقت خلقه
لوټې لوټې کړئ مانۍ د نفرت
سپر کړۍ جوړ د محبت خلقه (٨)

سیماب صېب زمانې ته ګوري او د زمانې په رسمونو ژاړي په دې زمانه کښې هم لکه زمونږ غوندې انسانان اباد دي خو په دې

www.pukhto.net

کښې داسې خلق هم شته چې هغوي سره د چا انسان د غم او درد فکر نۀ وي- سيماب صېب کۀ هر څومره دې خلقو ته خوارۀ ورکړې دي، د زمانې خلق ئې زړۀ پورې نيولي دي نو دومره هغۀ ته د خوشحالۍ په بدل کښې غمونه ورکړې شوي دي- هغه ئې دردولے دے ځکه خو سيماب صېب د زمانې په نوم په يو نظم نما غزل کښې د دې خبرې ذکر کړے دے- د نمونې په توګه يو څو شعرونه وړاندې کول ضروري ګڼم:

ما درله سپرلي د خوشحالو زړۀ کښې ساتلي وو
تا هار راپه غاړه کړو غمونه دې پېئلي وو
ما ستا په هر غم کښې په سلګو سلګو ژړلي وو
تا زما په هره بده ورځ پورې خندلي وو
ما په هر محفل کښې ستا د حسن صفت کړے وۀ
تا چې چرته بد مونډل په ما دې راتپلي وو (۹)

سيماب صېب د غزل سره سره نظم ډېر معياري ليکي په کتاب کښې ئې اور اورکے، بځري او دوي لا هغسې پوئے نۀ شو نظمونه د ستائنې وړ دي- خدا ے دې سيماب صېب له ژوند ورکړي چې هم دغسې د پښتو ژبې خدمت کوي، زۀ خپله تبصره هم دسيماب په دې يو څو شعرونو سر ته رسول غواړم:

د بمونو دندوکار دے ستا په چم کښې
هر سړے زوړند په دار دے ستا په چم کښې

چې وينې تا په ژړا رقيبان وخندېږي
سيمابه وکړه خندا، شپه لا په سر پرته ده

ځـئـلـه د ژونـد شـمعې تـه غـل شـوے يـې
مـونږ خـو د وختونـو سـيلۍ وړې يُـو

زۀ درنـه بادشـاه، بادشـاهي نـۀ غـواړم
بـس خـو يـو وګـړے د اولـس مـې کـړه (۱۰)

## حوالې

1) عبداللطيف سيماب، د ژوبل احساس څرېکې، مردان، ۱۹۹۰ء، مخ ۴
2) عبداللطيف سيماب، د ژوبل احساس څرېکې، تاثرات، شاعر امن پيرګوهر، مخ۷
3) عبداللطيف سيماب، د ژوبل احساس څرېکې، تاثرات، غمګين معيارے، مخ ۹
4) عبداللطيف سيماب، د ژوبل احساس څرېکې، مخ۴۱
5) عبداللطيف سيماب، د ژوبل احساس څرېکې، تاثرات، فضل الرحمان صابر، مخ ۱۴
6) عبداللطيف سيماب، مخ ٦١
7) هم دغه، مخ ٥٦
8) هم دغه، مخ ۷۵
9) هم دغه، مخ ۵۷
10) هم دغه، مخ ۳۲، ۲۵، ۳۰، ٦۵

www.pukhto.net

ورځپانه وحدت
16/6/1991

# ژوندي عکسونه

دپښتوادب روزنې د پاره چې د مردان زلمو شاعرانو کومې هلې ځلې شورو کړې دي هغه دچانه پټې نهٔ دي کهٔ د رسالو په شکل دي یا د پښتو کتابونو په شکل کښې، خواه کهٔ په هر شکل کښې دي خو دې زلمیو ورته ملا تړلې ده او د خپلې مورنۍ ژبې خدمت بغېر د څهٔ لالچه کوي۔ نن چې زما په وړاندې کوم کتاب دے نوم ئې "ژوندي عکسونه دي"۔ د کتاب په ټائټل د اروابناد مراد علي گلزار تصویر چاپ دے چې دې سره د کتاب ښائست نور هم سیوا شوے دے۔ لکه څنګه چې مونږ ته معلومه شوې ده چې د دې ملګرو دا ادبي جرګه د ۱۹۸۲ء نه وړاندې د معیار پښتو ادبي ټولنې په نوم یادېده خو د گلزار صېب د وفات نه پس د ملګرو په خوښه د معیار پښتو ادبي ټولنې نوم د هغهٔ د نوم د مناسبت سره کښېښودے شهٔ یعنې "گلزار پښتو ادبي جرګه مردان" نو یقیناً چې دا ډېره د ویاړ خبره ده چې دې زلمو د خپل ورور نوم ژوندے وساتهٔ۔ د دې پښتو

ادبي جرګې زلمیود دې نه وړاندې هم دپښتو ډېر ښکلي او معیاري کتابونه چاپ کړي دي دکومو تفصیل چې د کتاب په دوهم مخ ورکړے شوے دے. ماخو وې چې زۀ به صرف د ژوندي عکسونه باره کښې لیکل وکړم خو دلته د دې زلمیو په هغه خدماتو هم نظر اچول ضروري ګڼم کوم چې دوي د دې نه مخکښې د پښتو ادب د پاره کړي دي لکه پرکاله شوګیرې (نظم)، تېرې کړیکې (نظم) او وروکې لارې (نثر) چې د غمګین معیاري صېب تخلیقات دي. د دې نه علاوه مسکي زخمونه او د لمبو په غېږ کښې چې ښاغلي فرمان علي زهیر په کښې د نظم په شکل د خپل ساده او سپېڅلو خیالاتوعکاسي کړې ده. داد دې ملګرودتېر وخت ادبي خدمات وو.

ژوندي عکسونه کومه چې زما موضوع ده دا د ګلزار پښتو ادبي جرګې مردان د ملګرو شریک شعري زیار دے چې هر زلمي شاعر په کښې تر خپل وسه د خیال څرګندونه کړې ده. د کتاب په نهم مخ د "ژوندي عکسونه" د عنوان لاندې غمګین معیاري صېب د دې زلمیو شاعرانو په باره کښې لیکلي دي چې "باید چې څنې کلامونو کښې فني کمے شته او د فن بلوغت نۀ لري خو بیا هم یو کوشش ضرور دے"(۱) زۀ هم دې ورور سره مرسته کوم ولې چې په نننې دورکښې چې یوپښتون ته په پښتولیکلو هم ځان بدې ښکاري اوپه داسې وخت کښې یو څو زلمي د پښتو ژبې خدمت د پاره کوششونه کوي نو دا ډېره د فخر خبره ده. زۀ تاسو ته د دې کتاب د هریوشاعرپه باره کښې دخپل خیال څرګندونه کولې نۀ شم ځکه چې خبره به ډېره اوږده شي خو د نمونې په توګه یو یو شعر وړاندې کول ضروري ګڼم:

اروابناد مرادعلي ګلزار

ځهٔ به خوند د محبت په دنیا واخلي
چې ورګډ نهٔ شي د مینې په بازار څوک

عبېدالله عابد

ما وې ورو کے دے لا پوهه نهٔ دے
زهٔ ئې په ناز او په ادا دهوکه شوم

امیر محمد اسیر

توري وروځې دې لیندې دي دِ حبشو
غشے وولي مسکینان به پرې سُوري کا

محمدجاوېد نسیم

څوک قلندر غونډې خودداره نشته
چې ئې کوزه کښې سمندر ښکاري

عبدالرشید اسیر

ساقي تسکین مئیو کښې نشته ګورې
د زړهٔ تسکین د چا لیدو سره وي

عبدالرحمٰن فکري

چرته کښې چې واګې د بې ننګو شي په لاسو کښې
هلته خودي مړه شي ننګ غېرت او حیا وسوزي

فضل کریم باران

اور دې په ما کړلو راپورې څهٔ له
مینه چې نهٔ کړې بیا راګورې څهٔ له

سبزعلي ارماني

زهٔ پښتنې مینې زېږولے یم
ځکه مې خبرې پښتنې شولې

محمد ایوب صابر

ستا بې رُخي د حده تېره ښه ده
زما د صبر ارزوګانې ښې دي

ذاکرالله طوفان

دا وران کتل او دغه ورانې سترګې
دا خو زمونږ بربادول غواړي

عارف زخمي

دسیالو بهار به راشي دا سپېرې ورځې به ښې شي
په دې طمع تلوسو کښې د سکون په لټون ګرځم

غمګین معیارے

بیا مو دشته لټ کړه د جمهور په نوم
مونږه رابېدارې حوصلې کړلې

هارون الرشید شاهین

د خپل قسمت په انتظار ولاړ یم
درته اشنا سترګې په لار ولاړ یم

عبدالحمید بدنصیب

زخمي زخمي یم په زړګي ملګرو
څۀ کړم ګلونه د سپرلي ملګرو

زردعلي خان بریالے

زۀ مدام ستا د راتلوپه انتظار یم
تۀ به کله وکړې ما پله طلب

محمدانور ناصح

حقه وېنا به چرې پټه نۀ کړم
کۀ په کښې مرم ما له اجل ښۀ دے

ذاکرالله ذاکر

ما په خپل زړګي ونۀ شمېرل داغونه
اندازه به ئې څنګ ولګي اشنا ته

زېنون خان زېنون

سر چې د خاورو په بالښت کېږدمه
بیا راته وګوره عبرت د پاره

مراد علي نصیر

څومره چې ما ورته په ناز اېښې وۀ
هغه د مینې دام خالي لاړۀ

فرمان علي زهیر

هر یو ظالم ورباندې لوبې وکړې
زړونه زمونږ د ادیرو بدتر دي (۲)

دا چې زلمیو د کلام نمونې دي زه دعا کوم چې خدای پاک د دوی حوصلې نورې هم مضبوطې کړي. په اته څلوېښت مخونو خور دا کتاب ژوندي عکسونه په شپږ روښې د یو لړ زلان دي زه خپلو پښتو شاعرانو ورونو ته هم خواست کوم چې د دوی دې کوشش ته دې په درنو سترګو وګوري او خپلې خبرې په خپل دې شعر سرته رسوم:

د نوي کُول په حسرتونو غزل
خدایه راخور کړې په فکرونو غزل

## حوالې

1) غمګین معیارے، ژوندي عکسونه، مرتب، ګلزار پښتو ادبي جرګه معیار سیمه مردان، اول ځل ۱۹۹۰، مخ ۹

www.pukhto.net

2) هم دغه، مخ ۱۱، ۱۲، ۱۳، ۱۴، ۱۸، ۲۱، ۲۳، ۲۷، ۲۹، ۳۱، ۳۳، ۳۵، ۳۷، ۳۹، ۴۱، ۴۳، ۴۵، ۴۶، ۴۷، ۴۸

ورځپاڼه وحدت، 24/3/1990

# زۀ او ساحل

## دوه ګامه وروستو، دوه ګامه وړاندې

ښاغلے ساحل یوسفزي سره زما وړومبے ملاقات په کال ۱۹۹۲ء کښې په هغه ورځ شوے وۀ چې کله زۀ او ساحل سره د نورو ملګرو د پښتنور صوبائي اسمبلۍ حال مخې ته په سکولونو کښې په خالي پوستونو د بهرتۍ د پاره راغونډ شوي وو- زمونږ دغه منډو ترړو رنګ راوړۀ او دواړه استاذان شو- په دغه ورځو کښې به ما خپل ځان د ساحل صېب نه دوه ګامه وړاندې ګڼلو، خو د دې نه خبر نۀ وم چې دا ښاغلے به یوه ورځ ما دوه ګامه شاته پرېږدي او په ترپکو ترپکو خرامانه به خپل منزل ته زما نه وړاندې کېږي- کۀ د تعلیم په محکمه کښې د هېډماسټرۍ خبره وي یا د ایس ایس ټي د پاره د ترقۍ لسټونه تیارېږي نو دا ښاغلے به زما نه دوه ګامه وړاندې او زۀ به دوه ګامه وروستو په دې انتظار چې کله به د ښاغلي ترقي کېږي چې ما ته هم لاره صفا شي- او د دې دوه ګامه

www.pukhto.net

وړاندې لويه وجه دا ده چې هغه په سرکاري کاغذونو کښې زما نه پنځهٔ ويشت ورځې مشر دے۔

ښاغلے ساحل د ژوند په هر مېدان کښې دوه ګامه وړاندې روان وي۔ هغه کهٔ په ډېره ګڼه ګوڼه کښې ورک شي نو پېدا کول ئې ګران نهٔ وي۔ بلکې کهٔ زما نه چرته د خلقو په ګڼه ګوڼه کښې لاړ خطا شوې ده نو په ښاغلي ساحل مې وړومبے نظر پرېوتے دے او د خپلې لارې تعين مې هم د دې ښاغلي په قدم کړے دے۔ تېره ورځ چې په محب بانډه کښې په يو وخت د دوو جنازو کولو نه فارغ شوم۔ د کلي خلق د يوې جنازې کټ په يو اړخ او د بلې جنازې کټ په بل اړخ نيولي روان شول۔ زهٔ چې د افتاب بدر او نورالرحمٰن سحر سره د مختصرو خبرو اترو نه اوزګار شوم نو فکر يوړم چې د جنازې په کوم کټ پسې روان شم، په مقبره کښې دواړو جنازو پسې روان خلقو ته مې اوتر اوتر کتل، ناڅاپه مې په ساحل يوسفزي نظر پرېوتهٔ چې تقريباً د شپېتهٔ خلقو په مېنځ کښې روان وهٔ، نور خلق راته وارهٔ وارهٔ او دا ښاغلے راته د ډېر لرې نه دنګ لوړ ښکاره شهٔ۔ دعا مې وکړه چې الله تعالى دې ښاغلے ساحل ژوندے ساتي چې زمونږ نه ورکه شوې لاره مونږ ته ښائي۔ زهٔ وايم کهٔ د نوښار ضلعې شاعران د ماصل خان اتش په دنګه لوړه څواني۔ فخر کوي نو مونږ سره د اروابناد شهزادګل په کور کښې پېدا شوے محمد خالد خان "ساحل يوسفزے" هم شته د چا په وجه چې د سوُونو خلقو په مېنځ کښې هم زمونږ نه لار نهٔ خطا کېږي۔

ښاغلي ساحل يوسفزي "سپوږمۍ په سمندر کښې" شاعري "دا د ژوند رنګونه دي" خاکې او د شاعرۍ دا نوې مجموعه "يو موټے نرګس" په دې خيال پښتو ادب ته سپارلي دي چې د دې څولۍ پرې ډکه او ښائسته شي۔ هغه دا کار د پېسو ګټلو

د پاره نهٔ کوي او نهٔ د خپل شهرت د پاره، بلکې هغه د پښتو ادب يو بې غرضه او مخلص انسان دے. هغهٔ چې کوم کتاب هم چاپ کړے دے نو خپلو دوستانو ته ئې په ډېره مينه ورکړے دے. خو دا مينه ئې زما خوښه نهٔ ده. زما خپله رايې دا ده چې کم از کم شاعران دې د خپل وړور کتاب په بېعه اخلي. د مفتو مينه دې نهٔ کوي مفت شراب قاضي څښلي دي. راځئ چې دا فېصله وکړو چې کهٔ يو شاعر په ډېره مينه خپل چاپ شوے کتاب راکوي نو مونږ دې په ډېره مينه د هغې قيمت هم ورکوو. دې سره به د شاعر اديب جېب ته نغدې روپۍ راځي او هغه به پرې نور کتابونه چاپ کوي. دغه شان به دا سلسله روانه وي. بيا به د يو شاعر اديب کتاب هم په فټ پاتهٔ دوړو ته پروت نهٔ وي لکه د ښاغلي ساحل دا شعر:

زما کتاب دې هم اوس په فټ پاتهٔ دوړو ته پروت وي
زما زړګي خو داسې بې حسي نهٔ خوښوله(۱)

ښاغلے ساحل په دې حقيقت پوهه دے چې بغېر د الله تعالیٰ او د خپل خوږ نبي (ص) سره د مينې نه بغېر په دې خاوره امن نهٔ راځي. بې شکه چې مونږ ټول مسلمانان يُو خو مؤمنان نهٔ يُو، الله تعالیٰ منو خو د الله تعالي نهٔ منو خپل خوږ نبي حضرت محمد (ص) خپل آخري نبي منو خو د هغهٔ ښودلي شوي کارونو باندې عمل نهٔ کوو څکه هم دا وجه ده چې زمونږ د مينې په کورونو کښې نهٔ امن شته نهٔ د امن ځانګو، الله تعالیٰ دې د ښاغلي ساحل د نعت شريف "محبت د محمد(ص)" کښې دا دعا قبوله کړي:

دا خاوره به د امن په ځانګو کښې وځنګېږي
چې مينه د خدائے وساتمه پت د محمد(ص) کرم(۲)

ښاغلے ساحل په دې حقيقت هم پوهه دے چې بغېر د الله تعالیٰ نه بل چا ته لاس نيول، سوال کول يا طمع ساتل ښهٔ کارنهٔ

www.pukhto.net

دے۔ سوال کول خُلۀ کړوي اودطمعې کورخالي وي ځکه ښاغلي ساحل په خپله شاعرۍ کښې دا فکر راوړے دے:

مینه د خداے بلها په زړۀ کښې لري
خُلۀ جوړولے نۀ شي سوال ته سرے(۳)

ښاغلي ساحل په خپله شاعرۍ کښې ډېر ګڼ موضوعات راوړي دي۔ زۀ کۀ د هغۀ په شاعرۍ کښې د دغه موضوعاتو ذکر کوم او د خپلې خبرې د پخلي د پاره مثالونه وړاندې کوم نو خبره به ډېره اوږده شي نو ځکه دغه کار په نورو لوستونکیو پرېږدم خو د ښاغلي ساحل په دې یو څو شعرونو خپلې خبرې سر ته رسول ضروري ګڼم:

کۀ برباد دے کور زما او ستا د مینې
کۀ اباد دے خو بس یو اسلام اباد دے

نا، نا داسې هېڅ خبره نشته دے
هسې مې سر مړاوې وۀ خفه نۀ وم

چې په خوارو او په خارو مې لوے کړۀ
هغه طوطي وزر کوي روان دے

دا خو یو تصویر دے ورته وګورم
نور ګني دېوال هرڅۀ خوړلي دي

زړونه کاڼي شوي دي
کاڼي به وربړي نا

اختلاف ورسره کېږي
خو ځه دغه شانې ښۀ دے

سپینې کونترې ورته څنګه راشي
سپینې چینې د وینو سرې روانې(۴)

## حوالې

1) ساحل یوسفزے، یو موتے نرګس، د ادبي دوستانو مرکه مردان، جنوري۲۰۱٦، مخ ۲۵
2) هم دغه، مخ۲۴
3) هم دغه، مخ ۲۸
4) هم دغه، مخ ۵۴، ٦۰، ٦٦، ۷۱، ۸۷، ۱۰۳، ۱۲۴

۲۲م اپرېل ۲۰۱٦

## ستوري

د ملګري اقبال حېران ترتیب شوې شعري مجموعه "ستوري" چې په دوه سوه پنځلس مخونو خوره ده، د پښتونخوا د سلو شاعرانو شاعري او د هغوي پېژنګلیو په کښې شامله ده- تقریباً د ډېرو شاعرانو لاسونو ته به رسېدلے وي او د اقبال حېران دې کوشش ته به ئې په درنه سترګه کتلے وي چې هغهٔ د دومره ګڼ شمېر شاعرانو کلامونه، پېژنګلیو او تصویرونه راغونډ کړل او د "ستوري" په نوم ئې په کتابي شکل کښې محفوظ کړل- زهٔ په دې وجه د حېران صېب دې ادبي کوشش ته د قدر په نظر ګورم چې هغهٔ په دومره ګرانه ګرانۍ کښې چې سړے په کښې د خپل کور خرچ هم برداشت کولے نهٔ شي او په داسې وخت کښې یو زلمے شاعر د خپلو پښتنو شاعرانو غم ژاړي، د هغوي کلامونه راغونډوي او هغې له د خپل جېب په پېسو کتابي شکل ورکوي، د فخر خبره ده- د حېران

www.pukhto.net

صېب په دې ادبي کوشش کښې د پېښور نوراني کتب خانه هم شریکه ده۔ دغه شان کۀ ملګري حېران صېب د چاپ نه وړاندې په دې کتاب یو نظر زغلولے وۀ نو دا به ډېره ښه وه۔ دا خبره مې په دې وکړه چې په چاپ شوې شعري مجموعه کښې ډېرې ادبي تېروتنې او د کتابت غلطۍ شوي دي۔ د ټولو نه اولنۍ خبره به زۀ د شاعرانو د ترتیب وکړم چې حېران صېب د شاعرانو په ترتیب کښې انصاف کړے نۀ دے۔ دا کتاب د ډېرې لویې بې ترتیبۍ ښکار شوے دے۔ دلته زۀ د هغه شاعرانو نومونه اخستل نۀ غواړم څوک چې د ستورو په قطار کښې بې ترتیبه شوي دي ځکه چې څوک به غلي پاتې شي او څوک به دغه خپل حق وګڼي او زما تبصرې ته به په ښۀ نظر ونۀ ګوري خو بیا هم د خپل تعمیري تنقید او د حېران صېب په دې زیار د خپلو خیالاتو اظهار ضروري ګڼم۔ د کتاب لسم مخ نه تر دولسم مخ پورې دګران ملګري همایون همدردسریزه لیک ده۔ زۀ کۀ د دې نه پس د دې شعري مجموعې ستورې په تېروتنو او په نورو غلطو بحث کوم نو په دغه کښې ورسره زما ملګرے همایون همدردهم شامل دے۔ همدرد له پکار وو چې د سریزې لیکلو نه مخکښې ناچاپه ستورې ئې لږ د نظره تېر کړے وے۔ دکتاب د نولسم مخ نه تر دویشتم مخ پورې د ښاغلي لائق زاده لائق اوږده پېژنګلیو سره د دوو کلامونو چاپ شوې ده، زۀ دا نۀ وایم چې ګنې زمادې هم اوږده پېژنګلیو سره د دوو کلامونو چاپ شوے وے خو په چاپ شوې مجموعه کښې نور هم ډېر ښۀ شاعران شته، پکار دا وه چې هر شاعر سره یو شان سلوک شوے وے۔ د کتاب په څلور دېرشم مخ د ښاغلي پرېشان داودزي پېژنګلیو چاپ ده۔ په دغه پېژنګلیو کښې

ليکلي شوي دي چې "غلام صفدر ئې نوم دے او تخلص ئې پرېشان داودزے دے(۱)"- خو زۀ وايم چې پرېشان داودزے د دوي تخلص نۀ دے دا د هغوي قلمي نوم دے-

دکتاب په شپږڅلوېښتم مخ دښاغلي حنيف قېس پېژنګليو چاپ ده- په دغه پېژنګليو کښې ليکلي شوي دي چې "شاعري ئې د ۱۹۸۹ نه شورو کړې ده"(۲) دا هم د کتابت غلطي ده چې د نولس سوه نهۀ اويايم په ځاے نولس سوه نهۀ اتيايم ليکلے شوے دے-

د کتاب په درې پنځوسم مخ د ښاغلي نذير يوسفزي پېژنګليو اوکلام چاپ دے، د نذير يوسفزي دغه کلام څۀ موده وړاندې ښاغلي رضوان شاه رضوان د رېډيو پاکستان پېښور په مشاعره کښې په خپل نوم اورولے وۀ اوس د دې فېصله دې دوي دواړه په خپله وکړي چې دا کلام د رضوان صېب دے او کۀ د نذير يوسفزي- په پنځۀ پنځوسم مخ د ښاغلي حبيب الرحمٰن افګار پېژنګليو چاپ ده- په دغه پېژنګليو کښې ليکلي شوي دي چې "د افګار صېب دا کتاب "دازغو په څوکو" د څوارلسم جومات په کورس کښې شامل دے"(۳) تراوسه خو مونږه دغه کتاب د څوارلسم جومات په کورس کښې ونۀ ليدۀ او کۀ دغه مهرباني د ښاغلي فضل کريم ناشاد وي نو دا خو صرف د هغوي د پښتو ګائيډ پورې محدود ده- د څوارلسم جومات په کورس کښې د ازغو په څوکو د کتاب هېڅ ذکر نشته خو بيا هم سره د دومره ادبي تېروتنو د کتابت د غلطيو او د بې ترتيبئ سره سره د ملګري حېران صېب دې ادبي کوشش ته چې ګورم نو زړۀ مې خوشحالېږي - زما يقين دے چې لوستونکي

به دې شريک شعري زيار "ستورې" ته د قدر په نظر وګورې او ملګرې اقبال حېران صېب له به داد ورکړي

## حوالې

1) محمداقبال حېران، ستورې، تذکره، نوراني کتب خانه پېښور، اکتوبر ۱۹۹۲ء، مخ ۳۴
2) هم دغه، مخ ۴۶
3) هم دغه مخ، ۵۵

ورخپانه وحدت ۱۹۹۵ء

يادګېرنه: د دې ليک زياته برخه زما نه بې درکه شوې ده۔

# تږے نظر

د مردان په غزلزاره زمکه وخت په وخت نوي نوي شاعران راپېدا کېږي او بيا دا نوي زلمي د پښتو ادب دومره خدمت وکړي چې خپل ځان د مشرانوقطار ته ورسوي او هغوي سره څنګ په څنګ دپښتو ادب د روزنې د پاره پښې لاس وهي او دغه شان د پښتو ژبې تحريک وروستو پاتې نۀ شي بلکې مخ په وړاندې روان وي۔ نن زما په وړاندې د امتياز احمد عابد دوېمه شعري مجموعه تږے نظر پروت دے، زۀ ورته ګورم اوپه زړۀ کښې من من غتېږم نودا په دې نا چې ګني عابد زما ملګرے دے خو په دې خوشحاله يم چې دا زلمے مايوسه نۀ شۀ، د باران نه پس ئې هم جذبې راولړزېدې او لا بيا ئې هم نظر تږے دے، ولې چې د درېمې مجموعې "احساس" د چاپ کولو تکل ئې هم شته۔ د عابد د کتاب

تړے نظر متعلق کۀ څنو شاعرانو عابد ته د هغۀ خامئ په ګوته کړې دي چې ښۀ پوره انصاف ئې ورسره کړے دے نو څنو ورله د مخکښې تګ د پاره ډاډګیرنې هم ورکړي دي او دا د دې پاره چې د پښتو ادب په نیلي سور دا زلمے چرته راپرې نۀ وځي ولې چې دلته کۀ یو خوا د ادب دعویٰ کوونکي د ادب خدمت کوي نو بل خوا بل ټولګے به داسې هم وي چې هغوي څوک مخکښې تلو ته نۀ پرېږدي او دا کار له مودو راسې راروان دے۔ شاعر چې شعور او پوهه لري نو ډېر تیندکونه وخوري، ډېرې خوږې ترخې پرې تېرې شي خو مخ په وړاندې روان وي او په دې سفر کښې عابد هم دے چې کله یواځې او کله د ملګرو سره۔

د کتاب د اووم مخ نه واخلې تر لسم مخ پورې شاعر امن پیر ګوهر صېب د امن راوستو د پاره د عابد زړۀ کتلے دے۔ ډاکټر اسرار صېب هم د عابد په کتاب د خپل لیک حق ادا کړے دے۔ شمس القمر اندېش صېب لیکي چې "امتیاز احمد عابد د عبدالروف زاهد ورارۀ دے او د هغۀ په شاعرئ کښې د زاهد د شعر ګوئ رنګینئ، خوبئ او د ښائست رنګ هم د هغۀ فطري مجبوري ده"۔ هم دا شان راج ولي شاه خټک لیکلي دي چې "ډېر لوے لوے خلق د زاهد د تاثر نه ځان نۀ شي ساتلے ولې کۀ د عابد په شعر کښې د زاهد د غزل رنګ راشي نو د تعجب خبره نۀ ده بلکې د هغۀ د پاره د فخر سوب دے ---- دا خبره په دې کوم چې کله نه عابد د غزل لیکلو شورو کړې ده نو معیار به ئې خامخا د زاهد ځوان غزل ځان ته اېښے وۀ او د هغه په دې مجموعه کښې په اکثرو غزلونو کښې کۀ د خیال ترحده نۀ وي نو د جوړښت، زمکو او

ردیف ترحده خو داسې شوي دي"- زۀ وایم کۀ یو سړے د زاهد د کلام نه متاثره شوے وي نو داسې به ئې کړے نۀ وي چې د زاهد د شعرونو خیال او رنګین لفظونه به ئې په خپلو شعرونو کښې غاړه په غاړه وروستے وي او کۀ خبره صرف د یو شاعر وي نو عابد په ځنو غزلونو کښې د خپل زاهد شعرونو له غاړه په غاړه ورغلے دے- عبدالروف زاهد صېب چې په خپله یو منلے شوے شاعر دے هغه هم د خپل ورارۀ پوره پوره مرسته کړې ده، لیکي چې "د چا شعري جذبه په موجونو وي هغه د دې خبرو دېوالونه نۀ شي پټولے- د دوي سره سره عابد صېب د ښاغلیو حمزه شینواري، پروفېسر قلندر مومند، محمداقبال اقبال، محمدهمایون هما، نورالاسلام سنګر او د محمدالیاس بادل نه هم لیکل اخستي دي چې د لیکونو ترتیب ئې ورله هم صحیح ورکړے نۀ دے، امتیاز عابد چې د خپل کتاب د پاره په شمار د دولسو شاعرانو نه لیکل اخستي دي- کم از کم د درېو یا څلورو شاعرانو نه لیکل اخستل پکار وو- سره د دې هرڅۀ یقین لرم چې ښاغلے عابد به په راتلونکي وخت کښې هم د ژبې خدمت کوي او مخ په وړاندې به روان وي- په اخره کښې د ښاغلي عابد د "تږے نظر" نه یو څو شعرونه وړاندې کوم:

خلق دې شل ځله روایت پسې وهي منډې
مونږه به عابده بدلوو د محبت کلے

عابده راز د لاثاني غزل ستا
د غنم رنګ د حرارت سایه ده

www.pukhto.net

باران کۀ د نظر دي راپېرزو کړۀ د زړۀ سره
خو پاتې مې هم هغه شان نظر "تږے نظر دے" (۱)

ورخپانه وحدت، 4/7/1992

## حوالې

1. امتياز احمد عابد، تږے نظر، رحمان ادبي ټولنه مردان، ۱۹۹۲، مخ ۴۷، ۶۰، ۱۵۵

يادګېرنه: د دې مضمون څۀ حصه زما نه بې درکه شوې ده۔

# تنکي ارمانونه

د ښاغلي حميد هاتف "تنکي ارمانونه" د هغۀ وړومبے شعري مجموعه ده چې د کال ۲۰۱۶ء په اوومه مياشت د ښاغلي سلېمان کامل د کمپوزنګ نه پس هم د هغۀ په کوششونو د مرکه خپرندويه ټولنه مردان له اړخه چاپ شوې ده۔ ټرون ئې د خپلې کوروداني او بچو په نوم کړے دے۔ په کتاب کښې د پېژندګلو مطابق ښاغلے حميد په کال۱۹۵۶ء کښې زېږېدلے دے۔ هغه د څنو خلقو خبره چې د شپېتو شي نو د ويشتو شي خو مونږه به چرې هم داسې ونۀ کړو چې ښاغلے شاعر په خپل لاس ووژنو۔ هغه د شپېتو کالو په عمر کښې د ادبي دوستانو مرکه مردان ملګرو خوا له راغلے دے او مونږ سره دا نۀ ښائي چې په خپل کور چاته نقصان ورسوو بلکې ښاغلي شاعر له به داد ورکوو او د هغۀ د شاعرۍ به ستائنه کوو۔

www.pukhto.net

ښاغلي حميد صېب په خپله شعري مجموعه "تنکي ارمانونه" کښې د شاعرۍ په ګڼو اصنافو ليکل کړي دي- په کتاب کښې د حمديه او نعتيه شاعرۍ نه دا څرګندېږي چې ښاغلے شاعر په خپل زړهٔ کښې خپل خالق، رازق او مالک سره ډېره مينه لري او د خپل خوږ نبي (ص) محبت ئې هم زړهٔ پورې نيولے دے- ښاغلے شاعر په خپله هم مذهبي فکر لري- د يو حمد يو څو شعرونه ئې په دې ډول دي:

په هر ځاے دې نشانات د قدرت وينم
د مخلوق سره دې ډېر محبت وينم
تهٔ غفور، رحيم، رحمٰن يې زما ربه
په هر وخت دې نظارې د عظمت وينم(۱)

د الله تعالى سره د مينې نه پس د هر مسلمان د پاره ضروري ده چې خپل خوږ نبي (ص) سره په حقيقت کښې مينه وساتي او دغه مينه ښاغلي شاعر د خپلې شاعرۍ په ذريعه سرته رسولې ده- د نعتونو دا يو څو شعرونه ئې د ستائنې جوګه دي:

ليندهٔ وے د اصحابو زهٔ د بدر په مېدان کښې
يا ډال چې په اُحد کښې د حضرت د جبين وے
پښې وې جوړې شوې په طائف کښې د حضور
د پاکې مينې جوړ په دغه ځاے کښې امين وے

ملنګ يم ستا د در
پکار مې نهٔ دي زر
کهٔ دُر دي کهٔ ګوهر

زۀ نـــۀ کـــړم پـــرې نظـــر
بس غواړم شفاعت دې په قیامت د رب حبیبه
شم ډېر به خوش نصیبه (۲)

ښاغلي حمید په خپله شاعرۍ کښې ډېر تاریخي واقعات راوړي دي- په دغه واقعاتو ئې نظمونه لیکلي دي- د کتاب د دې برخې نه معلومېږي چې ښاغلے شاعر د خپل تاریخِ اسلام باره کښې هم پوهه لري- هغه د قادسیې د جنګ پوره نقشه په خپل نظم "د قادسیې مېدان" کښې راوړې ده- هر کله چې ایرانیانو رستم په دې مجبور کړۀ چې هغه دې د مسلمانانو خلاف د جنګ مېدان جوړ کړي نو رستم هم د جنګ د پاره ډېره په تېزۍ سره خپله تیاري شورو کړه- حضرت عمر (رض) ته چې د ایرانیانو د جنګ د تیارۍ حال معلوم شۀ نو په خپله د شل زره لښکر سره د مدینې نه روان شۀ، حضرت سعد بن ابي وقاص د مسلمانانو سپه سالار جوړ کړے شۀ د دې لښکر د اهمیت اندازه د دې نه معلومېږي چې په دې کښې اویا(۷۰) هاغه صحابه کرام شامل وو کوم چې د بدر په غزا کښې شریک وو، درې سوه هاغه صحابه کرام وو چاته چې ببعت رضوان کښې د ګډون کولو شرف حاصل شوے وۀ، دغه شان درې سوه هاغه صحابه کرام چې د مکې د فتح کولو په وخت خپل خوږ نبي (ص) سره ولاړ وو- د حضرت عمر د هدایاتو مطابق حضرت سعد بن ابي وقاص په قادسیه کښې پړاو وکړۀ- مسلمانانو دا مطالبه وکړه چې تاسو مسلمانان شئ او کۀ تاسو ته دا منظوره نۀ وي بیا به جزیه ورکوئ ګني جنګ ته تیار شئ- کافرانو انکار وکړۀ چې مونږ ته ستاسو دا شرطونه قبول نۀ دي، ځئ وتښتئ ځئ، رستم راروان دے

www.pukhto.net

او تاسو ټول به د قادسيې په خندق کښې دفن کړي- ياده دې وي چې رستم د جنګ پوره تياري کړې وه- هغهٔ سره يو لاکهـ او شل زره لښکر وۀ- هغهٔ دا قسم خوړلے وۀ چې زۀ به د ټول عرب نه کنډرې جوړوم خو الله تعالى ته دا منظوره وه چې د دښمن ټول فوځ به شا منډې وهي او رستم به د هلال نومې غلام د لاسه قتلېږي او هم دغه شان وشوه- د ايرانيانو هاتيان کۀ هرڅومره زورور وو بيا هم مسلمانانو او د هغوي اسونو برے بيامونده- د دښمن فوځ چې د رستم د مرګ نه خبر شول نو په شا وتښتېدل- د قادسيې په دې جنګ کښې دېرش زره ايراني فوځيان هلاک شول او کم و زيات شپږ زره مسلمانان شهيدان شول- ښاغلي حميد د دې جنګ ټوله واقعه په خپل نظم کښې راوړې ده- د دې نظم يوڅو شعرونه څۀ په دې ډول دي:

فوځونـــه دي جنګېـــږي پـــه مېـــدان د قادســـيې
بـــرے بـــه اخـــر مـــومي مســـلمان د قادســـيې
رســـتم بـــه مشـــر کېـــږي بـــدګمان د قادســـيې
فوځونـــه دي جنګېـــږي پـــه مېـــدان د قادســـيې

ســـعد بـــن وقـــاص دے نګهبـــان د قادســـيې
فوځونـــه دي جنګېـــږي پـــه مېـــدان د قادســـيې
دي لـوے لـوے اصـحابان، طلحـه، زبېـر، رحمـان
هجـري ده څوارلسـمه، پـه تـاريخ کښـې دے بيـان
عمر(رض) له خوشخبري به وړي کـاروان د قادسيې
فوځونـه دي جنګېـږي پـه مېـدان د قادســيې(٣)

www.pukhto.net

ښاغلے شاعر د دې حقیقت نه خبر دے چې د دې دنیا ژوند فاني دے- دا دنیا ختمېدونکې ده او د دې ژوند مرګ نه پس به الله تعالی مونږ له همېشه ژوندون راکوي- دا نظم "ژوند د فاني دنیا" ئې د ستائنې جوګه دے- د نظم یوڅو شعرونه:

د غــــوټۍ زړهٔ دے چـــاودلے
بـــورا وائـــي چــې دا ولـــې
بــس یــو ستهېج دے لګېـدلے
بـــازیګر کـــړي بـــازیګرې

هـر څـوک وائـي افلاطـون یـم
د هـر چـا نـه ښـهٔ پښـتون یـم
وایــه پـلار نیکـهٔ دې څـهٔ شـو
نـن د مـرګ پـه خـوب اودهٔ شـو

قــافلې راځـــي او درومـــي
د تقـــدیر لیکلـــي مـــومي
ښـهٔ خبـر یُـو خـو پـوې نـهٔ یُـو
د غفلــت پــه خــوب اودهٔ یُـــو
اے هاتفـــه! ســـبا تلـــهٔ دي
دا څـهٔ لوبـه ده، دا څـهٔ دي(۴)

په "تنکي ارمانونه" کښې په سابقه وزیراعلی حېدرخان هوتي، سابقه صوبائي وزیر خان عبدالسبحان خان او په پیربابا سیدعلي

www.pukhto.net

ترمذي هم نظمونه راوړي شوې دي۔ په خان عبدالسبحان خان د ليکلي نظم يو څو شعرونه:

په فـن د سياسـت کښـې ئـې مقـام دے ډېـر اوچـت
دوسـتي کـړي د نېکـانو ځـي پـه لار طريقـت
ادب سـره ئـې مينـه ده شـاعر دے د کمـال
تـاريخ کښـې داسـې خلـق چـرې نـۀ لـري زوال
مئـين دے پـه پښـتو د پښـتونخوا مـړنے ځـوان دے
ښکاره په لر او بر کښې دغه خان عبدالسبحان دے(۵)

ښاغلي شاعر د موبائل په استعمال او اهميت هم قلم پورته کړے دے۔ د زوړ او نوي دور موازنه ئې کړې ده۔ په دې لړ کښې د يو نظم يو څو شعرونه ئې په دې ډول دي:

ورکـه ډاکخانـه شـوه د لالـي خطونـه څـۀ کـړم
ماتـه خـط رالېـږي مېسـجونو کښـې موبائـل
کېمـرې تـه څـۀ ضـرور دے د فوټوانـو د ايسـتلو
وباسـي مـې تصـوير پـه سـېکنډونو کښـې موبائـل
وي خلق په سجده په دې کښې ډنگ او ډونگ شورو شي
خلـل دے راوسـتلے پـه نمونځونـو کښـې موبائـل(٦)

ښاغلے هاتف د پښتونخوا د سوغاتونو صفتونه کوي۔ د ډېرو د مېوه جاتو حلوه، د لوندخوړ د امرسو، د پلی د مالټو، د چترال د خُرمانو، د مردان د پېړو، د صوابۍ د ځلوبو، د واړی دير د غوزانو، د نوښار د مهيانو، د پېښور د قهوې ذکر کوي۔ د دې نظم "د پښتونخوا سوغاتونه" په لوستو لوستونکي داسې محسوسوي

www.pukhto.net

چې دا ټول سوغاتونه د هغهٔ په وړاندې پراتهٔ دي خو خوړې ئې نهٔ شي- يو څو شعرونو ته به غوږ شو:

ډېرو کښې مشهوره ده حلوه د مېوه جاتو
ترسکون ترسکون کباب ډېر مشهور چې د تخت بهايي دي
قهوه د پېښور منلې شوې په هر ځاے کښې
د دير خال مشهورې پښتنې سپينې ټوپۍ دي
لالے مې راته وائي امرسې د لوند خوږ راوړه
نزدې ورسره ښکلې سرې مالټې چې د پلۍ دي
شنکر کښې به کبابو ته ودرېږو هېر دې نهٔ شي
غوزان په سردرو کښې مشهور چې د واړۍ دي
اشنا له مې پېړې خوږې لېږلې له مردانه
دهٔ ماله رالېږلې ځلوبۍ د صوابۍ دي
د دير نه مخکښې ځه لواري ټاپ باندې به اوړو
چترال کښې اشارې او مشهورې خرمانۍ دي
مهيان به په نوښار کښې خورو د سيند په غاړه ښکته
تيراه کښې مې خوړلې ښکلې وريژې کابلۍ دي(۷)

په دې شعري مجموعه کښې د ستائنې جوګه شاعري سره سره ځنې داسې شاعري هم راوړې شوې ده چې فني کمزوري لري خو په دې موقع د دغه کمزورو ذکر مناسب نهٔ ګڼم- دا د ښاغلي شاعر د زړهٔ اواز دے- هغه چې په خپل ژوند کښې د کومو تجربو نه راتېر شوے دے، کومو حالاتو سره مخ شوے دے نو هم هغه ئې قلم ته سپارلي دي کهٔ الله ورله توفيق ورکړي نو ډېر زر به د قرآن

مجید د موضوعاتو مطالعه په اردو ژبه کښې سرته ورسوي او په کتابي شکل کښې به د "مختلف موضوعات پر قرآن پاک کی آیاتِ کریمه کا مطالعه" په نوم چاپ شي- په اخره کښې د ښاغلي شاعر یو څو شعرونه وړاندې کوم:

سرې شونډې لبان زما ، ځار شه تر جانان زما
ځار شه تر جانان زما ، سرې شونډې لبان زما
ګڼ دي رقیبان زما ، وار مې خطا شوے دے
وار مې خطا شوے دے، ګڼ دي رقیبان زما

بدخواهان دي یو طرف ته او زۀ بل خوا
په یواځې ټول جهان سره په جنګ یم(۸)

یادګیرنه:

دا لیک د ښاغلي حمید هاتف د "تنکي ارمانونه" د مخ کتنې په موقع اورولے شوے دے- ۲۵،۱۶،۲۰۱۶

## حوالې:


1. حمید هاتف، تنکي ارمانونه، مرکه خپرندویه ټولنه، مردان، جولائي ۲۰۱۶، مخ ۷
2. هم دغه مخ ۱۰، ۱۴
3. هم دغه مخ ۴، ۲۸، ۲۹، ۳۰، ۳۱
4. هم دغه مخ ۴۵، ۴۶، ۴۷، ۴۸
5. هم دغه مخ ۵۵، ۵۶
6. هم دغه مخ ۶۸، ۶۹


www.pukhto.net

7. هم دغه مخ ۷۲، ۷۳، ۷۴
8. هم دغه مخ۷۹، ۸۰، ۸۸

# ژوندے شاعر

زما د پوهې مطابق شاعرچې مړ شي نو هغه مړ نۀ وي ژوندے وي- د هغۀ فن ژوندے وي نو ځکه مکمل شاه اخګر هم ژوندے دے- مړۀ هغه دي چې هېر شي، اخګر هېر نۀ دے، د هر چا په زړۀ کښې د هغۀ يادونه غزونې کوي- هغه د ادبي دوستانو مرکه مردان يو فعال غړے، ترقي خوښ، سياسي او ادب دوست انسان وۀ- هغۀ په ګجوخان روډ مردان کښې خپله حجره د شلم نومبر کال نولس سوه اتۀ نوي (20/11/1998) نه وقف کړې وه- زما د ياداشتو او د ليکلي رېکارډ مطابق په دغه حجره کښې د هغۀ په ژوند د مرکې (۱٦۹) يوسل نهۀ شپېتۀ اجلاسونه شوي وو- ښاغلي اخګر د خپلو نورو هلو ځلو په وجه صرف په يو سل دويشت اجلاسونو کښې

ګډون کړے وۀ۔ درې ځله ئې خپل کلام تنقيد ته وړاندې کړے وۀ دغه رنګه ئې دوه ځله د تنقيدي غونډو صدارت هم کړے وۀ۔ دې دومره زياتو اجلاسونو کښې د ګډون باوجود درې ځله خپل غزل تنقيد ته وړاندې کولو او صرف دوه ځله د تنقيدي غونډو صدارت کولو وجه دا ده چې ښاغلے اخګر به په هر اجلاس کښې د دوستانو په خدمت کښې بوخت وۀ۔ د اجلاس په منځومانه کښې پاڅېدل او د دوستانو د پاره د اوبو او چايې څښلو ټول انتظام د هغۀ په ذمه وۀ۔

هغه بله ورځ زما په زړۀ کښې راغلۀ چې لکه د نورو ادبي دوستانو زۀ هم د ښاغلي اخګر باره کښې څۀ وليکم۔ سوچ مې کولو چې زۀ به د ښاغلي اخګر متعلق څۀ وليکلے شم ماسره خو د هغۀ يو تصوير او صرف درې غزلونه په لاس راغلي دي۔ د ښاغلي اخګر تصوير ته مې په مينه مينه کتل۔ په يو تصور کښې لاړم چې ناڅاپه ښاغلي اخګر ماسره خبرې شورو کړې۔ هغۀ راته ووئيل چې ډېرې ورځې پس دې ياد کړم۔ زۀ حېران شوم چې تصوير هم خبرې کولے شي۔ هغۀ راته ووئيل چې شاعر ژوندے وي۔ هغه د خپلو ادبي دوستانو په زړونو کښې وسېږي۔ لکه څنګه چې زۀ د مرکې دوستانو ته ياد يم۔ اکثر زما په ياد کښې غونډې کوي او ماته خپل اجلاسونه منسوب کوي۔ دغه رنګه ماته هم دغه ټول ادبي دوستان ياد دي۔ ما ورته ووئيل تۀ خبر يې چې ادبي دوستانو په اوولسمه فرورۍ دوه زره دولس مازيګر د جمعې په ورځ ستا په ياد کښې د يوې ناستې تابيا کړې ده۔ هغۀ راته ووئيل او او ماته پته ده چې په دغه ناسته کښې به زما دوستان شاعران خپل تاثرات وړاندې کوي او زما د پاره به دعاګانې هم غواړي۔ زۀ حېران شوم چې ښاغلي

اخګر ته دغه معلومات چا ورسول- هغهٔ راته ووئيل چې دا د دومره حېرانتيا خبره نهٔ ده ځکه چې ماته دا هم ياد دي چې زما د وفات نه يو کال پس په ديارلسمه فروری دوه زره څلور (13/2/2004) کښې د مرکې يوه ناسته هم زما مېلمه ځاے حجره کښې د عبدالواحد قلندر په صدارت کښې شوې وه- په دغه ناسته کښې ادبي دوستانو د ښاغليو زرګل استاد، فريدګل فريد او زما "اخګر" باره کښې خبرې کړې وې- ښاغلي سلېمان کامل د نظامت او روداد ذمه واري سرته رسولې وه- ښاغليو عبدالواحد قلندر، فېض الوهاب فېض، اسرارالله اسرار، ظهوراحمدشاه جي، نورالهادي تبسم لودهي زما په ياد کښې خپل ليکونه، تاثرات او نظمونه وړاندې کړي وو او سندرغاړي ارشدخان زما غزل په ترنم کښې اورولے وهٔ- او زهٔ يو ځل بيا حېران شوم چې د دغه مشاعرې کاروائي هم د اخګر نه هېره شوې نهٔ ده- حالانکې دغه د هغهٔ په ياد کښې مشاعره اتهٔ کاله وړاندې د هغهٔ د وفات نه يو کال پس راجوړه شوې وه- هغهٔ راته وئيل چې تهٔ ولې حېرانېږې- ماته به دا هرڅهٔ نهٔ يادېږي، زهٔ مړ نهٔ يم ژوندے يم، شاعر ژوندے وي او چې دغه شان تاسو ما يادوئ نو زهٔ به څنګه مړ شم، زهٔ به ژوندے يم، زهٔ به ژوندے يم-

ما د ښاغلي اخګر تصوير ته هم هغه شان کتل او بيا مې ترې پوښتنه وکړه چې ورور جانه! وايه نور هم درته څهٔ يادېږي کهٔ نا؟ هغهٔ ووئيل او، تهٔ ما د خپل تصور نه مهٔ وباسه، زما تصوير ته ګوره، زهٔ به درته زما د يادو نورې واقعې هم بيان کړم- بيا ئې راته ووئيل چې په لسم اګست دوه زره يو (10/8/2001) کښې ما خپل غزل تنقيد ته وړاندې کړے وهٔ- د دغه تنقيدي غونډې صدارت

ډاکټرسجاد کريم ته حواله شوے وۀ- ښاغليو فېض الوهاب فېض، ډاکټر محمد زبېر حسرت او صدرمحفل زما په غزل ډېرې ګټورې خبرې کړې وې- په دې غونډه کښې د ذکر شويو سره سره مهراندېش، اکبرهوتي، ساحل يوسفزے، حق نواز سيماب، سليم ناشاد، ګل زمان ګل، اوېس قرني، عبدالحفيظ سحر، فقيرشاه فقير، محمدانعام ارمان او نورو ډېرو دوستانو ګډون کړے وۀ- زما د غزل وړومبے شعر څۀ په دې ډول وۀ:

هسې په چغو باندې چرته کېږي
دا به عمل او ځيګر خون غواړي

خو د ښاغلي فېض مننه کوم چې هغۀ د دې شعر د پاره دا تجويز وړاندې کړۀ

په تشو چغو باندې چرته کېږي
ژوندخو عمل او ځيګر خون غواړي

ماچې ښاغلي اخګر ته د دې پوره غزل وئيلو خواست وکړۀ نو هغۀ راته د دې غزل صرف مطلع او مقطع واوروله چې څۀ په دې ډول وه:

بس لږ تکل غواړي کړون غواړي
شپه د وحشت مو سباؤن غواړي
دا چې اخګر د بغاوت چغه کړه
د دې زاړۀ نظام بدلون غواړي

د ښاغلي اخګر دا خبره ماته ياده وه چې تۀ زما تصوير ته ګوره ما د خپل تصور نه مۀ وباسه نو ځکه ما هم د خپل ګران

دوست تصوير ته په مينه مينه کتل، هغهٔ راته ووئيل چې ما د خپل وفات نه تقريباً يو کال وړاندې په خپله حجره ګجو خان روډ کښې د يوې مستقلې کوټې "دفتر" جوړولو اراده هم کړې وه چې په دغه حجره کښې دې يوه کوټه جوړه شي او د مرکې دوستان دې هم دلته خپل اووهٔ ورځني تنقيدي اجلاسونه کوي خو ژوند وفا ونهٔ کړه۔ زهٔ د خپلو ادبي دوستانو نه ډېر لرې لاړم خو بيا هم زهٔ ژوندے يم، د خپلو ادبي دوستانو په زړونو کښې اوسېږم، زما فن ژوندے دے۔

ما يوځل بيا ښاغلي اخګر ته د کلام اورولو د پاره بلنه ورکړه۔ هغهٔ راته ووئيل چې اول خو مې درنه د غزل په مطلع او مقطع ځان بې غمه کړهٔ خو چې تاسو زما د نورې شاعرۍ اورېدو مطالبه کوئ نو دا زما د پاره ګرانه نهٔ ده کهٔ زما نه زما د ژوند نور واقعات هېر شوي نهٔ دي نو زما شاعري به څنګه زما نه هېره شي۔ بيا ئې راته دا يو څو شعرونه واورول:

ژوند مې سپرلي ته د خزان بادونو پرې نښودهٔ
روح مې روان دے، د جهان غمونو پرې نښودهٔ

ما وې ورځم چې د ساقي نه شراب واړومه
خو په محفل کښې مې ګرېوان لاسونو پرې نښودهٔ

لکه سراب راته ښکاره شهٔ محبت د اشنا
زړهٔ مې دوړېږي له خفګان غمونو پرې نښودهٔ

اخګر به څنګه کوي تګ د خپل مرام په لوري
دې چې خپل سوچ، فکر، ګمان، وهمونو پرې نښودهٔ

www.pukhto.net

ماچې ښاغلي اخګر ته د څۀ پېغام خواست وکړۀ نو هغۀ ووئيل چې د مرکې دوستانو ته زما سلام او دا پېغام ورسوه چې ټول خپلو کنبې مينه مينه شئ، يو موټې شئ، تنقيدي اجلاسونو ته د مقرره وخت نه پنځلس منټه وړاندې راځئ چې په خپل وخت اجلاس شورو کېږي- ښاغلي اخګر دا هم ووئيل چې نن سبا د مرکې اجلاسونو ته د لرې لرې علاقو نه زلمي او نوي شاعران په دې غرض راځي چې خپل کلام واوروي خو د مرکې دوستان د وخت د کمي په وجه د مشاعرې اخري نقطه د ايجنډې نه خارج کړي- دې سره د مرکې زلمي شاعران د کلام اورولو نه پاتې شي او د هغوي زړۀ مات شي-

ما چې ښاغلي اخګر ته يو ځل بيا د کلام اورولو بلنه ورکړه نو هغۀ ووئيل چې ډېر ناوخته دے تاسو راته خپل يو کلام واوروئ ځکه چې ښاغلي محمداقبال اقبال، زرګل استاد، فريدګل فريد لالا، ممتاز شاهين او نور د دنيا نه تلي دوستان به مې لارې لارې ته ګوري- ما ورته خپل دا يو شعر واورولو:

نن چې تۀ له دنيا لاړې، ستا خيالي هم تاپسې دے
دا ډګر خو منزل نۀ دے، شته دے بل جهان جانانه
(۱)

## حوالې

1. لعل بادشاه خيالي، زېبرګي، د ادبي دوستانو مرکه مردان، درېم ځل، ۲۰۱۱، مخ ۱۰۲

۱۶فروري ۲۰۱۲ء

www.pukhto.net

# هاغه انور یمه خو اوس د پېژندو وتے یم

د پښتونخوا په هر ګټ کښې چرته چې هم د پښتو ادب ذکر کېږي نو د دې خبرې نه به چرې هم انکار ونۀ کړے شي چې د مردان ادب زاره او غزلزاره زمکه د ډېرو ښو ښو شاعرانو نه ډکه ده او دې ادب خېزې زمکې ډېر ښۀ ښۀ شاعران پېدا کړي دي خو د دې خبرې نه زما مطلب دا نۀ دے چې ګني د مردان نه علاوه په نورو ادب خېزو زمکو ښۀ شاعران نشته، د کوهاټ، پېښور، سوات او د کراچې سره دغسې نورې سیمې لکه جنوبي پښتونخوا هم د پښتو ادب د پوهانو او مئینانو نه ډکې دي-یو خو هغه وخت وۀ چې چا به شاعر ولیدۀ نو دا به ئې غوښتل چې مونږ د دوي نه څۀ واورېدې، عام خلق ډېر او شاعران لږ وو- اوس د خدا ے فضل دے شاعران ډېر دي او د پښتو ژبې خدمت کۀ په ادبي تنظیمونو کښې وي او کۀ

د ادبي ټولنو نه بهر وي جاري ئې ساتلے دے۔ د پښتو ادب په دې سفر کښې چې زۀ د کوم شاعر ذکر کول غواړم هغه زما يو نژدې ملګرے محمدانور مظلوم دے۔ انور مظلوم کۀ څوک ووينې او د هغۀ د مظلوميت، خاموشۍ او د سادګۍ خواږۀ شعرونه واوري نو د سړي ذهن به دا ضرور واخلي چې انور مظلوم په رښتيا مظلوم دے۔ هغه نن سبا د خپلې تنهايۍ او غربت عکاسي په څومره عجيبه انداز کښې کوي او څومره په ښکاره د خپلو او پردو د بې وفايۍ ذکر کوي لکه چې وائي:

هغه انور يمه خو اوس د پېژندو وتے يم
غربت اخستے يم د خپلو او پردو وتے يم

انور مظلوم چې يو ښۀ غزل ليکونکے دے نظم سره سره نثر هم ليکي۔ نوم ئې محمدانور او تخلص ئې مظلوم دے۔ د محترم محمدنور صبب کره په ۱۹۴۸ء کښې پېدا شوے دے، تعليم ئې تر لسمه پورې کړے دے، شاعري ئې د اتم جومات نه راپه دېخواشوروکړې ده، دروزګارله غمه دپېښور په رنګين ښارکښې دخپلوماشومانواو د خپل ژوند تېرولو په غرض دېره شوے دے۔ د مردان په پښتو ادب مئين ملګري چې څوک هم انورمظلوم پېژني نو د هغۀ د خوږو خوږو شعرونو ذکربه خامخاکوي۔ انورمظلوم چې د مردان په ډېروادبي تنظيمونو کښې د پښتو ژبې خدمت کړے دے نو د هغې نومونه خو ماته ياد نۀ دي البته د مردان د پښتو نوې ادبي ټولنې د صدر په عهده هم پاتې شوے دے چې د دې ټولنې خدمت ئې ډېر په ښه طريقه کړے دے۔ نن سبا کۀ انور مظلوم د خپل روزګار له غمه د ادبي تنظيمونو نه يو خوا ته شوے دے نو د

www.pukhto.net

شاعرۍ مينه ئې بيا هم په زړۀ کښې پرته ده، اوس پرې هم د شعرونو باران ورېږي۔

د مظلوم صېب شاعري د دې خبرې ثبوت دے چې هغه په خپله يو خودداره شاعر دے۔ هغه کۀ په خپله خُلۀ هېڅ نۀ وائي خو د هغۀ د قلم کرښې حقيقت ليکل کوي، هغه د غټو سترګو د نظر خاوندان يادوي او په خپله شاعرۍ کښې څۀ په دې ډول وائي:

دلته څوک خاوند د نظر نشته چې مې پورته کړي
زۀ د دانو ډک وږے چا ويشتے په شتو کښې يم

هغه په خپله هم د خپل ژوند ورځو شپو ته حېران حېران ګوري او د خپلې ماضي او حال د خوبونو په مېنځ کښې حېران ولاړ دے لکه چې دې شعر ته ئې وګورو۔

هغه رونق، هغه سپرلے دے په ساحل د درياب
حېران ولاړ يم ورته ګورم د لامبو وتے يم

خو بيا هم د هغۀ په خپل خدائے پوره پوره يقين دے د چا په طمع نۀ دے۔ هغه وائي کۀ ماسره څوک ملګرتيا ونۀ کړي، ماله څوک لاس رانۀ کړي نو زما خپل خدائے چې زۀ ئې پېدا کړے يم په هر حال کښې په ما مهربان دے او هغه داسې مهربان چې څوک ئې ترې بېلولے نۀ شي لکه چې وائي:

لاس کۀ څوک انور ته ورکوے نۀ شي
خدائے خو ترېنه هېڅوک اخستے نۀ شي

انورمظلوم چې د موجوده وخت مطابق ئې عمر تقريباً څلور څلوېښتو ته رسېدلے دے اوس ترېنه هم د خپل ماشومتوب وختونه

www.pukhto.net

هېر شوي نهٔ دي او څومره په ساده او خوږو ټکو کښې داسې شعرونه ليکي لکه دا شعر:

اشنا چې به کولې مونږ د چا د کوځې خاورې
ما پټې به راوړې موتې کښې ستا د کوځې خاورې

انور مظلوم چې په خپله يوه پخه عقيده لري، مسلمان دے، د خپل اصل مقصد په لاره يُون کوي او په دغه يون کښې هغه د خپلې لارې ټول ملګري يو شان ګڼي لکه څهٔ رنګه چې دا حقيقت دے چې ټول انسانان د ادم (ع) اولاد دے نو په دغه ثبوت سره مونږ د دې خبرې نه هم انکار نهٔ شو کولے د کومې ذکر چې مظلوم صېب په خپل دې شعر کښې کړے دے:

يو خېل د ادم خېل دے په کښې نشته جدا خېل
څوک ياد په کاکا خېل شۀ او څوک ياد شۀ په شاخېل

انور مظلوم صېب کۀ يو خوا ته د خپل تريخ ژوند په وجه دردېدلي شعرونه ليکلي دي او ځان ئې د دې دنيا نه يو طرف ته کړے دے نو بل اړخ ته ئې د مينې او خلوص ځولۍ هم غوړولې نيولې ده لکه چې وائي:

تۀ د خپل ښائست دنياکښې ورک وے زۀ دې نۀ ليدم
ما دې ننداره اشنا د ژوند د هر ګټ پېره کړه

اودلته څومره زر درقيب د سترګو په اشارو پوهه شوے دے او څومره زر ئې خپل رقيب له خبردارے ورکړے دے چې ګل زما ګل دے هسې نه چې چرته ستا د پاره ازغے شي:

پام کوه رقیبه سترګې سمې کړه
ګل دې چرته سترګو کښې ازغے نۀ شي

دغسې د انور مظلوم نور شعرونه هم زما د نظره تېر شوي دي چې د هغۀ د پوخ شعور دلیل په کښې موندے شي خو دلته به زۀ خپل مضمون د انور مظلوم صبب هم په دې شعرونو سرته ورسوم:

قرآن کښې دي راغلي مسلمان نۀ کوي غلا
د زړۀ په غلا مې نن يو مسلمان نیولے دے

زۀ د دې خلقو نه پتېږم سره نۀ مو لګي
زما قلمه مات شې خلقو ته ما څۀ له ښايې

ورځپانه وحدت
5/9/1992

# زۀ او رضوان

څو ورځې وړاندې د ښاغلي رضوان شا رضوان له خلې خبر شوم چې سدهوم ادبي جرګه د يو ادبي شخصيت په درناوي کښې يوه غونډه په يولسمه جولائی ۲۰۱۰ء کښې رابللې نو ځکه زۀ له اوس نه تاسو ته په دې غونډه کښې د ګډون بلنه درکوم چې لکه د وړاندې غونډې په دې ادبي غونډه کښې هم ګډون وکړے۔ ما ترې پوښتنه وکړه کۀ د دغه ادبي شخصيت نوم راته وښايئ نو زۀ به پرې هم څۀ ليکل وکړم۔ هغۀ راته ووئيل چې کله غونډې ته راشې نو په خپله به درته معلومه شي چې دغه شخصيت څوک دے۔ زما په زړۀ کښې راغلۀ چې دغه شخصيت به زۀ يم۔ څو ورځې پس به د پښتونخوا خواوشا نه شاعران راغونډ شي او زما په درناوي کښې به نظمونه وائي۔ ما ته به د عقيدت پېرزوئېنې وړاندې کوي خو د ښاغلي رضوان د مسکيتوب او خوشحالۍ نه معلومه شوه چې دغه شخصيت هغه په خپله دے۔

www.pukhto.net

زۀ په خپله نۀ د ډاکټر محمد زبېر حسرت غوندې تکړه ليکوال يم چې د يو شاعر يا شخصيت د ادبي قد او قامت جائزه واخلم او نۀ د ښاغلي ساحل يوسفزي غوندې خاکه نګار يم چې په ګپ شپ کښې سرے توت ته وخېژوم او په بکيانه ئې راکوز کړم- ما خو ښاغلي رضوان ته په وخت وئيلي وو چې ما ستاسو شاعري اورېدلې ده خو تحريري طور ماسره هېڅ قسمه شاعري موجود نشته- هغۀ راسره وعده وکړه چې په دې څو ورځو کښې به درته خپل يوڅو شعرونه درواستوم خو تراوسه د هغۀ د شاعرۍ هېڅ قسمه نمونې په ګوتو نۀ شوې- د پښتو متل دے چې "په جنګ کښې اسونه نۀ څرېږي" نو ځکه زۀ هم د ښاغلي رضوان د شخصيت باره کښې دومره ژورې ته کوزېدل نۀ غواړم بلکې په لنډو ټکو کښې د ښاغلي رضوان په شخصيت يو څو خبرې ليکل ضروري ګڼم-

ښاغلي رضوان سره زما وړومبے ملاقات په کال ۱۹۸۷ء رستم بازار کښې شوے وۀ- د هغې نه پس زما او د هغۀ ملاقاتونه په ادبي غونډو کښې کېدل- دا ننني ملاقات هم د دغه تسلسل يوه اهمه کړۍ ده- په دې دومره ډېره موده کښې زما نور ځنې ادبي دوستان چې د يارانې دعوې به ئې کولې، د شپې ټوله شپه به زما په مېلمه ځاے کښې ماسره څنګ په څنګ ناست وو، څوک رانه د پېښور په لويو لويو هوټلونو او بازارونو کښې پټ شول او ځنې دوستان د پېښور ټېلي ويژن سنټر په رنګينو کښې ورک شول نو ځکه زۀ نن د ښاغلي رضوان شاه رضوان د شخصيت ستائېنه کوم چې هغه نۀ خو په چا خرڅ شوے دے او نۀ د ځانه او يا زما نه ورک شوے دے- هغه چې څنګه ماپه وړومبي ځل ليدلے وۀ نو ما

www.pukhto.net

محسوسه کړي وه چې ښاغلے رضوان يو مينه ناک، د پستې او خوږې ژبې خاوند دے او نن هم زهٔ د دې خبرې اعتراف کوم چې په ښاغلي رضوان کښې دغه خوبي اوس هم موجود دي.

د ښاغلي رضوان په ژوند کښې کهٔ هرڅومره تراخهٔ راغلي دي، ښهٔ په نره ئې زغملي دي. د خپل لوے مالک نه علاوه ئې چاته فرياد نهٔ دے کړے. خپل غم خو خپل غم دے هغه لکه د خټکو قبيلې پردي غمونه هم ژړلي دي. دغه رنګه کهٔ په ادبي مېدان کښې ئې چاله د ملګرتيا لاس ورکړے دے هغه ئې په نيمه کښې پرېښے نهٔ دے. د مينې او خلوص قائل دے، لکه د يوې ګورې ونې په خپل مقام ولاړ دے.

لکه ونه مستقيم په خپل مقام يم
کهٔ خزان راباندې راشي کهٔ بهار(۱)

## حوالې


1) عبدالرحمان، د رحمٰن بابا کليات، تحقيق، ترتيب او سمونه، دوست محمدخان کامل، قلندرمومند، پېښور، کال۱۹۸۴ مخ، ۹۰


۱۰مه جولائي ۲۰۱۰ء

www.pukhto.net

# نورالرحمٰن دراني

نورالرحمٰن درانے د مردان د غزلزارې زمکې يو داسې خاموش طبعه انسان او ښۀ شاعر وۀ چې د دې زمکې يو سترګه ور شاعر به ترېنه انکار ونۀ کړے شي. داسې شاعر چې د خپلو پردو نه مرور، د دومره نااميدۍ، بې وسۍ، د زړۀ د دردونو، د ژوند د حادثو او مصيبتونو سره د نولس سوه شپږ نوي د درېمې مياشتې په يويشتمه نېټه د زيارت په ورځ (۲۱مارچ۱۹۹٦) د دې دنيا نه لاړۀ نو يقيناً چې ډېرو ښاغليو به دا حقيقت تسليم کړے وي چې هغۀ په ډېره نره د دومره تکليفونو مقابله په يوائې ځان وکړه. ځکه چې د ژوند کومو کړمو ته درانے يوائې لکه د غر ولاړ وۀ، په دې کښې ورسره ډېرو کمو شاعرانو او ملګرو ملګرتيا کړې ده.

ښاغلي نورالرحمٰن دراني سره زما ليدۀ کاتۀ په کال نولس سوه شپږ اتيا (۱۹۸٦)کښې شوي وو. د هغۀ د کمرې دروازه به هره جمعه سحر او مازيګر د ټولنې د ملګرو د پاره ببرته پرته وه خو چې

کله کله به غصه شۀ نو نېغ په نېغه به ئې سړي ته وئيل چې دا وخت ستاسو د راتلو دے. تاسو ځان ته شاعران وايئ چې د ټولنې د راغوندېدو وخت ځلور بجې وي نو تاسو پنځۀ بجې راځئ او چې شپږ بجې وي نو تاسو اووۀ بجې راځئ. دا ستاسو کار دے. خو د هغۀ ملګري د هغۀ د غصې نه خبر وو چې اوس لږ ساعت پس به بيا مسکے شي.

ماته چې کله د "پښتو نوې ادبي ټولنې مردان" د صدارت اختيار ترلاسه شۀ نو زۀ به د ملګري دراني صېب سره ډېر کښېناستم او تر ډېره وخته پورې به ورسره ناست وم. په دغه ورځو کښې يوه ورځ چې د ماښام د مانځۀ نه پس د خاکسار منزل په پوړو د دراني صېب د ليدو د پاره لاړم نو څۀ ګورم چې درانے ملګرے د کټ نه لاندې پروت وۀ، سلګۍ ئې وهلې. ماسره غم شۀ چې ګني مړ کېږي خو د ډېرو ملګرو له خُلې مې اورېدلي وو چې په دوي باندې کله ناکله دا قسمه چپه راځي. د لاسه مې ونيوۀ او کټ ته مې وخېژوۀ. ښه وه د زړۀ حرارت ئې په ځاے شۀ.

د ښاغلي دراني ټوله شاعري د هغوي د ژوند د حالاتو ترجمانه شاعري ده. ترکومه چې د هغۀ د مرګ تعلق دے نو هغۀ خو څو څو ځله ځان په مړ حساب کړے دے:

ما وې درانيه مرګ دې راغے نن
زړۀ کښې مې اورونه بلېدل چې تلے

يا لکه دا شعر به ئې وګورو:

چا وې درانے له غمه مړ شولو
چا وئيل ژوندے شۀ په کتو کتو

www.pukhto.net

ما چې د خپل مضمون په ذکر شوې برخه کښې د ښاغلي دراني صېب د تکليفونو او د بې وسۍ ذکر وکړۀ چې هغه ئې په يوائې ځان مقابله کړې ده- نو داسې ملګري هم شته چې د ډېر نژديکت باوجود د هغۀ نه ډېر لرې پاتې شوي دي- او دا هرڅۀ يوائې د هغوي د ژوند د حالاتو نه ثابته نۀ ده، د هغوي د شاعرۍ نه هم مونږ ته دا ظاهرېږي چې د راحت په ورځو کښې د هغۀ ملګري ډېر وو، څۀ شاعران او څۀ خواږۀ ياران- خو د ژوند د تکليفونو په ورځو کښې د هغۀ نه ډېر ملګري ناخبره پاتې شوي دي- او د دې په حقله ښاغلي دراني څو کاله وړاندې هم داسې وئيلي وو- دې شعر ته وګورئ:

راحت کښې مې ملګرو بې شمېره خپلولۍ وے
ملګري مې څوک نۀ وو د کړون په لاره لاره

ما چې ترېنه يوه ورځ پوښتنه وکړه چې تنقيدي غونډې خو هم نۀ کېږي- څنګه چل دے؟ نو هغۀ راته وئيل چې يارانو خو ټولنه ايف جي ماډل سکول ته وړې ده- خو بيا هم دلته کله ناکله ملګري د چکر د پاره راځي- يو څو ورځې وړاندې انور مظلوم راغلے وۀ، هاغه بله ورځ نهار اعوان هم راغلے وۀ، مصباح هم کله ناکله راځي، هن شاهدانور شاهد هم پرون ماښام راغلے وۀ، يار هغه دولت علي عدنان خو مکمل ورک شوے دے- خو بيا ئې ماته په خندا کښې وئيل چې تانه خو هم ځان ورک شوے دے هډو پته دې نۀ لګي- نو زۀ لږ غلے شوم ځکه چې د هغۀ خبره سپينه وه، سړي ته به ئې سپينې سپينې او رښتيا رښتيا خبرې کولې-

www.pukhto.net

ښاغلي دراني صېب په خپله شاعرۍ کښې ځاے په ځاے د دې دنیاګۍ په چاپېر چل او د دې معاشرې په خلقو تنقیدونه هم کړي دي، په کومه کښې چې دوست، دښمن، رهبر او رهزن څوک پېژندے نۀ شي ځکه خو ئې په اسانو ټکیو کښې دغه خامۍ په ګوته کړي دي:

داځنګه دنیاګۍ ده، دوست دښمن پېژندے نۀ شي
هم لار وهي هم لار ښائي رهزن پېژندے نۀ شي

ښه شاعري هغه ده چې هر یو اورېدونکے او لوستونکے ئې د خپل زړۀ اواز وګڼي-زۀ تاسو ته د ښاغلي دراني صېب د شاعرۍ نه یو څو شعرونه وړاندې کوم:

زړۀ به مې وچوي له خفګانه مۀ ځه
مۀ ځه اشنا زما له خوا نه مۀ ځه

قلم په لاس کاغذ ته ګورم او سوچونه کؤم
ښکلي اشنا ته د خط څنګه سرنامه ولیکم

کچکول په غاړه کړے درانے ځي له وطنه
تارونه د رباب چېړي د یُون په لاره لاره

دا او دغسې نور ډېر شعرونه او غزلے دي-د کومې په ثبوت چې مونږه ښاغلے درانے صېب د مردان د ښو شاعرانو په صف کښې شمېرلے شو-زما دعا ده چې الله دې ښاغلي دراني صېب له په جنت الفردوس کښې ځاے ورکړي-زۀ په اٰخره کښې خپل مضمون د ښاغلي دراني صېب هم په دې شعر سرته رسوم چې:

www.pukhto.net

دراني خيال دې له نظره مۀ شه
هره مصرعه دې د پښتو ډکه ده

۳۰م مارچ ۱۹۹٦

# محمود ــ يو زلمے شاعر

خاکسار منزل مردان ته مخامخ چې د زړې اډې په مېنځ کښې سبزي منډۍ ته کومه لاره تلې ده نو په دغه لاره چې د مردان هر شاعر ليکوال تېرېږي نو د اوچې مېوې د يو دوکان نه به ورته يو اواز وشي چې "داسې غلے مۀ تېرېږه، راځئ چايے وڅښئ، شربت وڅښئ، هن دا چلغوزي، بادام او غوزان وخوره" ولې چې هغه د مردان په هر شاعر مئين دے۔ هر شاعر سره د خپلې خوږې مينې اظهار کوي چې څوک ورسره دوکان کښې کښېني نو خپلې شل دېرش غزلې به ورته واوروي خو بل چا له د يو شعر اورولو موقع نۀ ورکوي۔ دغه په پښتو مئين زلمے شاعر محمداجان محمود دے چې د پښتو ادب په مېدان کښې لادومره متعارف شوے نۀ دے۔ د دې اصل وجه دا ده چې کۀ يو طرف دا زلمے شاعرانو سره مينه ساتي، هر شاعر ئې خوښ وي نو بل طرف ته دا زلمے د ادبي محفلونو نه ډېر لرې پاتې شوے دے۔ محمداجان چې د خپل ژوند غمونو او حادثو ته ګوري نو شعرونه ليکي، غزلې جوړوي او د ژوند غمونه او حادثې په نغمو کښې نغاړي څکه خو وائي:

www.pukhto.net

د ژوند د دې غمونو نه غزلې جوړوم
د وخت خواږهٔ دردونه په نغمو کښې پېوم

محمداجان محمود چې د پلار نوم ئې شېراعظم خان دے په کال ۱۹۷۱ء د څلورمې میاشتې په شپاړلسمه نېټه ئې سترګې غړولې دي- د بنګړو شور ورله ډېره مزه ورکوي خو د ښکلیو مصنوعي شوخي نهٔ خوښوي ځکه خو وائي چې:

هسې شوخي جانانه خوند نهٔ کوي
شور چې بنګړي دې په مړوند نهٔ کوي

د دې نه ئې خبر نهٔ یم چې د مېخانو شوق لري او کهٔ نه، شراب ئې چرته څښلي دي او کهٔ نه خو په خپلو شعرونو کښې د مېخانو ذکر څهٔ په دې ډول کوي:

زاهده مهٔ کړه نصیحت محمود ته
بلها مئین په مېخانو پراتهٔ دي

سره د دې چې ډېر شاعران دا وائي چې محمود دومره نهٔ دے ځومره چې دې شعرونه لیکي خو د هغهٔ د غزل شعر دے چې:

د ډیوې لاندې تیارهٔ وي دا متل دے
په محمود د ناقدانو به تل شک وي

هغهٔ خپل ځان لکه د فرهاد غوندې په مینه کښې اوتر ګڼي خو ځان له سر نهٔ ماتوي، د وخت مقابله کوي او د خپلې وروکې مینې په تلاش کښې دے:

د فرهاد په شان اوتر يم
د شيريني په تلاش کښې

هغه د خپل منزل په لټون دے، مخ په وړاندې روان دے۔ د غېر غمازيانو هډو پروا نهٔ ساتي ولې چې هغه خپل ځان د دوي نه بې پروا ګڼي لکه دا شعر:

خپل منزل ته په پرواز يم
بې پروا د غېر غماز يم

محمداجان، محمود دے، جانان ئې اياز دے، د خپل اياز جانان په مينه پوره باور لري ځکه ورته وائي چې تهٔ محمود شه او زهٔ به اياز شم لکه ستا په شان به زهٔ هم په تا ځان قربانوم لکه چې په دې شعر کښې ئې وئيلي دي:

سر به تا باندې قربان کړم
تهٔ محمود زهٔ به اياز شم

محمود نوري هم ډېرې ښې ښې غزلې ليکلې دي زهٔ تلو ته د مضمون په اخر کښې د هغهٔ يو څو شعرونو لړ کوم:

زړهٔ دې زما د ځان سره پاتې کړهٔ
په نيمه لاره کښې خانې پاتې شوے

زما د خيال په وران ويجاړه کور کښې
سپين مړوندونه په منګو پراتهٔ دي

www.pukhto.net

محمود خو ستا د محبت په غم کښې
سحر ماښام په ژړېدو سترے شي

ورځپاڼه وحدت
13/9/1993

# خيال ــ يو کم عمره شاعر

د پښتونخوا هره سيمه د پښتو ليکونکيو شاعرانو نه ډکه ده او ضروري نۀ ده چې د دې د پاره د عمر څۀ حد وي ځکه چې ډېر کم عمره شاعران مونږ وينو چې ډېر ښۀ ښۀ ليکونه ئې په مختلفو ورځپاڼو کښې شائع کېږي- په دې کم عمره شاعرانو کښې د پښتو ليکونکي مردان يو روښان فکره شاعر تاج رسول خيال هم دے چې د کال نولس سوه پنځۀ اويايم د شپږمې مياشتې په اوومه نېټه د محترم غلام سخي کره په سکندري کورونو مردان کښې زېږېدلے دے- خيال صېب په خپل زړۀ کښې د مينې او خلوص يوه پاکه جذبه لري او هم په دغه وجه دا زلمے په زور شاعري نۀ کوي بلکې شعرونه په خپله د دې زلمي په سپېځلي ذهن راورېږي ځکه خو د خپل غزل په يو شعر کښې د قام زلمو ته څۀ په دې ډول وائي:

چې ئې روښانه سوچ په زړۀ کښې نۀ وي
هغه زلمي د قام په څۀ کښې نۀ وي

خیال صېب هره ورځ په خیالونو او سوچونو کښې ډوب پروت وي. د پوهانو وېنا ده چې ډېر سوچونه کول په صحت خراب اثر غورزوي خو د خیال صېب سوچونه داسې نۀ دي چې د هغۀ نه نفسیاتي مریض جوړ کړي بلکې د هغۀ فکر تعمیري دے. هغۀ د دوو زړونو د پېوستون کوشش کوي لکه چې وائي:

هره ورځ سوچونه کړم د ځان سره
څوک به مې پخلا کړي د جانان سره

خیال صېب د خپل جانان ظلم، ستم او جور و جفا ته سینه ډال نیولې ده، د خیال صېب جانان هغۀ له د مینې په نوم مسلسل د ظلم زیاتي او د بې رُخۍ سزا ورکوي خو خیال صېب ورته په خپلو شعرونو کښې داسې وائي:

تۀ چې څومره په ما ظلم کړے نو وکړه
ستا په مینه کښې سزا به وي تر کومه

او هم د دې غزل په مطلع کښې د خپل ګل مخي یار ذکر څۀ په دا رنګ کوي:

د ګل مخي یار جفا به وي تر کومه
زما خلۀ باندې ژړا به وي ترکومه

د خیال صېب په زړۀ کښې مینه او محبت غزونې کوي او هم دغه د هغۀ مدعا ده لکه چې وائي:

یو ارمان د محبت مې دے په زړۀ کښې
نور مې یاره مدعا په دنیا نشته

خیال صېب کۀ په خپل زړۀ هر څومره غمژن دے او کۀ هر څومره ئې په زړۀ کښې بې شمېره غمونه دي خو د بل د خندولو

www.pukhto.net

کوشش کوي او په خپله هم خاندي او دا په دې چې خیال صېب د بې شمېره غمونو مقابله کوې شي لکه دې شعر ته به ئې وګورو:

زړهٔ کښې مې بې شمېره ستا غمونه دي
بیا هم درته خپل ځان خندوم اشنا

خیال صېب چې په شوق کښې راشي نو د رباب له ټنګه ډېره ښکلې نغمه پورته کوي خو لکه د ځنو خلقو په شان خپله صفت په خپله نهٔ کوي- هغه د دُرخانۍ مئین ادم خان د رباب د ښکلي ټنګ استاد ګڼي او د دې خبرې حقیقت ئې په دې شعر کښې څرګند کړے دے:

اوس به د رباب تارونه وشلېږي
نهٔ کوم سیالي د ادم خان سره

خیال د یو داسې اشنا په لټون کښې دے چې په هغهٔ کښې لکه د هغهٔ په شان ربښتوني مینه وي- په دې لټون کښې د هغهٔ خیال د دنیا په ګُټ ګُټ ګرځي او څهٔ په دې ډول وائي:

تاج رسول دا خپل زړګے ذرې ذرې کړهٔ
خو د مینې یو اشنا په دنیا نشته

د خیال په زړهٔ کښې د مینې د اور لمبې بلېږي خو دا د مینې داسې لمبې دي چې په چابلېږي نوهغه ئې محسوسوي لکه چې په دې شعرکښې ئې دخپل زړهٔ د لمبو ذکر کړے دے:

زهٔ اشنا په داسې اور کښې سوے یم
زړهٔ مې لمبې اخلي لمبه کېږي نه

تاج رسول خيال د خپل قام هر يو بچے د خپل وطن سرمايه ګڼي، هغه وائي چې زمونږ د وطن دا سرمايه به د خپل هېواد نوم روښانه کوي او امېد کوي چې هم د دوي په کوششونو به په دې وطن کښې خوشحالي او سوکالي راځي لکه چې په خپل يو نظم "د وحدت د باغ ګلونه" کښې وائي:

څکه په ما ګران دي دا عکسونه ماشومان دي
له غمه ناخبره دا ګلونه ماشومان دي
خوږې خوږې خبرې يې زمونږ زړونه خواږۀ کړي
همېش دې وي اباد په دوي کورونه ماشومان دي
د دوي په کوششونو به هم دا وطن ښائسته شي
په زړۀ کښې مې ترې شته دے امېدونه ماشومان دي

اود دې غزل نمانظم په اخره کښې دماشومانوپه مېنځ کښې ولاړ تاج رسول خيال د ماشومانو څومره ښکلې عکاسي کوي:

ستاسو تاج رسول خيال د وحدت ګلونه ستائي
تاو شوي ترېنه څکه ډېر ګلونه ماشومان دي

تاج رسول خيال چې د مردان يو زلمے غزل ليکونکے شاعر دے-زۀ د هغۀ په شاعرۍ خپل مضمون د هغۀ په دې شعرونو سرته رسوم:

سترګې مې د يار له غمه اوچې شوې
اوښکې مې په مخ اوس رابهېږي نا

د بيمار زړګي مې تاسره علاج دے
بل طبيب سره دوا په دنيا نشته

www.pukhto.net

تاج رسول خيال تاته هره ورځ دعا کړي
د ښېرو په ځاے دعا به وي تر کومه

ته د تاج رسول پوښتنه مه کوه
دې ستا په پوښتنه سترے کېږي نا

ورځپاڼه وحدت، 23/12/1992

## ما له خندا راغله

لکه څنګه چې غم او ښادي د وروور او خور په نوم يادېږي نو دغسې ژړا او خندا هم لاژم او ملزوم دي خو زۀ خوش قسمته په دې يم چې ماله اکثر خندا راځي او هغه هم په هغه چا چې څوک رانه خفه کېږي نه ګني نو کۀ نن سبا دې چا پورې وخاندل يا دې چا ته وخاندل نو خداے شته چې سم وکالت به درسره شورو کړي هلکه! لېونيه خو چې درته ئې وخاندل نو څۀ چل وشۀ، تۀ هم ورته وخانده يا تۀ هم ورپورې وخانده کنه، چې بدل په اسانه خلاص شي خو ځه خېر دے دا خبره به په ځاے پرېږدو، خبره به د هغه چا کوو چا پورې چې ماله خندا راغلې وه، زۀ چې د اختر په ورځ دوه نيمې بجې د خپل کور په يوه کمره کښې ناست وم نو د کور يو ماشوم زما خوا له راغے زۀ پوهه شوم چې بهر به څوک مېلمه وي ولې چې د دې نه مخکښې مې هم د تلې اواز ترغوږو شوے وۀ، د بېتک چابيانې مې هم راواخستې د کوره په راوتو سره مې په خپل يو ملګري نظر ولګېدۀ، يو بل له مو د اختر مبارکي ورکړې، ما چې د بېتک ور

لرې کولو نو هغهٔ د لاسه ونيولم او ماته ئې ووې چې ډېر وخت به نهٔ کښېنو، ننئے مازيګرے به د بازار په رنګينو کښې تېر کړو ما له خندا راغله ما ورته ووې دا د اختر ورومبنی ورځ ده کم از کم دوه درې ورځې خو په کور کلي کښې تېرول پکار دي او بيا بازار ته تلل د کومې ضروري دي، د اختر په ورومبنی ورځ دې ضد راخستے دے۔ هغهٔ راته ووئيل چې ګوره انې بانې مهٔ کوه يو ځل مې درته د هنګو، کوهاټ او دتل د رنګينو صفتونه کړې وو اقرار دې وکړو خو چې وخت راغے نو بيا دې د خپلو مصروفياتو فهرست زما په وړاندې کښېښودهٔ۔ ماله خندا راغله خو بيا لږ غلے غوندې شوم او لږ ساعت پس مې يخې او خوږې اوبهٔ د ملګري د پاره مېلمه خانے ته راوويستې۔ ما چې هغهٔ ته وکتل نو ماله خندا راغله۔ ما ورته ووې چې اول دې تادي کوله او اوس دې دواړه پښې د مېز د پاسه اېښې دي، څپلۍ دې وباسلي دي او په کرسۍ کوږ ووږ ناست يې، جوړې سترے شوے يې، هغهٔ راته ووئيل چې نا، داسې هېڅ قسمه خبره نشته، دا خو زما زوړ عادت دے چې زهٔ چرته هم په کرسۍ يا کټ کښې کښېنمه نو د دواړو پښو څپلۍ ضرور وباسم، ماله خندا راغله او بيا د يو څو لحظو نه پس د ملګري مېلمه سره د بازار په طرف روان شوم۔ د اميرافضل خان په بازار تېرېدو سره مې يو خوا ته نظر شهٔ نو ملګري راته ووئيل چې زما په خيال ستا او زما خيالات يو شان دي۔ زهٔ غواړم چې د اختر دا ورومبنی ورځ په "طوفاني شپه" کښې بدله کړو۔ ماله خندا راغله ما ورته ووئيل چې نا د زړهٔ سره زهٔ د پښتو فلمونه نهٔ ګورم۔ او بيا د پښتو فلمونه دا خو د ژبې او ثقافت او د نوي کُول د تباهۍ سوب دے۔ زما ملګري

www.pukhto.net

ماته وکتل څهٔ ئې وئيل غوښتل خو د ژبې او ثقافت په خاطر غلے شهٔ۔ ما له خندا راغله او يو څو قدمه مخ په وړاندې روان شو۔ ملګري ما ته ووئيل چې هاغه وګوره په رښتيا "د قيامت نخښې" دي ما چې ورته وکتل نو د مردان د ديپک ارټسټ شاګردانو ورسره سمه خواري کړې وه۔ ډېره ګڼه ګوڼه وه، د اختر په خوشحالئ کښې د لرې لرې کلو نه او د لرې لرې ځايونو نه لکه زما د بانډځي ملګري په شان ډېر خلق راغلي وو۔ زهٔ خپل ملګري ته په زړهٔ کښې ډېر غصه شوے وم چې هلکه کهٔ دا دومره ګڼه ګوڼه تهٔ وينے نو دوي ته خو ګناه نشته ولې چې نن د دوي د اختر دوېمه ورځ ده مونږه خو هره ورځ د دې بازار په طرف د خپلې خېټې د دوزخ ډکولو په غرض د سحر په خړه کښې روانېږو او د ماښام د تيارې د خورېدو سره سم خپلو کورونو ته ځو۔ کم از کم د اختر دا ورځ خو به مو په خپل کور کلي کښې تېره کړې وه۔ ماله خندا راغله چې زهٔ خپل ملګري د لاسه کلک ونيولم چې نن خو به خامخا دا فلم ګورو نوم ئې ورله "د قيامت نخښې" اېښے دے خامخا به په کښې څهٔ نصېحت اموز کردارونه وي۔ ماله خندا راغله۔ ما ورته ووې چې اول خو دا بهر بوردونه وګوره چې په کومه طريقه جوړ شوي دي، د دې کردارونو نه به څهٔ نصيحت اموز خبرې زده کړې۔ په څهٔ انو بانو مې خپل ملګرے ځان سره يو طرف ته روان کړهٔ خو هغه هم پوره ضدي وهٔ وئيل ئې کهٔ نن دې ماسره يو ځاے فلم ونهٔ کتهٔ نو بيا به مې په کلونو کلونو هم مخ ونهٔ وينے، ماله خندا راغله او په زړهٔ مې دواړه لاسونه کښېښودل، زړهٔ کښې مې ووئيل چې بعضې کارونه خلق د بل د زړهٔ د پاره هم کوي۔ لږ مخکښې چې لاړو نو لوے لوے

www.pukhto.net

بورډونه مې یو بل طرف ته ولیدل، د اختر په خوشحالۍ کښې د چا خوښه وي چې په ځان دې "د قیامت شپه" راولي۔ د دوي نه هم یو دوه خطا شوي دي کۀ یو ورله طوفاني شپه نوم کېږدي نو هغه بل ورله د قیامت نخښې نوم کېږدي او چې دا خلق د قیامت د نخښو په لیدو هم ونۀ ویرېږي نو بیا هم هغه اداکاران وي او هم هغه بې حیا سترګې وي چې د قیامت شپه نوم ورله کېږدي او دغسې په دغه دوران کښې په سوونو خلقو د قیامت شپه تېرېږي۔ ما خپلې سترګې پټې کړې۔ زړۀ کښې مې وئیل چې خبر دے کۀ ما څوک ویني خو چې زۀ څوک ونۀ وینم۔ دوه ټکټونه مې راواخستۀ او دواړه ملګري یو طرف ته کښېناستو۔ سم د کښېناستو سره زما ملګري د پښو نه دواړه څپلۍ وکاږلې۔ ماله خندا راغله۔ ما خپل ملګري ته ووې چې دې ته سنېما وئیلے شي، پاک ځاے نۀ دے چې تۀ ورته خپلې څپلۍ وباسې هغۀ راته ووې چې نن سبا غلاګانې په جوماتونو کښې کېږي، په داسې ځایونو کښې په غلا څوک څۀ کوي۔ دا ځل د مېلمه ملګري په خبره ما له بالکل خندا رانغله ولې چې کله فلم ختم شۀ نو زما ملګري لاندې لاندې کتل شورو کړل چې په دې ونۀ شوه نوبیا ئې د یو څو کسانو لاسونو ته نبغ نبغ او حېران حېران وکتل۔ ماله خنداراغله هغۀ راته په ډېره غصه کښې وکتل او بیائې راته ووئیل چې زمانه نوې نُوزې داخترڅپلۍ چاپټې کړې او تۀ راپورې خاندې۔ ما خپل تندي باندې ډېرې د غم کرښې جوړې کړې، ډېره مې خپله خندا ایساره کړه خو ماله خندا راغله او ورته مې ووې کۀ دا دې یاد وي بیابه جومات ته هم سره د خپلو څپلو تتوځې لکه چې هغه یو شاعر وائي:

www.pukhto.net

نوې څپلۍ دې څوک ئې پتې نۀ کړي
ځکه جومات ته د څپلو سره ځم

ورځپاڼه وحدت
26/6/1992

# ماله خندا راغله

هغه بله ورځ مې سوچ کولو چې دا يو څو ورځې ولې داسې تېرې شوې چې زۀ په کښې خندا ته وزګار نۀ شوم خو بيا مې په زړۀ کښې ووئيل چې ځه خېر داڅۀ خبره نۀ ده ولې چې زما نه مخکښې ښاغلے لطيف پرېشان هم وۀ چې هغه به په خپلو ليکونو کښې اکثر خندل اوس هغۀ هم ځان غلے کړے دے او ما هم د نورو ادبي هلو ځلو فهرست مخې ته اېښے دے. زما لا د ذهن په پردو کښې دا خبرې اوړېدې راوړېدې چې ناڅاپه زما يو ملګرے خالدخان ساحل زما خواله راغے. ماته ئې ووئيل چې زما دا خپل نوم خوښ نۀ دے، زۀ غواړم چې شاعرانو ته ئې په وېنا کښې اسانې وي او هغوي دېر په اسانه زما نوم اخلي ماله خندا راغله، ما ورته ووئيل چې ګوره هسې تېوقې مۀ کوه دا خپل نوم او تخلص دې په خپل ځاے هم ښۀ دے خو هغۀ څۀ عجيبه ضد نيولے وۀ او خامخا ئې د خپل مور پلار اېښودے شوے نوم محمدخالدخان په ادبي دنيا کښې ورک کړو او د ساحل يوسفزي په نوم ادبي دنيا ته راواړاندې شۀ اوس دې زما

ملګري ساحل یوسفزي له خدا ے وس ورکړي چې هم په دې قلمي نوم د پښتو ژبې خدمت وکړي خو اوس ماسره بله ویره پیدا شوې ده هسې نه چې دا اثر نور هم خور شي، ولې چې د دې نه مخکښې زما یو ملګري فاروق احمد قریشي هم داقسمه خواهش ظاهر کړے وۀ او ماله د هغۀ په خبرو هم خندا راغلې وه۔ هغه وائي چې د قریشي په نوم یو څو نور شاعران هم شته لکه مطیع الله قریشي، حامد قریشي، وصال قریشي او داسې نور ډیر شاعران خو ماورته ووئیل چې هر سړے په خپل ځا ے قریشي د ے۔ تۀ ولې خامخا د خپل تخلص دښمن جوړ شو ے یې خو هغۀ ووئیل چې نا خبره داسې نۀ ده، د ښاغلیو شاعرانو نه علاوه نور هم داسې کسان شته چې هغوي خپل نوم سره قریشي لیکي او ماله خندا راغله چې د ښاغلي فاروق احمد قریشي درې ورونه هم شته چې هغوي خپل نوم سره قریشي لیکي لکه خیرالبشر قریشي، ګلزار احمدقریشي او سعید احمد قریشي نو په دې وجه ښاغلے قریشي خپل فریاد کوي او د یوې نوې لارې په لټون د ے خو لا فیصله ئې کړې نۀ ده خو ما له خندا راغله چې زما یو بل ملګر ے سراج بابر هم کله کله په ګپ شپ کښې د نوم بدلولو خبرې کوي، هغه په خندا کښې ماته وائي چې کومو شاعرانو خپل نومونه بدل کړي دي او د پښتو ادب په میدان کښې ئې ځان له مخصوص قلمي نومونه ایښي دي نو هغوي په دې میدان کښې ډیر مخکښې شوي دي۔ د روښان فکره زلمي شاعر سراج بابر د ذکر شوې وینا مطابق چې کومو شاعرانو خپل نومونه بدل کړي دي او په خپل مخصوصو نومونو ادبي دنیا ته راوړاندې شوي دي نو هغوي نن سبا ډیر ښۀ ښۀ لیکونکي یادیږي

www.pukhto.net

او دا خبره ئې تر څۀ حده د منلو هم ده ولې چې په زلمیو لیکونکیو کښې ډېر داسې نومونه دي او ډېر داسې شاعران دي چې هغوي نن سبا د نظم او نثر استاذان ګڼلي شي لکه ښاغلے مسلم شاه مسلم چې اوس ورته خلق اباسین یوسفزے وائي، ښاغلے دیارخان خاموش چې ډېرې ورځې وړاندې ئې د خاموشۍ شونډې پرانستې دي او د روښان یوسفزي په نوم لیکل کوي، تر اوسه پورې چې کوم نومونه زما په یاداشت کښې دي نو په هغوي کښې پوهاند قلندر مومند، پرېشان خټک، حېران خټک، پرېشان داودزے، ساحل افریدے، خاطرافریدے، ساغر افریدے، طاهر افریدے، خېبر افریدے، قېصر افریدے، ناظر شینوارے، بېتاب عادلوي او تنویر شاه کمال داسې ادبي نومونه دي چې ادبي ملګري ئې هم په دې نومونو یادوي حالانکې خپل نومونه ئې دا نۀ دي خو په ذکر شوي نومونو کښې داسې نومونه هم شته چې هغوي وخت د سره هم په دې نومونو لیکل شورو کړي دي او څنې نامې په کښې داسې دي چې هغوي څۀ ورځې پس دا اثر قبول کړے دے او خپل نومونه ئې بدل کړي دي۔ د دوي نه علاوه څنو کسانو صرف په تخلص بدلولو اکتفا کړې ده په هغو کښې حضرت زېبر خاکسار چې بیا حضرت زېبر زېبر شۀ او په زلمیو لیکونکیو کښې ئې ځان له لوے مقام پېدا کړۀ۔ فضل نعیم نعیم د مردان چې د بل شاعر فضل نعیم نعیم نه خبر شۀ نو په ادبي دنیا کښې ئې خپل ځان د یوسفزي نعیم په نامه متعارف کړۀ، رسول خان دلسوز چې د ښاغلي دادمحمد دلسوز د دلسوزیاتو پته ورته ولګېده نو ډېر دردمند شۀ او رسول خان درد ترې جوړ شۀ۔ خدا ے دې وکړي چې د خپلو ادبي ملګرو نه

ښېل شوے ښاغلے رسول خان درد يو ځل بيا د ادبي لارې لاروے شي- دغه شان زما يو بل ملګرے چې اول به ئې د صابر ساقي په نوم ليکل کول خو چې د دې معلومات ورته وشو چې د پښتو ادب په مېدان کښې نور هم ډېر صابران شته لکه ارواښاد ايوب صابر، سلطان محمدصابر، صاحب شاه صابر، فضل الرحمٰن صابر، صابر شاه صابر او رياض صابر نو ډېر بې صبره شۀ او ډېر زر ورته د خپل نوم د دروند والي احساس وشۀ چې نن سبا د سېدولي ساقي په نوم ليکل کوي نو کۀ په داسې حال کښې محمدخالدخان ساحل اوس د ساحل يوسفزي په نوم ليکل شورو کړل نو دا د هر چا خپله خوښه ده چې کوم نوم خوښوي او کوم نوم بدلوي زمونږ مطلب خو د پښتو ژبې د خدمت دے هغه کۀ هرڅنګه او کۀ په هر نوم کېدے شي نو د پښتو ژبې لمن به ډکه ښکاري

ورځپانه وحدت
1/1/1993

# کتابونه

په دې کتاب "څېړنه او تنقيد" کښې چې د کومو کتابونو نه حوالې اخستې شوې دي د هغې تفصيل د هر ليک په اخره کښې له نظره تېرشۀ دلته هم د دغه او څنې نورو کتابونو تفصيل وړاندې کول ضروري ګڼم چې د څېړنې په دوران کښې ترې فائده اخستې شوې ده۔

د لغت کتابونه:


1. کاکاخېل ، بهادرشاه ظفر، ظفر اللغات ، پېښور ، يونيورستي بُک ايجنسي ، کال نۀ لري۔
2. مومند ، قلندر ، صحرائي، "درياب"، پېښور ټېکسټ بک ۱۹۹۴


پښتو کتابونه:


1) انصاري، مرزاخان، ديوان مرزا خان انصاري، مرتبه، همېش خليل، دارالتصنيف پېښور، اول ځل ، ۱۹۵۹ء

2) اعظم، محمد اعظم، پښتو افسانه، تحقيق او تنقيد، پېښور، منظوم عام پرېس، ۱۹۷۲ء
3) امين، امين الحق، ډاکټر، ګوري وريځې، مردان، کال۱۹۸۷ء
4) اسير، احمد علي، پښتو ناول او ناولونه، تحقيق، پېښور، يونيورسټي پبلشرز ۲۰۱۳ء
5) اسرار، اسرارالله، ادراک د ژوند او جانان، مرکه پبلي کېشنز مردان، ۲۰۱۲ء
6) اکبرهوتي، "مور"، د ادبي دوستانو مرکه مردان، اول ځل ۲۰۱۰ء،
7) حسرت، محمد زبېر،ډاکټر "تماشې" لټون او سمونه، پېښور، عامر پرنټ، پبلشرز، اکتوبر ۲۰۱۴ء
8) حسرت، محمد زبېر،ډاکټر، نقش، د پښتو افسانې تحقيقي او تنقيدي مطالعه، پېښور، زرپانه پرنټرز، ستمبر ۲۰۱۰ء
9) حسرت، محمد زبېر، ډاکټر، "کلام" د ساهو ليکونکيو مرکه پېښور، د ادبي دوستانو مرکه مردان، اول ځل، ۲۰۱۰
10) حېران، محمد اقبال، ستوري، تذکره، نوراني کتب خانه پېښور، اکتوبر ۱۹۹۲ء
11) ختهک، خوشحال خان، "کليات خوشحال خان ختهک" (تحقيق، ترتيب، سمونه)، کامل، دوست محمدخان، پېښور، دوېم ځل ۱۹٦۰
12) خوېشکي، ملا ارزاني، د ارزاني خوېشکي کُليات، (مقدمه) ډاکټر پروېز مهجور، پښتو اکېډيمي پېښور يونيورسټي، جون ۲۰۰۵ء
13) وارث خان، ډاکټر، د ازادۍ تحريک، پېښور، ۱۹۸۸ء

www.pukhto.net

14) خيالي، لعل بادشاه ، د پښتو متلونو تهذيبي او لساني مطالعه ، د ادبي دوستانو مرکه مردان، اول ځل ۲۰۱۲ء
15) خيالي ، لعل بادشاه ، "زېږګي" مردان ، پښتو ليکونکي ، ۱۹۹۲ء
16) خيال، فضل مولا، سکونډاري، پېښور، جدون پرېس، اول ځل کال ۱۹۹۲ء
17) داؤد، داور خان ، پروفېسر، پښتو ادب کښې متل ، اول ځل ، پېښور ، جنوري ۱۹۹۰ء
18) داؤد ، داور خان ، پروفېسر، "پښتو فولکلور کښې اړ" جدون پرېس ، جولائي ۱۹۹۷ء
19) رسا، سېد رسول، خودکشي ، ناول ، پېښور، يونيورسټي بک ايجنسي، ستمبر ۱۹۷۲ء
20) رسا، سيد رسول ، مفرور، ناول، پېښور، يونيورسټي بک ايجنسي، ۱۹۲۳ء
21) رسا، سيد رسول، مېخانه، ناول، پېښور، يونيورسټي بک ايجنسي، ۱۹۸۵ء
22) رسا، سيد رسول، مامونې، ناول، پېښور، يونيورسټي بک ايجنسي ، ۱۹۲۳ء
23) رسا، سيد رسول، شمې، ناول ، پېښور، يونيورسټي بک ايجنسي ، ۱۹۷۵ء
24) رضا ، محمد افضل ، ډرامه ، پېښور ، يونيورسټي بک ايجنسي ، اول ځل ، ۱۹۲۵ء
25) سيماب، شېرزمان، ډاکټر، له پېښور تر سپين غره، رپورتاژ، پېښور، عامرپرنټ او پلېشرز، ۲۰۱۶ء

www.pukhto.net

26) سيماب، عبداللطيف، د ژوبل احساس څړيکې، مردان، ۱۹۹۰ء
27) سحر ، نورالرحمان ، ډولۍ ، افسانې، مردان ، د ادبي دوستانو مرکه ، مارچ ۲۰۱۳ء
28) سحر ، نورالرحمان "ځان ئې زړو جامو کښې جوړ کړۀ" ټپه ايزې، مردان، د ادبي دوستانو مرکه، اول ځل ۲۰۱۱،
29) سحر، نورالرحمٰن، د سحر شور،د ادبي دوستانو مرکه مردان، ۲۰۰۹ء
30) طائر، محمدنواز، پروفېسر ، پښتو کښې د ماشومانو سندرې او صوتونه، پښتو اکېډمي، پېښور يوني ورسټي، ۱۹۸۹ء
31) عبدالرحمان، "د رحمان بابا کليات" (تحقيق، ترتيب او سمونه) دوست محمدخان کامل او قلندرمومند ، پېښور، ۱۹۸۴ء
32) عبدالوحيد ، ډاکټر ، خدائي خدمتګار تحريک او پښتو ادب ، تحقيق، پېښور ، پښتو څانګه ، ناچاپ
33) عارف، عبدالرؤف ،ګمان، د ادبي دوستانو مرکه مردان، اول ځل ۲۰۰۹ء
34) عابد ، امتيازاحمد ، تږے نظر ، رحمان ادبي ټولنه مردان، ۱۹۹۲
35) غني، فضل غني، د امېدونو ډيوه، پېښور ۲۰۱۰ء
36) فقير ، فقيرمحمد ، کۀ کابل جان د چا يادېږي، سفرنامه، نوښار ، مرکزي پښتو ادبي جرګه، مارچ ۲۰۱۵ء
37) فرمان، فرمان علي شاه، سيد، زولنې او پېنزېبونه، عامر پرنټنګ ايجنسي پېښور ، کال ۲۰۱۰ء
38) کريمداد ، ديوان کريمداد ، ديباچه، خيال بخاري،پښتو اکېډيمي، پېښور يونيورسټي، اول ځل ۱۹۲۴ء

39) کامل، سلېمان، پښتانۀ محبتونه، د ادبي دوستانو مرکه مردان، اول ځل۲۰۱۰ء،

40) ګل، سيده حسينه، ملکه، ناول، مردان، د ادبي دوستانو مرکه، اول ځل، ۲۰۱۱ء

41) ګل، سيده حسينه، "له مانه مۀ بيلېږه"، دانش خپرندويې ټولنې ځانګه پېښور، ۲۰۰۹ء

42) لواڼے، دولت، د دولت لواڼي ديوان، پښتو ټولنه کابل، اول ځل، ۱۳۵۳ هجري،

43) مخلص، علي محمد، د علي محمد مخلص ديوان، سمؤنه او څېړنه، ډاکټر پروېز مهجور خوېشکي، پښتو اکېډيمي پېښور

44) مومند، قلندر، سباؤن، پېښور، اول ځل ۱۹۷۲ء، مخ ۷۳

45) منګل، اسير، پروفېسر، د پښتو افسانې سل کلن بهير، څېړنه او کره کتنه، پېښور، دانش خپرندويه، ټولنه، اکتوبر ۲۰۱۳ء

46) معيارے غمګين، ژوندي عکسونه، مرتب، ګلزار پښتو ادبي جرګه معيار سيمه، مردان، اول ځل ۱۹۹۰

47) يوسفزے، مجروح، مشتاق، زرکاڼے، پېښور، تاج کتب خانه، اول ځل اګست، ۱۹۹۵

48) يوسفزے خادم، ستړے کاروان، قامي ادبي جرګه مردان، اول ځل۲۰۱۰ء

49) يوسفزے ساحل، يو موټے نرګس، د ادبي دوستانو مرکه مردان، جنوري۲۰۱٦

رسالې:

1. مياشتنۍ مجله، پښتو، پېښور، پښتو اکېډيمي، سمتبر/ اکتوبر۲۰۰۳ء

2. میاشتنۍ پښتو مجله، پېښور، پښتو اکېډیمي، جولائي ۱۹۲۴ء ، دسمبر ۱۹۲۵ء

3. میاشتنۍ مجله، "مزدورجدوجهد" (پښتو)، شماره مئي، اگست ۲۰۰۹ء

د اردو کتابونه:

1. نگار، سنبل ، ډاکټر، اردو نثر کا تنقیدی مطالعه، دارالنوارد لاهور، ۲۰۰۳ء،

2. عابد ، عبدالله جان، ډاکټر، پشتو محاوره ، تهذیبی اور لسانی مطالعه،جدون پرېس پېښور، پښتو اکېډیمي ، ۲۰۰۹ء

3. فتح پوري، فرمان، ډاکټر، نگارِ پاکستان، شماره۱۲، مرتب، کراچي، میکلوډ روډ، ۱۹٦٦ء

د انگرېزۍ کتابونه:

1. The Encyclopedia Americana Vol,20, 1958,
2. Maria leach, standard Dictionary of folk lore, mythology and legned. Vol.1 new yark 1949.

www.pukhto.net

# پېژندګلیو

نوم او تخلص: لعل بادشاه خيالي
د پلار نوم: اروابښاد نصرالله خان
د پیدا وښت نېټه: ۲۰م اپرېل ۱۹۶۹
پېشه: درس و تدریس
زده کړه: ایم اے پښتو، ایم اے اردو
ایم ایډ، ایم فل

## چاپ کتابونه:

زبېرګي، شعري مجموعه، ۱۹۹۲
لاروي، شعري مجموعه (تذکره) ۱۹۹۴
د پښتو متلونو تهذيبي او لساني مطالعه (تحقيق) ۲۰۱۲
(اېوارډونه) اباسين ارټس کونسل پېښور ۲۰۱۳
حافظ الپوری اېوارډ شانګله ۲۰۱۳
خېړنه او تنقيد، جنوري ۲۰۱۷ء

## نا چاپ اثار:

1. ادبي دوستان (نثر)
2. مزدورجدوجهد یوه مطالعه (نثر)

استوګنه: فارم کورونه خيالي اباد مردان
رابطه نمبر: 0312-8182613